# فقه المبتدي

## عبادات

( د لمانځه ، زکات ، روژې او د حج احکام )

اول ټوک

( ۱ )

مؤلف :

مولوي محمد عمر ( خطابي )

خپرونکې اداره :

خطابي دارالاشاعة

د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا :
www.taleemulislam-radio.com

سبحانه وتعالي

# عبادات

# فقه المبتدي

## اول (۱) ټوک

## د لمانځه، زکات، روژې او د حج احکام

مؤلف :

مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکې داره :

خطابي دارالاشاعة

کندهار افغانستان

اړیکه :

۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : فقه المبتدي (اول ټوک)

مؤلف : مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکی اداره : خطابي دارالاشاعة کندهار افغانستان

د چاپ وار : مسلسل

پاملرنه : په تعلیمي ادارو یعني مدارسو ، مکاتبو ، مساجدو کورسونو او تعلیمي حلقو کي صحیح تعلیمي نصاب زیات اهمیت لري ، ځکه نصاب د طالب العلم علمي مسیر ټاکي .

صحیح تعلیمي نصاب یوازنی لار ده، چي په تطبیقولو یې طالب العلم د علم و مقصودي منزل ته په رسېدلای سي .

صحیح تعلیمي نصاب د استاذ او تعلیمي ادارو محنتونه مثمر او هم هڅوی د تحسین وړ او سرلوړي کوي .

د صحیح عقیدې ، دیني احکامو ، اسلامي اخلاقو ، لیک لوست حساب او سالمي روزني د پاره زموږ له خوا څخه ترتیب سوی نصاب د ابتدائیه دورې په صنفونو کي په تجربه رسېدلی او الحمدالله په ډېرو مدارسو او شخصي تعلیمي حلقو کي منل سوی نصاب دی .

# فهرست


| شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | خطبه | ۱ |
| ۲ | لمونځ | ۴ |
| ۳ | د اوداسه فرضونه | ۷ |
| ۴ | د اوداسه سنتونه | ۸ |
| ۵ | د اوداسه مستحبات | ۱۰ |
| ٦ | د اوداسه ماتونکي | ۱۱ |
| ۷ | غسل | ۱۳ |
| ۸ | د غسل سنت طریقه | ۱۴ |
| ۹ | د غسل واجبونکي | ۱٦ |
| ۱۰ | سنت غسلونه | ۱۷ |
| ۱۱ | د اوبو احکام | ۱۸ |
| ۱۲ | رواني اوبه | ۱۹ |
| ۱۳ | ولاړې اوبه | ۲۰ |
| ۱۴ | فصل (په لږو اوبو کې د حیوان مرګ) | ۲۲ |
| ۱۵ | څرمن | ۲۴ |
| ۱٦ | هډوکي او وریښتان | ۲۵ |
| ۱۷ | د څاه احکام | ۲٦ |
| ۱۸ | فصل (په څاه کې د حیوان پړسېدل) | ۲۷ |
| ۱۹ | فصل (د څاه څخه حیوان ژوندی راکښل) | ۲۸ |
| ۲۰ | فصل (په څاه کې د حیوان مړ کېدل) | ۳۰ |
| ۲۱ | د مردارېدو وخت | ۳۲ |
| ۲۲ | تیمم | ۳۵ |
| ۲۳ | د تیمم طریقه | ۳۹ |
| ۲۴ | د موزو مسح | ۴۲ |
| ۲۵ | د جبیرې مسح | ۴۴ |
| ۲٦ | معذور | ۴٦ |
| ۲۷ | حقیقي نجاست | ۴۸ |
| ۲۸ | د کالو او ځای پاکي | ۵۰ |
| ۲۹ | د اوداسه ښه والی | ۵۲ |
| ۳۰ | د لمانځه وختونه | ۵۵ |
| ۳۱ | مکروه وختونه | ٦۰ |
| ۳۲ | آذان او اقامت | ٦۲ |
| ۳۳ | د آذان ښه والی | ٦۵ |
| ۳۴ | د لمانځه شرطونه | ٦٦ |
| ۳۵ | د عورت پټول | ٦۷ |
| ۳٦ | مخ پر قبله درېدل | ٦۸ |
| ۳۷ | نیت کول | ۷۰ |
| ۳۸ | د لمانځه رکنونه | ۷۱ |
| ۳۹ | د لمانځه طریقه | ۷۲ |
| ۴۰ | فصل | ۸۹ |
| ۴۱ | د لمانځه واجبات | ۹۰ |
| ۴۱ | د لمانځه سنتونه | ۹۲ |
| ۴۲ | د لمانځه آداب | ۹۴ |
| ۴۳ | د جماعت ښه والی | ۹٦ |
| ۴۴ | د جماعت پرېښونکی سزا | ۹۸ |
| ۴۵ | د جماعت ورتیا | ۹۹ |

# فهرست


| شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۴۶ | فصل | ۱۰۰ |
| ۴۷ | صفونه | ۱۰۲ |
| ۴۸ | د جماعت طریقه | ۱۰۴ |
| ۴۹ | فصل (مدرک، لاحق، مسبوق) | ۱۰۷ |
| ۵۰ | مسبوق | ۱۰۸ |
| ۵۱ | فصل (د لمانځه په منځ کې جماعت درېدل) | ۱۱۲ |
| ۵۲ | د سهوي سجده | ۱۱۷ |
| ۵۳ | د سهوي واجبونکي | ۱۱۸ |
| ۵۴ | فصل (د لمانځه په رکعتونو کې شکمن کېدل) | ۱۲۲ |
| ۵۵ | د تلاوت سجده | ۱۲۴ |
| ۵۶ | فصل (د تلاوت د سجدې کولو طریقه) | ۱۲۵ |
| ۵۷ | د مریض لمونځ | ۱۲۷ |
| ۵۸ | د سفر مسافه | ۱۳۰ |
| ۵۹ | د سفر احکام | ۱۳۱ |
| ۶۰ | د مسافر لمونځ | ۱۳۲ |
| ۶۱ | اقامت (ځایي توب) | ۱۳۴ |
| ۶۲ | د جمعې لمونځ | ۱۳۶ |
| ۳ | د جمعې خطبه | ۱۳۹ |
| ۶۴ | اخترونه | ۱۴۲ |
| ۶۵ | د اختر د لمانځه طریقه | ۱۴۴ |
| ۶۶ | د تشریق تکبیرونه | ۱۴۷ |
| ۶۷ | د ترندي لمونځ | ۱۴۹ |
| ۶۸ | استسقاء | ۱۵۱ |

| شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۶۹ | تراویح | ۱۵۳ |
| ۷۰ | د ویري لمونځ | ۱۵۵ |
| ۷۱ | زکندن | ۱۵۷ |
| ۷۲ | د کلمې تلقین | ۱۵۸ |
| ۷۳ | د مړي غسل | ۱۵۹ |
| ۷۴ | کفن | ۱۶۱ |
| ۷۵ | د کفن طریقه | ۱۶۳ |
| ۷۶ | د جنازې لمونځ | ۱۶۵ |
| ۷۷ | فصل (د اسقاط یا نقسان مسایل) | ۷۰ |
| ۷۸ | قبر | ۱۷۱ |
| ۷۹ | شهید | ۱۷۲ |
| ۸۰ | ارتثاث | ۱۷۴ |
| ۸۱ | قضاء | ۱۷۶ |
| ۸۲ | زکات | ۱۸۱ |
| ۸۳ | د زکات فرضیت | ۱۸۳ |
| ۸۴ | پور | ۱۸۴ |
| ۸۵ | نصاب | ۱۸۵ |
| ۸۶ | د ژوندانه اړتیاوي | ۱۸۶ |
| ۸۷ | تجارتي مالونه | ۱۸۷ |
| ۸۸ | د زکات نیت | ۱۸۸ |
| ۸۹ | تملیک | ۱۹۰ |
| ۹۰ | اباحت | ۱۹۱ |
| ۹۱ | د سرو زرو نصاب | ۱۹۲ |

# فهرست


| شماره | سرلیک | مخ | شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹۲ | د سپینو زرو نصاب | ۱۹۳ | ۱۱۶ | د روژې ماتونکي | ۲۳۳ |
| ۹۴ | دینار او درهم | ۱۹۴ | ۱۱۷ | اعتکاف | ۲۳۶ |
| ۹۵ | د کال تیرېدنه | ۱۹۷ | ۱۱۷ | حج | ۲۳۹ |
| ۹۶ | تجارتي مالونه | ۱۹۹ | ۱۱۹ | د حج فضیلت | ۲۴۱ |
| ۹۷ | څاروي | ۲۰۰ | ۱۲۰ | د حج فرضونه | ۲۴۳ |
| ۹۸ | د اوښانو زکات | ۲۰۱ | ۱۲۱ | احرام | ۲۴۴ |
| ۹۹ | د غوایو زکات | ۲۰۲ | ۱۲۲ | عرفات | ۲۴۶ |
| ۱۰۰ | د پسو زکات | ۲۰۳ | ۱۲۳ | د عرفات وخت | ۲۴۷ |
| ۱۰۱ | د آسانو زکات | ۲۰۴ | ۱۲۴ | فرضي طواف | ۲۴۹ |
| ۱۰۲ | فصل (د کال په مینځ کې ګټه کول) | ۲۰۵ | ۱۲۵ | میقات | ۲۵۰ |
| ۱۰۳ | عشر | ۲۰۶ | ۱۲۶ | د حج وخت او ډولونه | ۲۵۴ |
| ۱۰۴ | د زکات مصرف | ۲۰۷ | ۱۲۷ | افراد | ۲۵۵ |
| ۱۰۵ | فصل (چاته چې زکات نه صحیح کېږي) | ۲۱۰ | ۱۲۸ | طواف قدوم | ۲۵۸ |
| ۱۰۶ | سرسایه | ۲۱۳ | ۱۲۹ | اضطباع | ۲۵۹ |
| ۱۰۷ | روژه | ۲۱۵ | ۱۳۰ | د طواف نیت | ۲۵۹ |
| ۱۰۸ | د روژې تعریف | ۲۲۰ | ۱۳۱ | استلام | ۲۶۰ |
| ۱۰۹ | د شعبان نوېشتمه | ۲۲۲ | ۱۳۲ | رمل | ۲۶۲ |
| ۱۱۰ | د میاشتې لیدنه | ۲۲۴ | ۱۳۳ | د طواف لمونځ | ۲۶۴ |
| ۱۱۱ | اختلاف مطالع | ۲۲۶ | ۱۳۴ | د صفا او مروا سعی | ۲۶۵ |
| ۱۱۲ | مریض | ۲۲۹ | ۱۳۵ | د صفا او مروا دعا | ۲۶۶ |
| ۱۱۳ | مسافر | ۲۳۰ | ۱۳۶ | د اتم ورځ | ۲۶۷ |
| ۱۱۴ | شیخ فاني | ۲۳۱ | ۱۳۷ | منی | ۲۶۸ |
| ۱۱۵ | د روژې نه ماتونکي | ۲۳۲ | ۱۳۸ | عرفات | ۲۶۹ |

# فهرست


| شماره | سرلیک | مخ | شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹ | خطبه | ۲۷۰ | ۱۵۱ | تمتع | ۲۸۸ |
| ۱۴۰ | افاضه | ۲۷۱ | ۱۵۲ | قرباني | ۲۹۲ |
| ۱۴۱ | مزدلفه | ۲۷۲ | ۱۵۳ | قران | ۲۹۴ |
| ۱۴۲ | غټ شیطان | ۲۷۴ | ۱۵۴ | جنایات | ۲۹۹ |
| ۱۴۳ | تلبیه ختمول | ۲۷۵ | ۱۵۵ | دم | ۳۰۰ |
| ۱۴۴ | سرخریل | ۲۷۵ | ۱۵۶ | صدقه | ۳۰۱ |
| ۱۴۵ | فرضي طواف | ۲۷۶ | ۱۵۷ | جماع کول | ۳۰۳ |
| ۱۴۶ | د اختر دوهمه ورځ | ۲۷۷ | ۱۵۸ | ښکار کول | ۳۰۵ |
| ۱۴۷ | د اختر ځلرمه ورځ | ۲۷۹ | ۱۵۹ | فصل | ۳۰۶ |
| ۱۴۸ | طواف صدر | ۲۸۰ | ۱۶۰ | بې اودسه طواف کول | ۳۰۷ |
| ۱۴۹ | عمره | ۲۸۲ | ۱۶۱ | د واجبو پرېښوول | ۳۰۹ |
| ۱۵۰ | د عمرې طریقه | ۲۸۳ | ۱۶۲ | احصار | ۳۱۱ |

بسم الله الرحمن الرحيم

## خطبة

الحمد لله چې د ایمان په نعمت
ئې نازولي یو او د محمد صَلَّی اللّٰهُ
عَلَیْهِ وَ سَلَّمَ امتیان ئې گرځولي یو ،
الله جَلَّ جَلاَلُهُ مو اِلٰه او معبود دی
د الله څخه ماسیوا بل هیڅ د
عبادت ور او لائق وجود نه لري،

محمد صلى الله عليه وسلم مو
نبي او رسول دی، دده وروسته
الله بل نبي او رسول نه را لیږي،
الله ته قبول یوازنی دین محمدي
دین د اسلام دی چي پر پنځو پایو
یعني دشهادت پر کلمه ، لمانځه ،
زکات ، روژې او حج باندي بنا
دی صلوات الله علیه وعلی اله
واصحابه اجمعین و بعد : دلته د
فقه المبتدي په اول

جلد کي د اسلام د څلورو رکنو یعني د لمانځه، زکات، روژې او د حج طریقه او احکام بیانوو، الله جل جلاله دي په ښه طرز او طریقه د ترتیبولو او بیانولو توفیق را په برخه کي همدا راز د الله جل جلاله څخه غوښتنه لرو چي د فقه المبتدي د پاته جلدونو د تالیف توفیق هم را کړي څو د مبتدي زده کونکو د دریم صنف څخه تر شپږم صنف پوري د فقهي مضمون د لمانځه څخه بیا د میراث تر مسائلو په پښتو ژبه په لنډ ډول بشپړ او تکمیل سي.

و هو المستعان

## لمونځ

لمونځ د اسلام د پنځو بناؤ څخه دوهمه بناء ده د شهادت[1] د کلمي تر ويلو وروسته لمونځ تر ټولو مهمه بناء ده، د لمانځه شپږ شرطونه دي ، اول د بدن پاکي دوهم د کالو پاکي دريم د ځای پاکي څلروم د عورت پټول پنځم مخ پر قبله دريدل شپږم نيت کول.

[1] د شهادت کلمه ولي تر ټولو مهمه بنا ده ؟ ځکه هر څوک چي په اسلام کي دا خليږي نو د هرڅه د مخه هغه بايد د الله جل جلاله په وحدانيت او يو والي او د محمد صلى الله عليه وسلم په رسالت اقرار او اعتراف وکړي يعني اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده ورسوله په خوله ووايي او هم يې په زړه ومني د شهادت د کلمي په ويلو د کافر ځان او مال خوندي کيږي.

د لمانځه اول شرط د بدن پاکي ده ، د لمونځ کونکي بدن باید د حکمي او حقیقي نجاست څخه پاك وي.

(۳) د ایمان وروسته لمونځ ولي تر تولو مهمه بناء ده ؟ ځکه چي لمونځ پر نارینه او ښځي باندي ، پر خان او مسکین باندي هره ورځ پنځه وخته فرض دی ، که چا په ولاړي نسوای کولای په ناستي به ئي کوي ، که چا په ناستي نسوای کولای په پروتي به ئي په اشاره کوي لیکن روژه په کال کي یوه میاشت فرض ده ، زکات بیا یوازي پر خانانو باندي په کال کي یو وار فرض دی او حج بیا په تول عمر کي یو وار یوازي پر هغه چا باندي فرض دی چي د کولو طاقت ئي ولري نو ځکه لمونځ تر تولو مهمه بناء ده.

(۴) د لمانځه شرطونه څه شي ته وايي ؟ د لمانځه شرطونه هغو شیانو ته وايي چي بیله هغو څخه لمونځ نه صحیح کیږي .

(۵) د لمانځه اول شرط څه شی دی ؟ د بدن پاکي .

حکمي نـجاست بي اودسي او جنابت ته وايي ، د بي اودسي څخه بدن په اوداسه پاك کيږي ، اودس ځان ته فرضونه ، سنتونه او مُستحَبّات لري چي تفصيل ئي په راتلونکي ډول دی.

(٦) لمونځ کونکۍ به بدن د څه شي څخه پاك ساتي ؟ د حقيقي او حکمي نجاست څخه .

(٧) حقيقي نجاست څه شي ته وايي ؟ گندگيو ، بولو ، وينو ، او داسي نورو مرداريو ته .

(٨) حکمي نجاست څه شي ته وايي ؟ بي اودسي او جنابت ته .

(٩) د بي اودسي څخه بدن په څه شي پاك کيږي ؟ په اوداسه.

(١٠) د فقهي په کتابو کي ولي اول د اوداسه بحث شروع کيږي؟ ځکه چي اودس يعني د بدن پاکي د لمانځه شرط دی.

## د اوداسه فرضونه

د اوداسه فرضونه څلور دي اول د مخ پريولل دوهم دواړه لاسونه تر څنګلو پورې پريولل دريم د سر څلرمه حصه مسح کول څلرم دواړې پښې تر بجلکو پورې پريولل ، د څنګلو او بجلکو پريولل هم فرض دي ،

(۱۱) د اوداسه فرضونه څه شي ته وايي ؟ و هغو شيانو ته چې بيله هغو څخه اودس نه صحيح کيږي ،

(۱۲) که تندی يا زنه يا د غوږو د نرميو سره يو ځای وچ پاته سي اودس ئي څنګه دی ؟ اودس ئي نه صحيح کيږي ،

(۱۳) آيا د ګوتو د مينځو پريولل هم فرض دي ؟ هو فرض دي ،

# د اوداسه سنتونه

## د اوداسه سنتونه (۹) دي اول دواړه لاسونه تر بندو پورې درې واره پريولل دوهم د اوداسه په شروع کې بسم الله ويل دريم مسواك وهل.

(۱۴) د چکر وروسته په ډبره، لوټه يا اوبو استنجاء وهل څه شي ده؟ استنجاء وهل سنت ده.

(۱۵) که څوك د خوب څخه راکښيني او د ستل يا بل داسي شي څخه اوبه په لاس رااخلي اول به څه کوي؟ اول به دواړه لاسونه تر بندو پوري درې واره پريولي بيا به اوبه په رااخلي.

(۱٦) مسواك وهل څه ګټې لري؟ مسواك وهل خوله پاك کوي او الله راضي کوي او نوري ډيري ګټې لري.

(۱۷) که مسواك نه ؤ څه به کوي؟ د شهادت په ګوته به غاښونه پاك کوي.

ځلرم درې واري د خولې پريولل پنځم

درې واري د پزې پريولل شپږم د غوږو

مسح کول اووم د ږيرې خلالول اتم د

لاسو او پښو د گوتو خلالول نهم هر

اندام چې پريولل کيږي لکه مخ،لاسونه

او پښې هغه درې واري پريولل ٠

(۱۸) خوله څنگه پريولل کيږي ؟ داسې چې اوبه په ولغړول سي

(۱۹) پزه څنگه پريولل کيږي ؟ پدې ډول چې اوبه په سږمو کش کړل سي او بيا بيرته سوغ کړل سي

(۲۰) سر او غوږونه څنگه مسح کيږي ؟ لاسونه چې لانده سي په ورغوو ، څمچو گوتو او وريښې او مياڼځيو گوتو سره سر مسح کيږي او وروسته بيا د شهادت گوتې د غوږو شپيليو ته لويږي او په بټو گوتو د غوږو شاوي مسح کيږي ٠

## د اوداسه مُسْتَحَبّات

د اوداسه مُسْتَحَبّات پنځه دي اول د اوداسه نیت کول دوهم د ټول سر مسح کول دریم اودس په ترتیب سره تازه کول ځلرم په راسته اندام شروع کول پنځم غاړه مسح کول.

(۲۱) د اوداسه نیت څنګه کیږي ؟ داسي چي په زړه کي د بې اودسی د لیري کولو د پاره د اوداسه د تازه کولو قصد وکړي.

(۲۲) د سر مسح څه شي ده ؟ د سر د څلرمي حصې مسح فرض او د ټوله سر مسح کول بیا مستحب ده.

(۲۳) د غاړي څټ او که ستونی مسح کیږي ؟ یا د غاړي یو ارخ او بل ارخ مسح کیږي.

(۲۴) په اوداسه کي د اندامو پرله پسې پریولل څنګه دي ؟ سنت

## د اوداسه ماتونکي

د اوداسه ماتونکي شپږ دي (۱) تش یا دك رگ وهل یا ددې لارو څخه د باد یا یو بل شي راوتل (۲) د بدن څخه وینه ، نو او زړي اوبه و داسي ځای ته راوتل چي هغه ځای په اوداسه یا غُسل کي پریولل کیږي .

(۲۵) که د چا یو ځای وکوتل سي او هلته تر پوست لاندي وینه ښکاره سي اودس ئي څنگه دی؟ اودس ئي صحیح دی ځکه چي تر پوست لاندې ځای په اوداسه او غُسل کي نه پریولل کیږي

(۲٦) که د چا سږمو ته وینه راووځي اودس ئي څنگه دی ؟ اودس ئي مات دی ځکه چي د سږمو پریولل په غُسل کي فرض دي .

(۳) په ډکه خوله قي وهل (۴) پر اړخ بیدیدل یا په ناسي حالت کي بیدیدل چي تکیه ئي وهلې وي یا ئي پر یو شي باندي ځان تکیه کړی وي (۵) بې هوښي یا لیونتوب (٦) بیله جنازي ځنځه په نورو لمونځو کي په زوره خندل .

(۲۵) د لمانځه د ولاړي ، رکوع ، سجدې او ناستې په حالت بیدیدل اودس ماتوي او که ئي نه ماتوي ؟ که ځکي ته غوځار نسي اودس نه ماتوي ځکه چي په سپك خوب اودس نه ماتیږي .

(۲٦) که څوك په ډول یا خوریدلو سره نشه او بې هوښه سي اودس ئي څنګه دی ؟ اودس ئي مات دی .

(۲۷) په لمانځه کي دا ډول په زوره خندل چي د څنګ ملګری ئي واوري اودس ماتوي او که ئي نه ماتوي ؟ یا ماتوي ئي .

# غُسل

## د غُسل فرضونه درې دي اول د خولې پریولل دوهم د پزې پریولل دریم د ټول بدن سر تر نوکه یو وار پریولل ·

(۲۸) د غُسل فرضونه څه شي ته وایي ؟ د غُسل فرضونه و هغو شیانو ته وایي چې بیله هغو څخه ئي غُسل نه صحیح کیږي ·

(۲۹) که چا په غسل کې خوله پرې نه وله غسل ئي څنگه دی ؟ غسل ئي نه صحیح کیږي ·

(۳۰) که چا په غسل کې پزه (سږمې) پرې نه وله غسل ئي څنگه دی ؟ غسل ئي نه صحیح کیږي ·

(۳۱) که د چا نو یا تر گوتمې لاندې یا د بدن یو بل ځای وچ پاته سي غسل ئي څنگه دی ؟ غسل ئي نه صحیح کیږي ·

(۳۲) که د چا یو ځای وچ پاته سي څه به کوي ؟ هغه وچ ځای به پریولي او که بې اودسه سو بیا به غسل د سر څخه راگرځوي ·

## د غُسل سنت طریقه

د غُسل سنت طریقه پدې ډول ده:

اول غُسل کونکی به لاسونه تر بندو پورې پریولي استنجاء به وهي دوهم د بدن یو ځای که ئي مردار ؤ هغه به پریولي دریم بیله پښو څخه به نور اودس تازه کوي.

(۳۳) څه وخت د غسل په اوداسه کي پښې تر غسل وروسته پریولل کیږي ؟ هغه وخت چي پداسي ځای کي غسل کوي چي هلته د غسل اوبه دم دریږي.

(۳۴) که څوك غسل پر میز یا خرنگ کوي هغه به پښې څه وخت پریولي؟ هغه به پښې په اوادسه کي تر نور بدن دمخه پریولي.

څلرم توله بدن به درې واري پريولي

پنځم د هغه ځای څخه به گوبنه سي

دواري پښې به پريولي، پر ښځې باندې

د کوڅيو خلاصول لازم نه دي خو

پدې شرط چې د وريښتانو بيخو ته ئې

اوبه ورسيږي.

(۳۵) په غسل کې د تول بدن پريولل څه شي دي؟ په غسل کې د تول بدن يو وار پريولل فرض دي او درې واري پريولل ئې سنت دي.

(۳٦) ښځه که په غسل کې کوڅې خلاصې نه کړي غسل ئې څنگه دی؟ که د کوڅيو بيخو ته ئې اوبه ورسيږي غسل ئې صحيح کيږي او که نه ورسيږي نو نه صحيح کيږي.

(۳۷) آيا تر گوتمې لاندې ځای پريولل فرض دي؟ هو فرض دي

# د غُسل واجبونکي

## د غُسل واجبونکي درې شیان دي

اول جنابت دوهم حَیض دریم نفاس ۰

(۳۸)جنابت د څه شي څخه پیښیږي؟ د احتلام او جماع څخه ۰

(۳۹) حَیض او نِفَاس څه شي ته وایي ؟ د ښځي میاشتنی مریضي ته حَیض او د لنگون وروسته مریضي ته ئي نِفَاس وایي ۰

(۴۰) د جنابت په وخت کي لمونځ کول ، مسجد ته ننوتل ، طواف کول ، قرآن شریف تلاوت کول یا بیله پوښ څخه لاس وروړل څنگه دي ؟ دا ټول د جنابت په وخت کي ناجائزه دي ۰

(۴۱) د جنابت په حالت کي روژه نیول څنگه ده ؟ صحیح ده ۰

(۴۲)ښځي ته د حَیض او نِفَاس په حالت کم شیان ناجائزه دي ؟ مسجد ته ننوتل ، طواف کول ، قرآن شریف ویل یا بیله پوښ څخه لاس وروړل ، لمونځ کول ، روژه نیول او جماع کول ۰

د جنابت ، حَیض او نِفَاس په حالت کي بیله قراني آیتو څخه نور ذکرونه کول څنگه دي ؟ جائز دي ۰

## سنت غُسلونه

پنځه غُسلونه سنت دي اول د جمعې د لمانځه غُسل دوهم د کوچني اختر د لمانځه غسل دريم د لوی اختر د لمانځه غسل څلرم د عرفات د ميدان د دريدو غسل پنځم د احرام تړلو غُسل.

(۴۲) که په واجب غسل کي د چا بغلونه يا د غوړو شپلی وچي پاته سي غسل ئي څنگه دی؟ غسل ئي نه صحيح کيږي په غسل کي بايد بدن ښه وموړل سي په نو او غوړو کي گوتي ووهل سي چي د بدن يو ځای لا هم وچ پاته نسي.

(۴۳) څوك چي د جمعې او اختر په ورځ غسل وکري ليکن لمونځ په و نه کړلای سي آيا پدې غسل سنت اداء کيږي؟ يا ځکه چي سنت دا دی چي پدې غسل لمونځ وکړي.

## د اوبو اَحکام

اودس او غسل د بارانو ، دریابو ، ولو، کاریزو ، چینو او څاهانو په اوبو سره روا دی که څه هم خړي وي ، د اوبو سره که پاك شی ګډ سي او اوبه د خپل طبیعت څخه وباسي لکه چاى او شربت نو بیا په دغو اوبو اودس او غسل نه صحیح کیږي.

(۴۴) اوبه د خپل طبیعت څخه څنګه وځي ؟ داسي چي رنګ، خوند او بوى ئي واوړي بل شى ځني جوړ سي لکه چاى اوسر که

(۴۵) آیا اودس او غسل په هغو اوبو صحیح کیږي چي صابون او خاوره په ګډه سوې وي ؟ هو بلکل په صحیح کیږي.

روانې اوبه په نَجاست لکه وينو ، بولو او داسې نورو مرداريږي نه مرداريږي پدې شرط چې د مردارۍ رنګ ، خوند او بوی په اوبو کې ښکاره نسي او که اوبه په مردارۍ بدبويه سي يا د مردارۍ خوند او رنګ واخلي بيا په هغه اوبو اودس او لمونځ نه صحيح کيږي که څه هم رواني او بهيږي .

(۴۶) هغه اوبه چې قرار بهيږي څه حکم لري ؟ که بلګ يا خاشې ته ئې حرکت ورکوی د روانو اوبو حکم لري .

## ولاړي اوبه

ولاړي اوبه که لږ وي نو د لږ او ډير نَجاست په ورولیدلو سره مرداريږي او که ډيري وي لکه لوی ناور او حوض نو بيا د هغه بل طرف څخه ئي چي نَجاست نه دی ورولیدلی اودس او غُسل صحيح کيږي ، د ډيرو اوبو اندازه داده چي دوندي حوض يا ناور وي چي په يوه طرف کي ئي څوك اودس تازه کوي د هغه بل طرف اوبه ئي حرکت

و نه کړي ، ځيني علماء وايي هغه ولاړي اوبه چي لس شرعي گزه په لس کي وي ډيري بلل کيږي که يوه طرف ته ئي نـجاست ولويږي د هغه بل طرف په اوبو ئي اودس او غسل صحيح کيږي

(۴۷) شرعي گز ته په عربي څه شي ته وايي ؟ ذِراع .

(۴۸) يو شرعي گز څو سانتي کيږي ؟ يو شرعي گز ۴۶ اعشاره ۵وه کيږي يعني يو شرعي گز تقريبًا نيم متر کيږي .

(۴۹) ولي يو بيلر اوبه په يوه څاڅکي وينه مرداريږي ؟ ځکه چي ولاړي اوبه په لږ څه نـجاست لا هم مرداريږي .

(۵۰) د روانو اوبو څه حکم دی ؟ د روانو اوبو حکم دادی چي د نـجاست په ورولیدلو نه مرداريږي .

(۵۱) ډيري ولاړي اوبه د څه شي حکم لري ؟ د روانو اوبو .

## فصل

( په لږو ولاړو اوبو کي د حیوان مرگ )

هغه حیوانان چي هم په اوبو کي ژوند کوي او هم په اوبو کي زیږي لکه: ماهی ، چنگوښه او چنگاښ دا ډول حیوانان کي په لږو اوبو کي مړه سي او به نه په مرداریږي.

هغه حیوانان یعني حشرات چي بهیدونکي وینه نه لري لکه: مچ ، غوماشه ، غالبوزه او لړم دا ډول حیوانان

کي په لړو اوبو کي مړه سي اوبه نه په

مرداريږي.

هغه حيوانان چي بهيدونکې وينه لري

لکه: پسه ، پشي او چوغکه دا ډول

حيوانان که په لږو ولاړو اوبو کي مړه

سي اوبه په مرداريږي.

(۵۲) د بهيدونکو وينو څخه مراد کمي ويني دي؟ هغه ويني چي د حلالولو په وخت کي ئي د رګو څخه راوځي.

(۵۳)غوماشه هم وينه لري نو ولي ئي په مرګ اوبه نه مرداريږي؟ ځکه چي د غوماشي وينه د رګو څخه بهيدونکې وينه نه ده،

(۵۴) که په يو ستل اوبو کي چنګاښ مړ سي بيا هم دا اوبه ولي پاکي دي؟ ځکه چي هغه حيوانان چي ګزاره او پيدايښت ئي دواړه په اوبو کي کيږي د هغو په مرګ اوبه نه مرداريږي.

## ثرمن

بيله انسان او خنزير څخه بل د هر
حيوان پوست چي پوخ كړل سي يعني
په لمر يا دوا وچ كړل سي او ثرمن
ځني جوړه سي دا پوست پاك گرځي
ددغه پوست څخه چي جانكټ جوړ
سي لمونځ پكښي صحيح كيږي او كه
ژى او غر كه ځني جوړه سي اوبه ئي د
څښلو او اوداسه د پاره پاكي دي.

---

(٥٥) آيا په داسي بالاپوښ او جانكټ كي لمونځ صحيح كيږي
چي د څغال د پوست د ثرمن څخه جوړ سوى وي ؟ هو.

## هډوکي او وریښتان

د انسان هډوکي او وریښتان پاك دي لیکن د انسان د شرافت لکبله د هغه څخه ګټه اخیستل حرامه ده ، بیله خنزیر څخه د نورو ټولو حیوانانو هډوکي او وریښتان پاك دي، د هډوکو څخه ئې که لوښي جوړ سي اوبه ئې پاکي دي او د وریښتانو څخه ئې که ټوکران جوړ سي د لمانځه د پاره پاك دي .

(٥٦) د شرمښ یا مردار پسه د وریښتانو او وړیو څخه که ټوکر جوړ سي دا ټوکر د لمانځه د پاره څنګه دی ؟ پاك دی .

# د څاه اَحکام

څاه ته که مردار شی لکه ، وینه یا د انسان گندگي ولویږي نو د څاه اوبه مرداري دي ، نه چښل کیږي او نه اودس په تازه کیږي ، د پاکولو طریقه ئي داده چي اول به مرداري ځني راکښل کیږي او وروسته به بیا د څاه توله اوبه راکښل کیږي ·

(۵۷) بادونه دښتي څاهانو ته کله ناکله پوچي وراچوي ځکه چي حیوانان پر اوبیږي او سرونه ئي لڅ وي ددې څاهانو اوبه څنگه دي ؟ پاکي دي ځکه چي د اوښانو او پسو په یوه یا دوو پچو څاه نه مرداریږي ·

# فصل

(په څاه کي د حیوان پرسیدل یا شوریدل)

هر لوی او کوچنی حیوان که په څاه کي مړ سي او بیا دوندي وخت هلته پاته سي چي بدن ئي پکښي و شوریږي او یا وپړسیږي څاه په مرداریږي د پاك کولو طریقه ئي داده چي اول به حیوان ځني راایستل کیږي او بیا به د څاه ټوله اوبه راکښل کیږي.

(۵۸) که څاه سم د لاسه اوبه کولې او نه وچیدی نو بیا د ځوندي اوبو په راکښلو څاه پاك کیږي ؟ په څاه کي د موجوده اوبو په اندازه اوبه چي ځني راوکښل سي څاه پاك کیږي،

# فصل

( په څاه کي د حیوان ونیدل بیرته ئي ژوندی راکښل )

بیله خنزیر څخه بل هر حیوان چي څاه
ته ولویږي او بیرته ژوندی راوکښل سي
که بدن ئي د مرداری څخه پاك ؤ او
خوله ئي د څاه په اوبو کي غوټه سوې
نه وه څاه پاك دی او که خوله ئي په
اوبو کي غوټه سوې وه نو بیا ئي و پس
خوردې ته یعني د خولې پاته اوبو ته
کتل کیږي که د خولې اوبه ئي پاکي

وې لکه پسه یا بل حلال حیوان نو د

څاه اوبه پاکي دي او که د خولې اوبه

ئي مرداري وې لکه سپی یا بل مردار

حیوان نو د څاه اوبه مرداري دي۰

(۵۹) مسلمان یا کافر (انسان) چي د یو ئوبني څخه اوبه وڅښي پاته اوبه ئي د څښنګ او اوداسه د پاره څنګه دي ؟ پاکي دي ۰

(۶۰) د کمو حیوانانو او مرغانو د خولې اوبه پاکي دي ؟ د هغو حیوانانو او مرغانو چي غوښه ئي خوړل کیږي۰

(۶۱) د کمو حیوانانو د خولې اوبه مرداري دي ؟ د هغو حیوانانو چي غوښه ئي نه خوړل کیږي ۰

(۶۲) د پشي او موږك او بل دا ډول مردار حیوان چي په کورو کي ژوند کوي د خولې پاته اوبه څنګه دي ؟ مکروه دي۰

(۶۳) د ایله ګرځي او څیرونکو مرغانو لکه باز او تپوس د خولې پاته اوبه څنګه دي ؟ مکروه دي۰

# فصل

( په څاه کي د حيوان مړکيدل )

يو حيوان چي په څاه کي مړ سي او د شوړيدلو او پړسيدلو دمخه بيرته ځني راوكښل سي څاه پدې ډول پاك كيږي:

اول كه حيوان د موږك او چوغكي په شان كوچنى ؤ د حيوان د راايستلو وروسته د شلو څخه تر ديرشو سلواغو په راكښلو څاه پاك كيږي.

دوهم كه حيوان د چرگي او پشي په

شان میانه ؤ د حیوان د راکښلو وروسته

بیا د څلویښتو څخه تر پنځوسو سلواغو

په راکښلو څاه پاك کیږي ۰

دریم که انسان ؤ یا حیوان د پسه او

سپي په شان غټ ؤ بیا د تولو اوبو په

راکښلو څاه پاك کیږي ۰

(۶۴) که څوك په غټ ستل اوبه راکاږي نو بیا ئي حساب څنګه کیږي؟ بیا یو ستل چي څو سلواغي نیسي پر هغوني حسابیږي ۰

(٦٦) د تولو اوبو د راکښلو څه مطلب دی ؟ داچي څاه دوني تش سي چي نیمه سلواغه نوره نه ځني د کیږي

که څاه نه وچیدی آیا د ۲۰۰ یا ۳۰۰ سلواغو په راکښلو څاه پاك کیږي ؟ هو امام محمد رحمه الله وایي پاك کیږي ۰

(٦٧) د اوبو راکښلو وروسته سلواغه او رسی پریوتل غواړي ؟ یا

## د مرداریدو وخت

د شاه د مرداریدو وخت که معلوم ؤ
نو د هغه وخت ښځه د شاه اوبه
مرداري بلل کیږي ، په دغه مده کې که
چا ددې شاه په اوبو اودس تازه کړی ؤ
اودس ئې صحیح نه دی او که لوښې او
کالي ئې په پریولې وه هغه بیرته پریولل
غواړي او که د مرداریدو وخت ئې
معلوم نه ؤ نو بیا و دا حیوان ته کتل
کیږي که شوریدلی یا پرسیدلی نه ؤ د

يوې شپې او ورځې څخه ځاه مردار

بلل کيږي او که شوريدلى يا پرسيدلى ؤ

نو بيا د درو ورځو څخه ځاه مردار بلل

کيږي په دغه مده کي که هر څا ددې

ځاه په اوبو اودس تازه کړى ؤ د هغه

اوداسه لمونځونه به راګرځوي او که ئې

لوښي او کالي په پريولي وه هغه به بيرته

پريولي دا د امام ابوحنيفه رحمه الله تعالى

قول دى امام ابو يوسف او امام محمد

رحمهما الله تعالى وايي ، که د مرداريدو

وخت ئي په يقيني ډول معلوم نه ؤ نو بيا

د همدا اوس گري څخه ثاه مردار بلل

کيږي ددې مخته که چا د ددې ثاه په

اوبو اودس تازه کړی ؤ د هغو لمونځو

راگرځول باندي نسته او هغه لوښي او

کالي هم پريولل نه غواړي چي ددې

ثاه په اوبو مخته پريولل سوي وي.

---

(٦٨) که مړه چوغکه په سلواغه کي راوخيږي او د وليدو وخت ئي معلوم نه ؤ ثاه د څه وخت څخه مردار دی؟ ياران وايي د همدا اوس څخه ثاه مردار دی ددې مخته لمونځو راگرځول باندي نسته او امام صاحب وايي که حيوان شوريدلي يا پرسيدلی ؤ د ٣ ورځو او که نه ؤ نو د ٢۴ ساعتو لمونځونه به راگرځوي.

## تيمم

د حكمي نجاست يعني بي اودسي او جنابت څخه بدن لكه څنګه چي په اوبو پاك كيږي دغه ډول په تيمم هم ځيني وختونه پاك كيږي او هغه وختونه دادي : اول د اوبو نشته والي ، مسافر يا هغه څوك چي د ښار څخه دباندي وتلى وي هغه وخت تيمم وهلاى سي چي د اوداسه اوبه و نه لري او د اوبو ځاى د يوه شرعي ميل يعني د ۱۸۴۸ مترو په

اندازه یا زیات ځني لیري وي.

دوهم د اوبو تاوان ، مریض او جنب

هغه وخت تیمم وهلای سي چي د

اوداسه او غسل لکبله د مریضي د

زیاتیدلو یا د یخ څخه د ځان د مرگ یا

د ناجوړه کیدلو بیره ولري.

(٦٩) پر مسافر چي د لمانځه وخت راسي او تر څلورنیم میله پوري اوبه و نه لري څه به کوي ؟ تیمم به وهي.

(٧٠) که څوك مریض ؤ مثلاً اپریشن ئي کړی ؤ د اوداسه د تازه کولو طاقت ئي نه درلودی یا اودس ئي تازه کولای سوای لیکن تاوان ئي ورته کوی لمونځ به په څه شي کوي ؟ په تیمم.

(٧١) که اوبه گوښه وي چي مسافر هلته ورځي او راځي موټر او گاډئ حرکت ځني کوی څه به کوي ؟ تیمم به وهي

دریم پر اوبو قدرت نه درلودل ، روغ

سړی که څه هم اوبه ورنژدې وي هغه

وخت تیمم وهلای سي چې د ښاه

ښځه اوبه راکښلای نسي یا د دښمن د

بیرې په اوبو غسل یا اودس تازه کولای

نسي .

څلرم د جنازې یا اخترو د لمونځو

تیریدل ، د مړي د نژدې دوست ښځه

ماسیوا بل سړی چې د جنازې د لمانځه

پر وخت اودس و نه لري هغه وخت

تيمم وهلاى سي چي د اوداسه په تازه

كولو كي د جنازې لمونځ ځني تيرېږي

دغه ډول د اختر په لمونځو كي سرى

هغه وخت تيمم وهلاى سي چي د

اوداسه په تازه كولو كي د اختر لمونځ

ځني تيرېږي.

(۷۲) مجاهد ته چي څاه يا واله نژدې بهيږي ليكن كه ورسي دښمن تكان باندي كوي لمونځ به په څه شي كوي؟ په تيمم.

(۷۳) كه د چا څخه د جماعت لونځ يا د جمعې لمونځ تيريدى آيا په تيمم لمونځ ورسره كولاى سي؟ يا، اودس به تازه كوي.

(۷۴) په كمو وختو كي تيمم صحيح كيږي؟ په څلورو اول چي اوبه نه وي دوهم چي اودس تاوان ورته كوي دريم چي اوبه راكښلاى نسي څلرم چي د جنازې او اختر لمونځ ځني تيريږي.

## د تیمم طریقه

د بي اودسي او جنابت د لیري کولو د پاره تیمم پدې ډول وهل کیږي ،

اول په زړه کي د لمانځه د روایښت یا د حکمي نجاست څخه د پاکي د پاره د تیمم نیت او قصد کیږي،

دوهم دواړي خپري یعني لاسونه پر پاکه مځکه باندي وهل کیږي او بیا پر ټوله مخ باندي تیریږي ،

دریم دواړي خپري بیا پر پاکه مځکه

باندي وهل کیږي اول په چپه خپره

راسته لاس د گوتو څخه تر څنگلو

پوري مسح کیږي بیا په راسته خپره چپه

لاس د گوتو څخه تر څنگلو پوري

مسح کیږي او دا درې سره یعني نیت

کول د مخ مسح کول د لاسو مسح

کول په تیمم کي فرض دي ، پر مخ او

لاسو باندي باید دا دول لاسونه تیر سي

چي یو وریښته ځای بي مسح پاته نسي

تیمم لکه څنگه چي پر پاکه خاوره

باندي وهل کيږي دغه ډول پر ريګو ، ګچو ، سميټو ، ډبرو او نورو مځکني شيانو باندي هم وهل کيږي ، په هر شي چي اودس ماتيږي په هغه شي تيمم هم ماتيږي دغه ډول پدي هم تيمم ماتيږي چي څوك د اوداسه اوبه پيدا کړي او وکولای سي چي بيله ضرره په هغه اودس تازه کړي.

---

(٦٩)آيا دبي اودسي او جنابت تيمم يو ډول دی؟هو يو ډول دی

(٧٠)د تيمم فرضونه کم دي؟ نيت د مخ او د لاسو مسح کول

(٧١) آيا د ګچو او سميټو پر پاك ديوال تيمم صحيح کيږي ؟ هو

(٧٢)نر اوښځي کم لمونځونه په تيمم کولای سي؟تول لمونځونه

## د موزو مسح

په اوداسه کي د پښو پريولل فرض دي خو که د چا موزې په پښو وي نو هغه د پښو د پريوللو پر ځاى د موزو پر مخ باندي د لاسو په گوتو مسح کولاى سي پدې شرط چي موزې ئي خيري نه وي او په اوداسه ئي په پښو کړي وي ، ددې وروسته چي بي اودسه سي د همدې بي اودسی د وخت څخه مُقِيم يعني کورنی سړی يوه شپه او ورځ او

مُسافِر درې شپې او ورځې پر موزو باندي مسح کولای سي، دا مسح د اوداسه په ماتونکو او دغه ډول د موزې په کښلو او د مدې په پوره کېدلو ماتېږي د ماتېدلو په وخت کې که نور اودس ئې ؤ يوازي به پښې پرېولي، پر چا چي غُسل واجب وي هغه پر موزو باندي مسح کولای نسي.

(۷۳) کورنی سړی چي د يوې شپې او ورځي د پوره کېدلو دمخه مُسافِر سي څو ورځي مسح کولای سي؟ درې ورځي او شپې.

(۷۴) مُسافِر چي د يوې شپې او ورځي وروسته مُقيم سي آيا دوې ورځي نور مسح کولای سي؟ يا مده ئې پوره ده مُقيم دی

## د جبيرې مسح

په اوداسه او غُسل کې د لاسو او د
پښو پريولل فرض دي خو که د چا پښه
او لاس مات او خوږ ؤ په ګچو او تختو
کې ئې نيولئ ؤ هغه ته جائز ده چې پر
ګچو او تختو سربيره لاس او پښه مسح
کړي ، دغه ډول که د چا يو ځاى
زخم او خوږ ؤ د اوبو په پريوللو تاواني
کيدى هغه هم پر زخم او خوږ ځاى
باندې مسح کولاى سي او يا ئې پر

زخم او خوږ باندي دوا او پټۍ اچولې

وه او د دوا او پټۍ پریوتل او خلاصول

تاوان ورته کوی هغه هم کولای سي

چي پر پټۍ سربیره هغه ځای مسح

کړي او نوره حصه ئي پریولي ۰

(۷۵) جبیره څه شي ته وایي ؟ د مات اندام په تختو کي نیولو ته

(۷۶) که چا پر زخم لویه پټۍ اچولې وي یا ئي د زخم سره روغ ځای هم ترلی وي آیا پر هغه روغ ځای به هم مسح کوي ؟ یا ، جوړ ځای چي اوبه تاوان نه ورته کوي پریولل غواړي ۰

(۷۷) که د زخم تر پټۍ روغ ځای هم لاندي ؤ ترل او خلاصول ئي د داکتر کار ؤ یا زخم د ترلو او خلاصولو څخه تاواني کیدی بیا به څه کوي ؟ پر توله پټۍ به مسح کوي که څه هم روغ ځای تر لاندي وي ۰

(۷۸) که د داني پټکی بیله جوړښت څخه جلا سي مخکنی مسح ئي څنګه ده ؟ که نور اودس ئي ؤ مخکنی مسح ئي صحیح ده ۰

## مَعْذُور

اودس د لمانځه شرط دی او په بولو ، وینو او داسي نورو ماتیږي ، د چا چي د مریضي لکبله تل بولي څڅیږي یا ئي بادونه پرېږ کیږي یا ئي د پزي ، خولې یا زخم څخه وینه بهیږي او هر وار چي اودس تازه کوي د لمانځه د پوره کولو دمخه بیا دا عذر ورته پیښیږي نو دا سړی معذور بلل کیږي دده اودس د وخت په دننه کي پدې مریضي نه ماتیږي دغه

دول په دغه بولو او وینوئي کالي هم نه

مرداریږي که د پریوللو وروسته د لمانځه

د پوره کولو دمخه بیرته په بولو یا وینو

لړل کیدل معذور به د لمانځه د وخت

په وتلو سره د بل لمانځه د پاره اودس

تازه کوي لیکن د وخت په دننه کي ئي

بیله دغه عذر څخه په بل هر شي اودس

ماتیږي او کالي ئي په مرداریږي ·

---

(۷۹) که د معذور عذر یو وار په وخت کي پیښیدی آیا بیا هم معذور بلل کیږي ؟ هو پدې شرط چي عذر یو وار ثابت سي ،

(۸۰)عذر څه وخت ثابتیږي ؟ چي د لمانځه په توله وخت کي د اوداسه او د لمانځه د پاره بیله دغه عذر څخه وخت پیدا نه کري

## حقيقي نجاست

د لمانځه اول شرط دادی چي د لمونځ کونکي بدن باید د حکمي او حقیقي نجاست څخه پاك کوي ، د حکمي نجاست څخه بدن په اوداسه یا غسل پاك کیږي غُسل او اودس په مطلقو اوبو تازه کیږي که مطلقي اوبه نه وي بیا ئي تیمم پر ځای دریږي د حقیقي نجاست څخه بدن او کالي لکه څنګه چي په اوبو پاك کیږي دغه دول په بل هر پاك

مائع شي باندي چي نجاست په ليري
کيدلای سي لکه پطرول او خاورين تيل
هم پاك کيږي ، هنداره ، توره او بل
داسي ښوی او سخت شی چي نجاست
په ځان کي نه جذبوي لکه څنګه چي
په پريوللو پاك کيږي دغه ډول په صافه
کولو هم پاك کيږي .

---

(۸۱) حکمي نجاست څه شي ته وايي ؟ بې اودسي او جنابت ته
(۸۲) حقيقي نجاست څه شي ته وايي ؟ بولو ، ګندګيو ، وينو او
داسي نورو مرداريو ته .
(۸۳) آيا اودس او غُسل په خاورين تيلو (تيل خاك) کيدلای سي؟ يا
(۸۴) وينه د بدن څخه په خاورين تيلو پاك کيدلای سي ؟ هو

## د کالو او ځای پاکي

د لمانځه دوهم او دريم شرط د کالو او ځای پاکي ده ، مردار کالي په اوبو، خاورينو تيلو او بل هر پاک مائع شي باندي پاک کيږي ، کالي د هغه نجاست څخه چي په سترګو ليدل کيږي لکه وينه او ګندګي هغه وخت پاک کيږي چي په پريوللو دا مرداري د مينځه ولاړه سي او د هغه مرداری څخه چي په سترګو نه ليدل کيږي لکه بولي کالي

هغه وخت پاك کېږي چې درې واري

پرېولل سي او د هر وار وروسته تينګ

ونښتيځل سي د نجاست تېلي او رنګ

که نه پاك کېدی بيا پروا نه لري مځکه

لکه ځنګه چې په اوبو پاکه کېږي دغه

ډول په وچېدلو هم پاکه کېږي پدې

شرط چې د نجاست اثر يعني رنګ او

بوی ئي هم د مېنځه ولاړ سي ·

(٨٥) پند شی چې نه نښتيځل کېږي لکه کمبله ځنګه پرېولل

کېږي ؟ پدې ډول چې اوبه پر واچول سي په لاس يا برس

وموښل سي وروسته پر لوړ ځای کښېښول سي د ځاځکو د

درېدلو وروسته بيا دوه واري نور همدا ډول پرېولل سي ·

د اوداسه ښه والی

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ سَلَّمَ وايي:

څه وخت چي مسلمان په اوداسه کي

مخ پريولي د مخ څخه ئي د اوبو سره

سم هره هغه گناه وځي چي په سترگو

ئي ورته کتلي وي او چي لاسونه پريولي

د اوبو سره سم ئي د لاسو څخه هره

هغه گناه وځي چي په لاسو ئي کړي

وي او چي پښې پريولي د اوبو سره سم

ئي هره هغه گناه وځي چي په پښو ئي

تگ ورکړی وي تر څو د گناهو څخه بلکل پاك راوځي ۰

(مسلم عن ابي هريره رضي الله عنه مع ترديد في لفظ مسلم او مؤمن ، مع الماء او مع آخر قطر الماء )

## د لمانځه بنه والی

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وايي ۰ پنځه لمونځونه او د جمعي لمونځ تر جمعي پوري او روژه تر روژې پوري هغه گناهونه رژوي چي په مينځ کي سوي وي پدې شرط چي د لويو گناهو څخه ځان وساتل سي ۰ (مسلم عن ابي هريرة رضی الله عنه)

(٨٦) كبيره يعني لوی گناهونه ولي په اوداسه او لمانځه نه رژول کيږي ؟ ځکه چي لوی گناهونه په بنو کارو نه رژول کيږي بلکي توبه غواړي ۰

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ سَلَّمَ خپل
ملګرو ته وویل ، آیا داسي شی درته
وښیم چي په هغه مو الله خطاوي محوه
کوي او درجې مو په لوړوي ؟ ملګرو
ئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وویل ، هو ای د الله
رسوله ! رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ سَلَّمَ
ورته وویل ، په تکلیف یعني یخ کي
اودس پوره تازه کول ، و مسجد
ته زیات قدمونه اخیستل ، د لمانځه
وروسته د بل لمانځه انتظار کول(مسلم عن ابی هریرة)

## د لمانځه وختونه

پر هر عاقل او بالغ مسلمان باندي د سهار ، ماپښين ، مازيگر ، ماښام او د ماخستن لمونځونه فرض دي ، د پنځو لمونځو وختونه په دې ډول دي :

د سهار وخت : د سهار د لمانځه وخت د سپيدو څخه بيا تر لمر ختځ پوري دی، په لمر ختځ کي هيڅ لمونځ نه صحيح کيږي .

د ماپښين وخت ، د ماپښين د لمانځه

وخت د زَوال څخه بیا تر دوه چندی

پوري دی، یاران وایي ، د ماپښین وخت

د زَوال څخه بیا تر یو چندی پوري

دی، زَوال دی ته وایي چي لمر د اسمان

د سر څخه لویدیز خوا ته کښته سي،

دوه چندی دی ته وایي چي د هر شي

سایه د هغه دوه واري وګرځي، اِسْتِوَاء

بیا دی ته وایي چي لمر بلکل د اسمان

مینځ ته راسي یعني د سري پر سر سي

په دغه وخت کي هر شی شمال یا

جنوب خوا ته څه ناڅه سایه لري و

دغي سايې ته د زَوال سایه وايي دا په

دوه چندی یا یو چندی کي نه شمیرل

کیږي .

د مازیگر وخت . د مازیگر د لمانځه

وخت د ماپښین د وخت وروسته یعني

پر اول قول د دوه چندی وروسته او پر

دوهم قول د یو چندی وروسته بیا تر

لمر وليدو پوري دی .

د ماښام وخت . د ماښام د لمانځه وخت

د لمر ولیدو وروسته بیا د شفق تر ورکیدو پوري دی ، یاران وایي شَفَق هغي سرخي ته وایي چي د لویدیز خوا ته په مابنام کي ښکاره کیږي ، امام صاحب بیا وایي چي ددې سرخي وروسته چي کمه سپینه ورانگه ښکاره کیږي هغي ته شَفَق وایي .

د ماخستن وخت : د ماخستن د لمانځه وخت د شَفَق د ورکیدلو وروسته بیا تر سپیدو پوري دی . سپیدې و هغي پرتې

وړانگي ته وايي چي ختيز خوا ته سهار وختي ښكاره كيږي و سپيدو ته صبح صادق هم وايي ، د سپيدو د مخه يو وار جگه وړانگه هم ښكاره كيږي چي وروسته بيرته تياره جوړيږي و دغي جگي وړانگي ته صبح كاذب وايي او د ماخستن په وخت كي شميرل كيږي د وترو وخت تر فرضو وروسته دی.

(۸۷) ايا لمونځ تر خپل وخت دمخه يعني چي وخت لا داخل سوی نه وي صحيح كيږي ؟ يا نه صحيح كيږي .

(۸۸) د ابوحنيفه نوم او د پلار نوم څه شی دی ؟ نُعمان بن ثابت

(۸۹) ابويوسف او محمد څوك دي ؟ د امام صاحب شاگردان .

## مکروه وختونه

د لمر ځرك وخت ته ، د إِسْتِوَاء وخت ته او د لمر ولیدو وخت ته مکروه وختونه وایي په دغو وختو کي هیڅ لمونځ نه صحیح کیږي، د جنازې لمونځ او د تلاوت سجده لا هم نه پکښي صحیح کیږي لیکن د لمر ولیدو په وخت کي د همهغي ورځي د مازیگر لمونځ د کِراهِیَت سره صحیح کیږي .

د سهار او مازيگر تر فرضو وروسته نفلي لمونځ نه کيږي دغه ډول د سهار تر فرضو دمخه بيله دوو رکعتو سنتو څخه نور نفلي لمونځونه نه کيږي ليکن په دغو وختو کي قضايي لمونځ ، د جنازې لمونځ او د تلاوت سجده بيا بيله ګراهيت څخه کيدلای سي.

(۹۰) د مازيگر لمونځ دوني ځنډول چي د لمر ټکی ته سړی سم کتلای سي يعني ژړه سي څنګه دی؟ مکروه دی ګناه لري.
(۹۱) د ماښام لمونځ دوني ناوخته کول چي ستوري راوخيږي يا د ختيز خوا څخه شپه د آسمان مينځ ته راپورته سي څنګه دی؟ دا هم مکروه دی د ماښام لمونځ بايد په اول وخت کي وکړل سي

## اذان او اِقَامَت

د پنځو لمونځو او د جمعې د لمانځه د پاره اذان مُؤَكَّد سنت دی ، اذان په ولاړي مخ پر قبله په لوړ آواز په تَرَسُّل يعني بيله چټکتيا سره پدې ډول کيږي ·

اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ، اَشْهَدُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ ، اَشْهَدُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ، اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ، حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ، حَيَّ

عَلىٰ الصَّلٰوةِ ، حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ ، حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ، لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ .

په حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ کي مخ راسته خوا ته او په حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ کي مخ چپه خوا ته گرځول کيږي ، د سهار په اذان کي تر حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ وروسته دوه واري اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ هم ويل کيږي .

اِقَامت هم د اذان په ډول دی ليکن په

اِقامت کي د حَیَّ عَلَى الْفَلاَحِ وروسته دوه واري قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ هم ويل کيږي، اقامت په حَدَر يعني تلوار ويل کيږي. د اذان او اِقَامت کلمې په وصل کي هم د وقف حکم لري.

(۹۲) آيا په اذان کي گوتي په غوږو کي نيول کيږي ؟ هو

(۹۳) آيا د جنازې د لمانځه ، د اخترو د لمونځو ، د تراويحو او استسقاء د لمونځو د پاره هم اذان کيږي ؟ يا ، نه کيږي.

(۹۴) آيا د قضائي لمونځو د هر لمانځه د پاره اذان او اقامت دواړه کيږي ؟ هو ليکن داسي هم کولای سي چي بيله اول لمانځه څخه د پاته لمونځو د پاره يوازي اقامت وکړي.

(۹۴) د اذان وروسته د وسيلې دعا څه ثواب لري ؟ نبي عليه السلام وايي ،هغه ته به د قيامت په ورځ زما شفاعت ورسيږي.

## د اذان بنه والی

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وایي : که خلګو ته د اذان او اول صف ثوابونه معلوم سي او بیا اذان او په اول صف کي ځای بیله نومو اچولو څخه نه وررسیدی نو هرو مرو به نومونه پر اچوي ، او که لمانځه ته د وختي تګ ثواب ورته معلوم سي بیا به یو د بل څخه په وختي تګ کي ځان دمخه کوي او که په جماعت سره د ماخستن او د سهار د لمونځو کولو ثوابونه ورته معلوم سي بیا به پر څلورو لا هم ورته راځي متفق علیه

## د لمانځه شرطونه

د لمانځه د شپږو شرطو څخه د درو شرطو یعني د حکمي او حقیقي نجاست څخه د بدن د پاکي ، د حقیقي نجاست څخه د کالو او د ځای د پاکي پوره بیان په مخکنیو ورقو کي وکړل سو او دغه رنګه د لمانځه د وخت بیان هم وکړل سو ، د لمانځه وخت هم ځیني شرط بولي ځکه چي د وخت دمخه لمونځ نه صحیح کیږي .

## د عورت پټول

د لمانځه څلرم شرط د عورت پټول دي

د نارينه عورت تر نامه لاندي بيا تر

زنګنو پوري دى زنګنونه ئي هم په

عورت کي داخل دي ، د ښځي بيله

مخ ، څپرو او قدمو څخه نور ټول بدن

په لمانځه کي عورت دى ليکن پر ښځي

باندي د نامَحرَم يعني بيګانه څخه مخ

پټول هم لازمي دي .

(۹۵) په مردارو- کالو د عورت پټول څنګه دي ؟ يوازي هغه وخت صحيح دي چي د پاك کولو شي او نور پاك کالي و نه لري

## مخ پر قبله دریدل

د لمانځه پنځم شرط مخ پر قبله دریدل دي ، څوك چي د دښمن یا یو بل شي د بیري قبلي ته مخامخ لمونځ نسي کولای د هغه لمونځ هري خوا ته چي وکولای سي صحیح کیږي ، که د چا څخه قبله ورکه سوه او هلته د پوښتني څوك هم نه ؤ هغه دي هغي خوا ته لمونځ کوي چي د قبلي خیال ئي پر راځي ، که د لمانځه وروسته خپله غلطیا

ورته ښکاره سوه د لمانځه راگرځول باندي نسته او که د لمانځه په مینځ کي قبله ورته معلومه سوه بیا دي په لمانځه کي د قبلې خوا ته وگرځي پاته لمونځ دي پسي پوره کړي.

(۹٦) آیا د ښځي لمونځ په نازك پوړني کي چي وريښتان ئي تر معلومیږي صحیح کیږي ؟ یا ځکه چي د عورت پټول فرض دي.

(۹۷) که څوك د پاکو کالو د نشته والي لکبله په مردارو کالو کي لمونځ وکړي آیا ددې لمانځه راگرځول باندي سته ؟ یا

(۹۸) د اکا زوی ، د ماما زوی ، د خاله زوی . اخښی ، لیور او د لیور زامن د ښځي مَحْرَم او که نامَحْرَم دي ؟ دا ټول د ښځي نامَحْرَم دي ښځه باید مخ ځني پټ کړي ځکه چي لیدنه ئي سره ناروا ده.

(۹۹) مَحْرَم چا ته وايي؟ پلار، زوی، نیکه، لمسي، ورور، اکا، ماما ، د ورور او د خور زامنو او لمسیانو ته ددغو ټولو سره د ښځي لیدنه روا ده

## نیت کول

د لمانځه شپږم شرط نیت دی ، نیت د زړه قصد او ارادې ته وايي ، پر لمونځ کونکي باندي فرض ده چي د تحریمې دمخه په زړه کي لمونځ ځان ته معلوم کړي د نیت او تحریمې تر مینځ به په بل کار سره بیلوالی نه راولي، پر مُقتدي باندي د لمانځه د تعیین سره په امام پسي د اِقتِداء کولو نیت هم ضروري دی٠

(١٠٠) نیت په خوله کیږي او که په زړه ؟ نیت په زړه کیږي٠

(١٠١) دلمانځه تعیین څنګه کیږي؟دفرضیت او وخت په معلومولو

# د لمانځه فرضونه

د لمانځه شپږ فرضونه دادي تحریمه قیامه ، قرائت ، رکوع ، سجده او د تشهد په اندازه اخیره ناسته ، پدې شپږو کې يې پنځه رکنونه دي او تحریمه يې شرط ده ، د لمانځه شرطونه او رکنونه فرض دي بېله شرطو او رکنونو څخه لمونځ نه صحیح کیږي ، فرق ئې دونه دی چې شرط د لمانځه څخه وتلی دی تر لمانځه مخکې پر ځای کیږي او رکن په لمانځه کې دننه دی لمونځ ځني جوړ سوی

## د لمانځه طريقه

څوك چي په لمانځه شروع كوي په اوداسه به پر پاك ځاى باندي په پاكو كالو كي مخ پر قبله دريږي په زړه كي به د هغه لمانځه د كولو اراده كوي چي شروع په كوي مُقتَدِي به په امام پسي د اِقتِدَاء نيت هم كوي د نيت وروسته به د ﴿ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ﴾ د ويلو سره سم لاسونه پورته كوي .

(۱۰۲) لمونځ كونكئ به ولي په اوداسه په پاكو كالو كي پر پاك ځاى مخ پر قبله د لمانځه نيت كوي ؟ ځكه چي دا د لمانځه شرطونه دي .

و دغه اول تکبیر ته تحریمه وایي او دا د لمانځه اول رکن دی د تحریمي په وخت کي به نارینه لاسونه دوني پورته کوي چي بتي گوتي ئي د غوږو د نرمیو سره برابري سي او ښځه به ئي فقط تر اوږو پوري پورته کوي ددې وروسته به راسته لاس پر چپه لاس باندي نارینه تر نامه لاندي نیسي او ښځه به ئي پر سینه باندي ایږدي ثَناء به وایي :

(۱۰۳) نیت څنگه کیږي ؟ داسي مثلاً که د ماپښین لمونځ وُ یه زړه کي به د نن ماپښین د فرضو د اداء کولو اراده کوي ،

﴿ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَ تَبَارَكَ
اسْمُكَ وَ تَعَالٰى جَدُّكَ وَ لَا اِلٰهَ غَيْرُكَ ﴾
بيا به تعوُّذ وايي : ﴿ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ
الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴾ وروسته به تَسْمِيَه
وايي : ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ د
تَسْمِيي وروسته به سورة الفَاتِحِه وايي :
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ﴿١﴾ اَلرَّحْمٰنِ
الرَّحِيْمِ ﴿٢﴾ مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٣﴾ اِيَّاكَ
نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴿٤﴾ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ
الْمُسْتَقِيْمَ ﴿٥﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ

ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَ لَاَ الضَّآلِّيْنَ

﴿۷﴾ وروسته به ﴿ اٰمِيْنَ ﴾ وايي ددې

وروسته به لږ تر لږه يو اوږد يا درې

کوچنۍ اٰيتونه وايي يا به يو پوره سورت

وايي لکه سورةُ اللّهَب ﴿ تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ

لَهَبٍ وَّ تَبَّ ﴿۱﴾ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَ مَا

كَسَبَ ﴿۲﴾ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿۳﴾

وَّ امْرَاَتُهٗ ط حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴿۴﴾ فِيْ

جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ﴿۵﴾

(۱۰۴) د اٰمين څه معنى ده ؟ اٰمين معنى راشخه قبول ئي کړه .

(۱۰۵) بيله تحريمي نورو تکبيرو ته څه وايي؟ د انتقالاتو تکبيرونه،

الحمد الله او سورت په قرائت کي

شميرل کيږي ، دغي ولاړي ته قيامه

وايي قرائت او قيامه د لمانځه

رکنونه دي بيا به د ﴿الله اکبر﴾ د

ويلو سره سم رکوع ته ځي په

رکوع کي به سر او ملا بلکل برابره

کوي د زنګنو کوړی به په خلاصو

ګوتو تينګي نيسي لږ تر لږه

به درې واري د رکوع تسبيح يعني

﴿سبحان ربى العظيم﴾ وايي او د

تسبيح د ويلو وروسته به د

تَسْمِيْع ﴿ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ﴾ د ویلو سره سم د رکوع څخه جګ درېږي تَحْمِيْد ﴿ رَبَّنَا وَ لَكَ الْحَمْدُ ﴾ به وايي و دغي ولاړي ته قَوْمَه وايي بيا به د ﴿ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ﴾ د ويلو سره سم سجدې ته ځي اول به زنګنونه بيا به لاسونه بيا پزه او تندی پدې ډول چي مخ ئي د لاسو په مينځ كي راسي پر ځمكه باندي ايږدي .

(۱۰۷) په توله سجده كي پښې د ځمكي څخه پورته نيول يا پر نزله باندي سجده كول څنګه ده ؟ داسي سجده صحيح نه ده .

ښځه به په سجده کي ځان سره ټولوي يعني نس به د ورنو سره او ځنګلي به د مځکي سره مښلوي پښي به راسته خوا ته پرتې باسي نارينه به په سجده کي نس د ورنو څخه او ځنګلي د مځکي او بغلو څخه ليري نيسي دواړي پښي به پر مځکه باندي پدې ډول جګي دروي چي د ګوتو مخان ئي د قبلې خوا ته سي په سجده کي به لږ تر لږه درې واري

(۱۰۸) امام به ولي د رکوع او سجدې تسبيحات تر درې درې واري زيات نه وايي ؟ ځکه چي بيا پر مقتديانو لمونځ اوږديږي.

د سجدې تسبیح ﴿سُبْحَانَ رَبِّیَ ٱلأَعْلٰی﴾
وایي بیا به د ﴿اَللّٰهُ اَکْبَرُ﴾ د ویلو
سره سم کښیني لاسونه به پر ورنو
باندې ایږدي نارینه به راسته پښه جګه
دروي د ګوتو مخان به ئي د قبلې خوا ته
ګرځوي چپه پښه به پرېباسي او پر هغه
به کښیني ښځه به دواړې پښې راسته
خوا ته باسي پر چپه اندي به کښیني و
دغې ناستې ته جَلْسَه وايي بیا به د

(۱۰۹) قَوْمَه او جَلْسَه څه شي ته وايي ؟ د رکوع وروسته ولاړې ته قَوْمَه او د دوو سجدو تر مینځ ناستې ته جَلْسَه وایي ۰

﴿ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ﴾ د ویلو سره سم د اولي
سجدې په شان دوهمه سجده کوي د
سجدې څخه به د ﴿ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ﴾ د
ویلو سره سم سیده دوهم رکعت ته
ولاړيږي په ولاړیدو کي به اول تندی
بیا به پزه بیا به لاسونه وروسته به
زنګونه د ځمکي څخه پورته کوي په
دوهم رکعت کي ثَنَاء او تَعَوُّذ نه ویل
کيږي یوازي تَسْمِیَه ، سورة الفاتحِه ،
اٰمِیْنَ او څو ایتونه یا یو سورت لکه

سورة اَلاِخلاَص ﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ صَمَدٌ ﴿۲﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ۵ وَ لَمْ يُوْلَدْ ﴿۳﴾ وَ لَمْ يَكُنْ لَهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾ ويل

کيږي او بيا د اول رکعت په شان

رکوع او دوې سجدې کيږي د دوهمي

سجدې وروسته به کښيني که لمونځ

دوه رکعته ؤ نو دا ئي قَعْدَةٌ اَخِيْرَةٌ يعني

اخيره ناسته ده او که درې يا څلور

رکعته ؤ نو دا ئي قَعْدَةٌ اُوْلٰى يعني اوله

(۱۱۰) نارينه او ښځه به په اوله او اخيره ناسته کي څه دول کښيني ؟ کټ مټ هغه دول لکه په جَلْسَه کي چي کښينستل،

ناسته ده په قَعْده کي به دا تَشَهُّد وايي

﴿اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوَاتُ وَ الطَّيِّبَاتُ

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَ

بَرَكَاتُهُ ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَ عَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ

الصَّالِحِيْنَ ، اَشْهَدُ اَنْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُوْلُهُ﴾ بيا

به د ﴿اَللّٰهُ اَكْبَرُ﴾ د ويلو سره سم

دريم ركعت ته ولاړيږي د فرضو په

دريم او څلرم ركعت كي به تر الحمد لله

(۱۱۱) كه لمونځ دوه ركعته وُ تر تَشَهُّد وروسته به څه كوي ؟ اَللّٰهُمَّ صَلِّ . . . او اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا . . . به وايي سلام به ګرځوي.

او أمين وروسته بل سورت نه وايي

بلکي د أمين وروسته به سمدستي رکوع

ته ځي د نفلو، سنتو او وترو دريم او

څلرم رکعت کت مت د دوهم رکعت

په شان دي يعني د سورة الفاتحه او أمين

وروسته به پوره سورت يا څو أيتونه هم

وايي ليکن د وترو په دريم رکعت کي

به تر سورت وروسته د ﴿اَللّٰهُ اَکْبَرُ﴾

د ويلو سره سم نارينه د تحريمې په شان

---

(۱۱۲). د فرضو دريم او څلرم رکعت ته ولي تش رکعتونه وايي؟

پدې چي په هغو کي د الحمد لله وروسته سورت نه ويل کيږي

لاسونه د غوږو تر نرميو او ښځه

به يې تر اوږو پوري پورته کوي

او بيرته به يې د پښوا په شان

نارينه تر نامه لاندي او ښځه به

يې پر سينه باندي ايږدي دعا

قنوت به وايى : اللهم إنا نستعينك

، ونستغفرك ، و نؤمن بك ، و

نتوكل عليك ، ونثني عليك الخير ،

نشكرك ، و لا نكفرك ، ونخلع

ونترك من يفجرك ، اللهم إياك نعبد

، ولك نصلي ونسجد ، وإليك نسعى ونحفد ، نرجو رحمتك ، ونخشى عذابك ، إن عذابك بالكفار ملحق )

بيا به د الله اكبر د ويلو سره سم ركوع ته ځي .

---

(۱۱۳) که د چا دعا قنوت زده نه وي نو هغه به څه وايي ؟ هغه : اللهم ربنا اتنا في الدنيا حسنة و في الاخرة حسنة و قنا عذاب النار . ويلای سي او همدا راز بله دا دول دعا هم ويلای سي ، تر داسې اندازې چې درې واري استغفر الله ، لا هم د دعا قنوت پر ځای ويلای سي .

(۱۱۴) ايا دا دول دعا قنوت هم ويل کيدلای سي : اللهم انا نستعينك ، و نستهديك ، ونستغفرك ، و نتوب اليك ، ونؤمن بك ، و نتوكل عليك ، ونثني عليك الخير كله ، نشكرك ، ولا نكفرك ، ونخلع ونترك من يفجرك ، اللهم اياك نعبد ، ولك نصلي ونسجد ، وإليك نسعى ونحفد ، نرجو رحمتك ونخشى عذابك ، إن عذابك الجد بالكفار ملحق »
هو ! بلکي تر هغه بل دعا قنوت لا هم غوره او افضل دی .

د مابنام د فرضو او د وترو د دريم
ركعت وروسته او د څلورو
ركعتيزو لمونځو د څلرم ركعت
وروسته به د اولي ناستي په شان
اخيره ناسته كوي و دغي ناستي ته
قعده اخيره يعني اخيره ناسته وايي
په دوه ركعتيز لمانځه كي د دوو
ركعتو وروسته ناسته اخيرنى ناسته
ده د لمانځه اخيرنى ناسته د تشهد په
اندازه فرض ده په اخيره ناسته كي
به تر تشهد وروسته درود وايي
﴿اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى

مُحَمَّدٍ ، وَ عَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ ، کَمَا صَلَّیْتَ
عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ ، وَ عَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ ، اِنَّكَ
حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ ،
وَ عَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ ، کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی
اِبْرَاهِیْمَ ، وَ عَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ ، اِنَّكَ حَمِیْدٌ
مَّجِیْدٌ ﴾ د درود وروسته به ﴿ اَللّٰهُمَّ
رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً ، وَ فِی الْاٰخِرَةِ
حَسَنَةً ، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴾ یا بله قرانی
یا ماثوره دعا چې دده زړه وي وایي
ددې وروسته به راسته خوا ته مخ

گرځوي ﴿اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ﴾

به وايي بيا به همدا ډول چپې خوا ته سلام گرځوي لكه څنگه چي د تحريمې په تكبير سره لمونځ شروع كيږي د خبرو، خوړلو او څښلو، تلو او راتلو څخه لمونځ كونكۍ بنديږي دغه ډول بيا د سلام په گرځولو د لمانځه بنديزونه پورته كيږي لمونځ پای ته رسيږي.

(۱۱۵) په لمانځه كي څه ناڅه كمي راځي د هغه د معافي د پاره به د لمانځه وروسته څه كوي؟ درې واري به اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وايي.

(۱۱۶) كوچنيان بايد څه وخت پر لمانځه ودرول سي؟ نبي عليه السلام وايي په اوه كلني كي ئې پر لمانځه دروئ په لس كلني كي پر وهئ.

## فصل

تاسي ولوستل چي تحريمه ، قيامه ، قِرائت ، ركوع ، سجده او د تَشَهُّد په اندازه اخيره ناسته د لمانځه ركنونه دي او لمونځ بيله ركنو څخه نه صحيح كيږي د لمانځه شرطو او ركنو ته د لمانځه فرضونه هم وايي خو د لمانځه په طريقه كي مو ددې څخه علاوه ځيني نور شيان هم ولوستل چي په هغو كي بيا ځيني واجب او ځيني ئي سنت دي.

## د لمانځه وَاجِبَات

د لمانځه واجِبات و هغو شیانو ته وایي چي د هغو کول لازمي دي لیکن بیله هغو څخه هم لمونځ کیدلای سي په قصد سره د واجبو پریښول ګناه لري او هم لمونځ ځني نیمګړی او تاواني کیږي لیکن که د چا څخه واجب په سهوه او غلطي کي پاته سي بیا ئي د سهوي په سجدي تاوان او نیمګړتیا راګرځي.

---

(۱۱۷) که څوك د لمانځه واجب په قصد سره پریږدي آیا د سهوي په سجده ئي نقصان او ګناه لیري کیږي؟یا پدي صورت کي سجده نه کیږي

د لمانځه په طریقه کي چي مو کم شیان ولوستل په هغو کي ئي واجب دادي : (١)سورةُ الفاتحه ویل(٢)د سورةُ الفاتحې سره یو سورت یا څو اٰیتونه هم ویل (٣)د فرضو قرائت په اولنیو دوو رکعتو کي ویل (۴) په ارکانو کي لکه رکوع اوسجده ارام نیول (۴) اوله ناسته کول (۵) پهِ اخیره ناسته کي تَشَهُّد ویل (٦) په وترو کي دعایي قنوت ویل (٧) د لمانځه ختمول په سلام وتل ۰

## د لمانځه سنتونه

د سنتو درجه تر واجبو کښته ده نو ځکه په پرېښولو ئي څوك دوني نه گناهكاره كيږي لکه د واجبو په پرېښولو چي څوك گناهكاره كيږي او دغه رنگه كه په سهوه كي ځني پاته سي د سهوي سجده هم نه باندي لازميږي د لمانځه سنت دادي ، (١) په تحريمه كي لاسونه پورته كول بيا ئي پر سينه او تر

(١١٨) آيا د سهوي سجده پر هغه چا باندي چي سنت په قصد يا په سهوه كي ځني پاته سي هم لازميږي ؟ يا نه لازميږي ،

نامه لاندي نیول (۲) ثناء ویل (۳) تَعَوُّذ
ویل (۴) تَسْمِیَه ویل (۵) امین ویل (۶)
تَسْمِیْع ویل (۷) تَحْمِیْد ویل (۸) د
انتقالاتو تکبیرونه ویل (۹) د رکوع او
سجدې تسبیح ویل (۱۰) په رکوع کي
د زنگنو کوړی په خلاصو گوتو تینگ
نیول سر او ملا برابرول (۱۱) په جَلْسَه
او قَعْدَه کي لاسونه پر ورنو ایښول د
مخکني طرز مطابق کښینستل (۱۲) په
اوله ناسته کي تَشَهُّد ویل (۱۳) په اخیره

ناسته کي درود ویل (۱۴) د درود
وروسته اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا یا بله دعا ویل (۱۵)
د سلام په وخت کي راسته او چپه خوا
ته مخ گرځول.

## د لمانځه آداب

د لمانځه آداب بیا هغو شیانو ته وایي
چي کول ئي تر نه کولو ښه دي او هغه
دادي (۱) په قیامه کي د سجدې ځای
ته کتل (۲) په رکوع کي پښو ته کتل
(۳) په سجده کي پزي ته کتل (۴) په

ناسته کي ځيګر ته کتل (٥) د سلام په

وخت کي اوږو ته کتل (٦) د اررمی په

وخت کي خوله پټول (٧) که وکولای

سي توخی دفع کول (٨) که د نارینه

لستوني اوږده وي د تحریمې په وخت

خپل څپړي د لستونو څخه راایستل ۰

(١١٩) د دعايي قنوت دمخه د تکبیر د ویلو سره سم لاسونه پورته کول څنګه دي ؟ هغه هم د تحریمې پر طرز سنت دي ۰

(١٢٠) په اوله ناسته کي تَشَهُّد سنت ده او که واجب ده ؟ سنت ده خو څیني ئي واجب بولي ۰

(١٢١)د اررمی په وخت څه کول پکار دي ؟ که وکولای سي اول دي خوله بندوي که ئي بندولای نسوای بیا دي د لمانځه دننه راسته لاس او د لمانځه د باندي چپه لاس پر خوله باندي ایږدي ۰

## د جَمَاعَت بنه والی

د پنځو وختو لمونځونه په جماعت کول مُؤَكَّد سنت دي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وايي ، د جَماعت لمونځ د سړي تر هغه لمانځه چي په کور يا بازار کي ئي کوي پنځه ويشت درجې په ثواب کي زياتوب لري او دا ځکه چي څه وخت چي دی په صحيح دول اودس تازه کړي او بيا مسجد ته فقط او فقط د لمانځه د پاره ووځي هر قدم چي

اخلي په هغه ئي درجه لوړيږي او هم ئي گناه په رژول کيږي څه وخت چي لمونځ وکړي ملائکي درود پر وايي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ ، اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ او دا تر هغه وخته پوري پر وايي چي دی پر خپله مُصَلّٰی باندي ناست وي او بي اودسه نسي، او دی په لمانځه کي دی يعني د لمانځه ثواب ورکول کيږي تر هغه وخته پوري چي د لمانځه انتظار باسي.

( رَوَاهُ البخاري و مسلم عن ابي هريرة ).

(۱۲۲)د جماعت لمونځ څنگه دی ؟ د جماعت لمونځ مؤكد سنت دی ځيني ئي واجب بولي ځکه چي پر پريښولو ئي سخت وعيد راغلي دي.

## د جماعت پرېښونکي سزا

رسول الله صَلَّى اللَّـهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وايي: زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما روح ئي په لاس کي ده چي داسي قصد مي کړی دی چي د لرګو په راټولولو څوك امر کړم چي لرګي راټول کړل سي بيا د لمانځه امر وکړم چي اذان وکړل سي بيا يو سړي ته حکم وکړم چي خلګو ته لمونځ ورکړي او زه د هغو خلګو کورو ته ورسم چي د جماعت لمانځه ته نه راځي او پر هغوی باندي کورونه وسوزم. (عن ابي هريرة متفق عليه)

## د اِمامت ورتیا

څوك چي په خپل مینځ کي جماعت کوي نو په دوی کي د امامت ور او مُسْتَحِق اول هغه دی چي تر ټولو عالم وي که په علم کي برابر وه بیا چي تر ټولو قاري وي که په قرائت کي برابر وه بیا چي تر ټولو متقي وي که په تقویٰ کي برابر وه بیا چي تر ټولو مشر وي.

(۱۲۳) آیا پورته ترتیب د دایمي امام ټاکلو د پاره هم دی ؟ هو

(۱۲۴) که مسجد خپل ټاکلی امام ولري بیا څوك د مخه کیدلو د حق لري ؟ د مسجد امام که څه هم نور تر ده عالمان وي.

(۱۲۵)دبل په کور کي څوك دمخه کیدلو حق لري؟د کور خاوند

## فصل

اودس لرونکي په تيمم لرونکي پسي لمونځ کولای سي دغه ډول په ولاړي لمونځ کونکي په ناستي لمونځ کونکي پسي او چي پښې ئي پريولي وي په هغه چا پسي چي پر موزو ئي مسح کړې وي او نفل کونکي په فرض کونکي پسي لمونځ کولای سي.

په فاسق صحرائي او رانده پسي لمونځ مکروه دی ځکه چي فاسق د دين په

کارو کي بي پروايي کوي او په صحرا کي بيا بي علمي زياته ده او روند بيا د نجاست څخه کالي ساتلای نسي.

د نارينه لمونځ په ښځي او کوچني پسي نه صحيح کيږي دغه ډول په معذور پسي د جوړو لمونځ په اشاره کونکي پسي د رکوع او سجده کونکو لمونځ په نفل کونکي پسي د فرضو کونکو لمونځ هم نه صحيح کيږي.

---

(۱۲۶) آيا ښځي په ځپل مينځ کي په جماعت سره لمونځ کولای سي؟ هو کولای ئي سي ليکن مکروه دی.

## صفونه

امام او مقتدیان باید د جماعت په لمانځه کي د صفو و برابرولو ته پوره پام وکړي ځکه چي ابو مسعود رضی الله عنه وايي ، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ په لمانځه کي . زموږ اوږې رابرابرولې او ویل یې چي یو د بل څخه مخ او شا ته مه دریږئ بیا به مو په زړو کي اختلاف پیدا سي . (مسلم)

صف پدې ډول برابرېږي چي تول

مقتديان پندي پر يوه خط برابري کړي

په صف کي خالي ځاى پري نه ږدي

بلکي يو د بل سره اوږي ومښلوي او

امام په مينځ کي راولي.

په صف کي به اول لويان بيا کوچنيان

او وروسته بيا ښځي دريږي، که مقتدى

يو نفر ؤ هغه به د امام و راسته اړخ ته

پدې ډول چي د پښو گوتي ئي د امام د

پندو سره برابري وي دريږي.

(۱۲۷) دوهم مقتدي به چيري دريږي ؟ شا ته اوّل به هم ور شا ته سي.

(۱۲۸) که مقتدى يوازي يوه ښځه وه هغه به بيا چيري دريږي ؟ شا ته.

## د جماعت طريقه

يوازي لمونځ كونكي ته مُنْفَرِد په بل پسي لمونځ كونكي ته مُقْتدِي او نورو ته لمونځ وركونكي ته اِمام وايي.

د جماعت لمونځ د منفرد د لمانځه څخه په لاندي شيانو كي فرق لري،

(١) پر امام باندي د سهار په لمانځه كي او د ماښام او ماخستن په اولو دوو ركعتو كي په زوره قرائت ويل واجب دي ليكن منفرد نارينه ته د په زوره يا

قرار ويلو دوارو اختيار لري دغه ډول پر
امام باندي د جمعې په لمانځه کي په
تراويحو کي د استسقاء او اخترو په
لمونځو کي د وترو په درو سرو رکعتو
کي هم په زوره قرائت ويل واجب دي
او د ماپښين او مازيگر په لمانځه کي بيا
د قرائت قرار ويل واجب دي.
(۲) مقتدی د ثناء ويلو وروسته پټه خوله
دريږي يعني تَعَوّذ، تَسْمِيَه، فاتحه او
سورت نه وايي که لمونځ جهري ؤ

يعني قرائت په زوره پکښي ويل کيدی چي امام وَلاَ الضَّآلِّيْنَ ووايي امام او مقتدي به قرار آمين وايي۰

(۳) امام به د تحريمي تکبير او د انتقالاتو تکبيرونه په زوره وايي او هم به سلام په زوره گرځوي او مقتدي به دا توله شيان لکه منفرد قرار وايي۰

(۴) امام به د رکوع څخه د پورته کيدلو په وخت کي په زوره تسميع وايي او مقتدي به قرار تحميد وايي۰

## فصل

( مُدْرِك ، لاَحِق ، مَسْبُوْق )

مُدْرِك هغه مقتدي وايي چي د اول رکعت څخه تر سلامِ پوري د امام سره لمونځ وکړي.

لاَحِق هغه مقتدي ته وايي چي د لمانځه اخير د بي اودسي د پيښيدلو لکبله په امامِ پسي و نه کړلای سي.

مَسْبُوْق هغه مقتدي ته وايي چي لمونځ يو يا څو رکعته څني تير سوی وي.

---

(۱۲۹) د اول رکعت د رکوع څخه لمونځ نيونکي ته څه وايي ؟ مدرك

## مَسْبُوق

امام چي دواړو خواؤ ته سلام وگرځوي مسبوق به ولاړيږي خپل لمونځ به پوره کوي که امام د سلام گرځولو وروسته د سهوي سجده کول مسبوق به هم بيله سلام گرځولو شخه د سهوي سجده ورسره کوي.

مسبوق چي ولاړ سي تَعَوُّذ ، تسميه، فاتحه، اٰمين او يو سورت به وايي بيا به رکوع او دوې سجدې کوي که يو

ركعت ځني تیر سوی ؤ کښني به ني د

تَشَهُّد، درود او دعا وروسته به سلام

وګرځوي او که دري ركعته ځني تير

سوي وه بيا به د تشهد وروسته ولاړ

سي يو به ډك او بل به تش ركعت هم

پسي وكړي بيا به سلام وګرځوي او

که دوه رکعته ځني تیر سوي وه بيا به د

امام د سلام ګرځولو وروسته دوه ډك

ركعتونه وكړي خو په اول ركعت كي

به تعوذ هم وايي د دوو ركعتو وروسته

به کښېني د تشهد، درود او دعا وروسته

به سلام گرځوي او که څلور رکعته

ځني تیر سوي وه بیا به دوه ډك او دوه

تش رکعتونه وکړي لیکن په اول رکعت

کي ئي ثناء نه ویل کیږي بلکي د تعوذ

څخه شروع کیږي بیا به کښېني د

تَشَهُّد، درود او دعا وروسته به سلام

گرځوي .

که د مسبوق څخه د ماښام د لمانځه

دوه رکعته تیر سوي وه اول رکعت ته

چي ولاړ سي تعوذ، تسمیه، فاتحه، اٰمین
او یو سورت به وایي د رکوع او دوو
سجدو وروسته به کښیني تشهد به وایي
بیا به ولاړېږي تسمیه فاتحه اٰمین او یو
سورت به وایي د رکوع او دوو سجدو
وروسته به کښیني د تشهد، درود او دعا
وروسته به سلام ګرځوي.

(۱۳۰) د امام په اخیره ناسته کي مسبوق څه شي وایي؟ تشهد.
(۱۳۱) ځیني خلک دي ډېري لګبله چي امام به رکعت ځني تېر کړي لمانځه ته ورځغلي آیا دا ښه کار دی؟ یا بلکي ګناه لري.
(۱۳۲) نو په داسي وخت کي به سړی څه کوي؟ په سنګیني به په عادي تګ ورځي که رکعت ځني تېر سو وروسته به ئي وکړي

# فصل

( د لمانځه په مینځ کي جماعت دریدل )

ځوك چي د ماپښین او ماخستن لمونځ کوي كه د اول ركعت د سجدې دمخه جماعت ودریږي پر همدا ځای به لمونځ پریږدي په امام پسي به اقتداء کوي او که د اول ركعت پر سجده ؤ یا په دوهم ركعت كي ؤ بيا به د دوهم ركعت وروسته سلام گرځوي په امام پسي به اقتداء کوي او که د دريم

(۱۳۳) د جمع د دريدو څه مطلب دی؟ چي امام لمونځ شروع كي

رکعت پر سجده یا په ځلرم رکعت کي
ؤ بیا به لمونځ پوره کوي په امام پسي
به د نفلو اقتداء کوي او که د دریم
رکعت د سجدې مخته ؤ بیا به په ناسته
سلام گرځوي په امام پسي به د فرضو
اقتداء کوي یا به د الله اکبر په ویلو سره
هم دا لمونځ قطع کوي او هم به د امام
په لمانځه کي ځان داخلوي،

د مازیگر لمونځ د ماپښین او ماخستن
په شان دی بیله دې څخه چي د مازیگر

په لمانځه کې که د دریم رکعت پر

سجده ؤ یا په څلرم رکعت کې ؤ د

لمانځه د پوره کولو وروسته بیا په امام

پسې د نفلو اقتداء نسي کولای ځکه

چې د مازیگر وروسته نفل مکروه دي.

د سهار او ماښام په لمانځه کې که د

دوهم رکعت تر سجدې دمخه جماعت

ودرېږي.لمونځ به پر همغه ځای پرېږدي

په امام پسې به اقتداء کوي او که د

دوهم رکعت پر سجده ؤ یا وروسته تر

سجدې جماعت ودرېږي بيا به خپل
لمونځ پوره کوي دلته هم په امام پسي
د نفلو اقتداء کولای نسي.

د سنتو او نفلو په وخت کي که جمع
ودرېږي يا د جمعې خطبه شروع سي
پر دوو رکعتو به سلام گرځوي په امام
پسي به اقتداء کوي په خطبه کي به بيا
و خطبې ته غوږ نيسي.

(۱۳۴) ولي د جمع د پاره منفرد لمونځ نيمگری پرېږدي ؟ ځکه
چي جماعت تر يوازي لمانځه اوه ويشت واره زيات ثواب لري،
(۱۳۵) څوك چي مسجد ته ورسي او جماعت څه وخت وروسته
کېږي څه به کوي ؟ د جماعت انتظار به کوي .

د سهار سنت که چا نه وه کړي او
جمع ودريدل که د سنتو د اداء کولو
وروسته ئي د جماعت يو رکعت نيولای
سوای د مسجد دباندي دي سنت
وکړي بيا دي په امام پسي اقتداء وکړي
او که د دوارو رکعتو د تيريدو بيره
ورسره وه بيا دي سنت پريږدي په امام
پسي دي اقتداء وکړي٠

(۱۳٦) د سهار سنت چي جمع ولاره وي ولي بايد د مسجد
دباندي وسي ؟ ځکه چي دننه په مسجد کي مکروه دي٠
(۱۳۷) ځني خلگ بلکل د صفو سره يو ځای سنت اداء کوي ؟
دا بيا تر هغه لا هم زيات مکروه دي٠

## د سهوي سجده

په لمانځه کې د کمې یا زیاتوب لکبله د پیښې سوي نقصان د راګرځولو د پاره دوې سجدې واجبیږي دغو دوو سجدو ته د سهوي سجده وایي د سهوي سجده د لمانځه په اخیره ناسته کې د تَشَهُّد او راسته خوا ته د سلام ګرځولو وروسته کیږي او وروسته ئي بیا تَشَهُّد درود دعا او سلام ګرځول کیږي.

(۱۳۸) کمې او زیاتوب په څه شي راځي؟ د واجبو په پریښوَلو کمې او د رکوع ناستې او رکعت په اضافه کولو زیاتوب راځي.

## د سهوي واجبونكي

كه څوك په هيره فاتحه يا دعايي قنوت
يا د اخترو زايد تكبيرونه يا تشهد يا اوله
ناسته پريږدي يا د اخيري ناستي وروسته
بل ركعت ته ولاړ سي يا امام په جهري
لمونځو كي قرائت په پټه خوله ووايي او
يا ئي په سرِّي لمونځو كي په زوره
ووايي نو د سهوي سجده باندي
واجبيږي د امام په سهوه سره پر مقتدي
باندي هم سجده واجبيږي خو د مقتدى

په سهوه سره بیا نه پر امام او نه پر مقتدي باندي سجده لازمیږي.

که د چا څخه اوله ناسته په هیره پاته سوه که ناستې ته نژدې ؤ ور په یاد ئي سوه بیرته دي کښیني او سجده هم نه باندي واجبیږي او که ولاړي ته نژدې ؤ یا ودریدی بیا ئي په یاد سوه بیرته دي نه کښیني بلکي لمونځ دي پوره کړي په اخیره کي دي د سهوي سجده وکړي.

(۱۳۹) که تر تشهد وروسته درود هم ووابي بیا ئي په یاد سي چي اوله ناسته ده ولاړ سي آیا په اخیر کي به د سهوي سجده کوي ؟ هو



د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼي له خوا :
www.taleemulislam-radio.com

که څوك پر اخیري ناستې باندې د اولې
ناستې ګمان وکړي او د تشهد وروسته
بل رکعت ته ولاړ سي مثلاً په دوه
رکعتیز لمانځه کي دریم رکعت ته په
درې رکعتیز لمانځه کي څلرم رکعت ته
او په څلور رکعتیز لمانځه کي پنځم
رکعت ته ولاړ سي که د سجدې دمخه
ور په یاد سي بیرته دې کښیني تشهد
دې وواییي د سهوي سجده دې وکړي
او که په سجده کي ور په یاد سي بل

ركعت دي هم ورسره وكړي او هم
دي د سهوي سجده وكړي.
كه د چا څخه اخيره ناسته هيره سي بل
ركعت ته ولاړ سي كه د سجدې دمخه
ور په ياد سي بيرته دي كښيني سلام دي
وگرځوي او د سهوي سجده دي
وكړي او كه د سجدې وروسته ور په
ياد سي فرض ئي په نفلو بدليږي بل
ركعت دي هم ورسره وكړي چي نفل
ئي جفت ركعتونه وگرځي.

# فصل

( د لمانځه په رکعتو کي شکمن کیدل )

څوك چي شکمن سي چي لمونځ مي
پوره سو او که یو رکعت لا پاته دی
که دا ئي په عمر کي اول وار ؤ لمونځ
دي د سر څخه راوګرځوي او که مخته
هم داسي شك ورته پیدا کیدی بیا دي
غالبه ګمان ته وګوري که غالبه ګمان
ئي دا ؤ چي لمونځ ئي پوره دی سلام
دي وګرځوي او که غالبه ګمان ئي دا

ؤ چي يو رکعت بل پاته دی د تشهد
وروسته دي بل رکعت وکړي او بیا
دي د سهوي سجده هم وکړي ·

که د پوره کیدلو او نه پوره کیدلو
گمان ئي برابر ؤ بیا دي لمونځ ناتمامه
وبولي د تشهد وروسته دي بل رکعت
هم ورسره وکړي او هم دي د سهوي
سجده وکړي ·

---

(۱۴۰) د چا چي شك برابر وي یا ئي غالبه گمان دا وي چي یو
رکعت بل هم پاته دی نو بیا ولي دا بل رکعت د تشهد وروسته
کوي ؟ ځکه اخیره ناسته فرض ده کیدلای سي چي لمونځ دي
پوره سوی وي دی دي په خپل گمان کي غلط وي ·

## د تلاوت سجده

په قرآن کريم کي څوارلس ځايه دي چي په ويلو ئي يا د بل شخه په اوريدلو ئي د تلاوت سجده لازميږي او هغه آيتونه پدې سورتو کي دي : (۱) اَلأَعْرَاف (۲) اَلرَّعْد (۳) اَلنَّحْل (۴) بني اِسْرَائِيْل (۵) مَرْيَم (۶) اوله سجده د اَلْحج (۷) اَلْفُرْقَان (۸) اَلنَّمْل (۹) الٓمٓ تَنْزِيْل (۱۰) صٓ (۱۱) حٰمٓ (۱۲) اَلسَّجْدَة (۱۳) اَلنَّجم (۱۴) اَلاِنْشِقَاق .

# فصل

( د تلاوت د سجدې د کولو طریقه )

امامْ که په جهري یا سرّيِ لمانځه کي د سجدې ایت ووایي سمدستي به د اللّٰه اُکبرُ په ویلو سره سجدې ته ځي مقتدی به هم سجده ورسره کوي.

څوك چي د لمانځه د باندي د سجدې أیت ووایي یا ئي د بل څخه واوري که څه هم د اوریدلو قصد ئي و نه لري پر هغه باندي هم سجده لازمیږي.

(۱۴۱) د سجدې د اٰیت سره څنګه نښه لیکلې وي؟ داسي (سجده)

د سجدې يو أيت كه څو واره په يوه مجلس كي تَكرار سي بيا هم پر ويونكي او اوريدونكي ئي يوه سجده لازميږي او كه په څو ځايو كي وويل سي بيا هغوني سجدې باندي لازميږي ۰

د تلاوت په سجده كي لاسونه غوږو ته نه پورته كيږي او نه ئي وروسته تشهد او سلام گرځول كيږي بلكي د دوو تكبيرو تر مينځ يوه سجده د لمانځه په شرايطو اداء كيږي ۰

## د مريض لمونځ

په لمانځه کي قيامه ركوع او سجده فرض ده ليكن كه څوك دريدلاى نسواى هغه به بيا لمونځ په ناستي كوي،

څوك چي ركوع او سجده نسي كولاى نو د سجدې د پاره به مخته بالښت يا بل شى نه ايږدي بلكي لمونځ به په ناستي په اشاره كوي د سجدې اشاره به تر ركوع كښته كوي.

(۱۴۲) څوك چي دريدلاى سي ليكن ركوع او سجده كولاى نسي لمونځ به څنگه كوي ؟ په ناستي په اشاره سره.

څوك چي په ناسټي هم لمونځ نسي

کولای هغه به بیا په پروټي د سر په

اشاره لمونځ کوي یعني ستوني ستخ به

پر بالښت یا بل شي سر کښیږدي پښې

به د قبلې خوا ته وغځوي یا به پر راسته

اړخ مخ پر قبله پریوزي د سر په اشاره

به لمونځ کوي که داسي ئي هم نسوای

کولای بیا ئي لمونځ ځنډیږي.

څوك چي د لمانځه په مینځ کي نور د

دریدلو واك و نه لري مثلاً مریضي یا د

زړه ضعف ورته پیښ سي هغه به پاته
لمونځ په ناستې پوره کوي او که د
رکوع او سجدې واك ئي هم ختم سو
بیا به پاته لمونځ په اشاره پوره کوي او
که د ناستې واك ئي هم ختم سو بیا به
لمونځ په پروتي په اشاره پوره کوي.
پر چا چي په بې هوښي کي پنځه یا تر
پنځو کم لمونځونه تیر سي قضاء به ئي
راګرځوي او که تر پنځو زیات وه بیا
ئي د قضاء راګرځول باندي نسته.

## د سفر مسافه

ځوك چي داسي ځای ته ځي چي هلته په درې ورځي کي پیاده یا پر اوښ رسیدلای سي نو څه وخت چي د ښار د اباديو څخه بیل سو دی مسافر بلل کیږي ځکه چي دا د سفر مسافه ده.

ځیني علماء وايي: د سفر مسافه اتلس فرسخه یعني ۵۴ شرعي میله ده،

۵۴ شرعي میله د ۹٦ کیلو مترو سره سمون خوري،

# د سفر اَحکام

څوك چي ۹٦ كيلو متره يا ددې څخه
ليري ځای ځي هغه د ښار د اباديو
څخه په بيليدلو مسافر گرځي قصر به
كوي .

مسافر روژه خوړلای سي خو قضاء به
ئي راگرځوي .

ښځي ته داسي ځای ته تگ بيله مَحرَم
لكه پلار، زوی، ورور، اكا، ماما
وراره، خوريى يا ميړه څخه گناه لري .

## د مسافر لمونځ

مسافر به قصر کوي يعني څلور رکعتيز فرض لمونځ لکه د ماپښين، مازيگر او ماخستن فرض به دوه رکعته کوي.

مسافر که وخت ولري سنت به هم کوي ليکن که وخت ئي نه درلودی مثلاً : موټر ځني تلی بيا د سنتو پريښول پروا نه لري.

مسافر به په مُقِيْم پسي څلور رکعتيز لمونځ پوره څلور رکعته کوي.

مسافر امام به په څلور رکعتیز لمانځه
کي پر دوو رکعتو سلام گرځوي
مقتديانو ته به وايي: زه مسافر يم تاسي
خپل لمونځونه پوره کړئ ځايي مقتديان
به بيله فاتحې او سورت څخه دوه رکعته
نور هم کوي بيا به سلام گرځوي.

مسافر به تر هغه وخته پوري قصر کوي
چي بيرته خپل وطن ته رائحي يا په يو
ښار کي د پنځلسو ورځو يا زياتو د پاته
کيدلو نيت کوي.

## اِقامت

مسافر چي په يو ښار کي د پنځلسو ورځو يا زياتو د پاته کيدلو قصد وکړي هغه ځاى ئي د اِقامت وطن بلل کيږي او دى مقيم گرځي نه قصر کولاى سي او نه روژه خوړلاى سي.

څوك چي په دوو نژدو وطنو کي د پنځلسو ورځو نيت وکړي مثلاً ١٠ ورځي په مکه شريفه کي او پنځه ورځي په منٰى کي پاته کيدى نو بيا

مقيم نه گرځي او که ورځ ئي په يوه
وطن کي او شپه ئي په بل وطن کي
تيروله بيا د شپې تير د ځای په اقامت
مقيم گرځي.

ځوك چي په يو ښار کي پدې نيت
چي نن به ځم او سبا به ځم کلونه پاته
سي بيا هم مسافر دی قصر به کوي.

(۱۴۳) ځوك چي د خپل وطن څخه بل ليري وطن ته هجرت
وکړي او بيا خپل پخواني وطن ته د پنځلسو څخه کمو ورځو د
پاره راسي لمونځ به څنگه کوي ؟ په قصر ځکه، مسافر دی.
(۱۴۴) مسافر به د څه وخت څخه قصر شروع کوي ؟ څه
وخت چي د خپل ښار د اباديو څخه ووځي.

## د جمعې لمونځ

هر ځای چې داسې امیر او قاضي ولري چې هغوی د شرعي اَحکامو او حدودو د جاري کولو واك ولري هلته د جمعې لمونځ صحیح کیږي او و داسې ځای ته مصر جامع وایي لکه ښارونه او ځینې هغه ولسوالۍ چې ولسوال، مفتي او قاضي ولري پدې شرط چې د حدودو د نافذولو واك هم ورکول سوی وي.

---

(۱۴۵) داسې ځای چې هلته د خلګو دیني او د ژوندانه زیاتې اړتیاوې پوره کیږي ایا هغه ته هم مصر جامع وایي ؟ هو د ځینو علماؤ په وینا.

د جمعې لمونځ د مصر جامع په عيدګاه

او نورو مربوطاتو کې لکه پارکو، د

بازيو او عسکري تعليم ميدانو کې هم

پدې شرط چې د ښار د اباديو سره

مبنې وي صحيح کيږي.

په کلو کې د جمعې لمونځ نه صحيح

کيږي که څه هم دا کلي ښار ته دوني

نژدې وي چې د ښار اذانونه اوري هلته

به خلګ د ماپښين لمونځ څلور رکعته

په جماعت سره کوي.

ښاري سړی که د زوال دمخه صحرا او
کلو ته ووځي نو د جمعې لمونځ ځني
ساقطیږي لیکن که د ښار دباندي مځکو
او مامتو ته ووځي بیا که ئي اذان
اوریدی د جمعې لمونځ به کوي.

کلیوال چي ښار ته راسي او د ماپښین
وخت باندي داخل سي نو بیا پر هغوی
باندي هم د جمعې لمونځ واجبیږي.

پر مسافر، مریض، ړانده او ښځي
باندي د جمعې لمونځ واجب نه دی.

## د جمعې خطبه

د جمعې د لمانځه د پاره دوه اذانونه کیږي اول اذان چې وکړل سي خلک به رانیول او خرڅول او بل هر کار پریږدي لمانځه ته به متوجه کیږي ځکه چې د اول اذان وروسته بیا د لمانځه تر کولو رانیول او خرڅول حرامیږي.

امام چې د خطبې د پاره پر منبر کښیني مخته به ئې په لوړ اٰواز دوهم اذان کیږي بیا به امام په اوداسه په ولاړي دوې

خطبې وايي د دوو خطبو په مينځ کي به لږ گړى کښيني ٠

د خطبې په وخت کي به څوك نفل او سنت نه کوي او نه به خبري کوي بلکي پته خوله به خطبې ته غوږ نيسي که څه هم د خطيب ږغ نه وررسيږي د خطبې په وخت کي که څوك بل د خبرو څخه منع کوي پدې هم د جمعې د ثواب څخه بې برخي پاته کيږي ٠

(۱۴٦) په جمعه کي څو رکعته مؤكد سنت کيږي ؟ لس رکعته څلور د جمعې د لمانځه دمخه شپږ ئي وروسته اول ۴ بيا ۲ کيږي ٠

د خطبې وروسته به امام دوه رکعته په جمع ورکوي او قرائت به په زوره پکښې وايي.

مصر جامع، حاکم يا نائب ئي، جماعت او خطبه د جمعې د لمانځه د جواز شرطونه دي.

معذورينو او بنديانو ته په مصر جامع کې د جمعې په ورځ د ماپښين لمونځ په جماعت کول مکروه دی.

(۱۴۷) د جمعې په لمانځه کې که مسافر يا مريض دمخه سې يا خطبه يو ووايي او لمونځ بل ورکړي، نو دا لمونځ څنګه دی؟ صحيح دی.

# اخترونه

د کوچني اختر په ورځ د عيد گاه د تگ دمخه خورك كول مستحب دي دغه دول غسل كول عطروهل او ښه د جامو اغوستل هم مستحب دي ۰

په کوچني اختر کي عيد گاه ته د ورتگ په وخت کي تکبيرونه ( اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ ) قرار ويل كيږي ۰

لوی اختر هم د کوچني اختر په شان

دی لیکن په لوی اختر کي مستحب

دادي چي د لمانځه دمخه خورك و نه

كړل سي بلكي د لمانځه وروسته د خپل

اختري څخه څه شی وخوري او بل

داچي عيدگاه ته د تگ په وخت كي پر

لاري تكبيرونه په زوره ويل كيږي .

د اخترو په ورځ د لمانځه دمخه په كور

او عيدگاه كي او هم په عيدگاه كي تر

لمانځه وروسته نفل نه كيږي ليكن په

كور كي ئي بيا وروسته كولای سي .

## د اختر د لمانځه طريقه

د لمر ځرك وروسته چي لمونځ روا سو بيا تر زوال پوري د اخترو د لمانځه وخت دی .

په کوچني او لوی اختر کي به امام بيله اذان او اقامت څخه دوه رکعته لمونځ په جماعت سره خلګو ته ورکوي .

د اخترو په لمونځو کي د ثناء وروسته دري تکبيره ويل کيږي او د هر تکبير سره نارينه لاسونه تر غوږو او ښځه ئي

تر اوړو پورته کوي او بیا ایله نیول
کیږي د دریم تکبیر وروسته لاسونه بیرته
تر نامه لاندي او پر سینه نیول کیږي
مقتدیان پټه خوله دریږي امام تعوذ او
تسمیه قرار وایي او بیا په زوره فاتحه او
سورت وایي رکوع او سجده کیږي په
دوهم رکعت کي بیا د سورت د ویلو
وروسته درې تکبیره ویل کیږي د هر
تکبیر سره لاسونه پورته کیږي او بیا ایله
نیول کیږي دغو شپږو تکبیرو ته زواید

تکبیرونه وایي او ذا واجب دي بیا امام
څلرم تکبیر وایي او دا د رکوع تکبیر
دی تموله به په ایله لاسو رکوع ته ځي.
د سلام گرځولو وروسته دوې خطبې
ویل کیږي چي ویل او اوریدل ئي سنت
دي د کوچنۍ اختر په خطبه کي د
سرسایۍ او د لوی اختر په خطبه کي د
اختري طریقه او د تشریق تکبیرونه
خلګو ته ښوول کیږي.

---

(۱۴۸) د عیدګاه پر لاري تکبیرونه تر څه وخته ویل کیږي ؟ تر عیدګاه پوري په عیدګاه او بیرته راتګ کي بیا نه ویل کیږي.

## د تشریق تکبیرونه

پر هر ښاري سړی باندي چي مقیم وي د عرفات د ورځي د سهار د لمانځه څخه بیا د لوی اختر د مازیگر تر لمانځه پوري د هرو فرضو وروسته چي په جماعت ئي اداء کوي یو وار په زوره اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ لاَ اِلٰهَ الاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ویل واجب دي و دغه ته د تشریق تکبیرونه وایي ۰

یاران وایي ، د تشریق تکبیرونه پر هر

نارینه او ښځي باندي مقیم او مسافر
باندي ښاري او کلیوال باندي امام
مقتدي او منفرد باندي د عرفات د
ورځي د سهار د لمانځه څخه د اختر د
ځلرمي ورځي د مازیگر تر لمانځه پوري
تر هرو فرضو وروسته واجب دي او
فتویٰ هم د دوی پر قول ده.

د لوی اختر اولي ورځي ته یوم نحر
ځلرمي ورځي ته ئي تشریق او مینځنیو
ورځو ته ئي ایام نحر او تشریق وایي.

## د ترندي لمونځ

لمر چي ترندي ونيسي حاكم يا د جمعې امام به بيله اذان، اقامت او خطبې څخه دوه ركعته لمونځ په جماعت سره خلكو ته وركوي.

د لمر ترندي په لمانځه كي قرائت اوږد او قرار ويل كيږي ليكن ياران وايي: قرائت په زوره پكښي ويل كيږي.

بيا به امام دعا كوي او خلك به اٰمين وايي ترڅو چي لمر روښانه كيږي.

که امام نه ؤ بیا به هر سړی یوازي

یوازي دوه رکعته لمونځ کوي.

سپوږمۍ چې ترندي ونیسي په جماعت

سره لمونځ نه کیږي بلکې هر څوك به

یوازي یوازي دوه رکعته لمونځ کوي او

وروسته به ئې دعا کوي.

د لمر او سپوږمۍ ترندي نیول زلزلې او

طوفانونه کیدل د الله د قهر نښانې دي

پداسې وختو کې باید څوك لمونځ

وکړي او رب ته په سجده ولویږي.

که امام نه ؤ بیا به هر سړی یوازي یوازي دوه رکعته لمونځ کوي.

سپوږمۍ چي ترندي ونیسي په جماعت سره لمونځ نه کیږي بلکي هر څوك به یوازي یوازي دوه رکعته لمونځ کوي او وروسته به ئي دعا کوي.

د لمر او سپوږمۍ ترندي نیول زلزلې او طوفانونه کیدل د الله د قهر نښاني دي پداسي وختو کي باید څوك لمونځ وکړي او رب ته په سجده ولویږي.

سره خلگو ته په جمع ور کړي او بيا
خطبه ووايي د خطبې په ترځ کي دي
دوپټه سرچپه واړوي او بيا دي مخ پر
قبله دعا کوي مقتديان دي آمين وايي٠
ښه داده چي استسقاء ته خلگ پياده په
ډېره عاجزي ولاړ سي او د تگ دمخه
خيراتونه هم وکړي ليکن اهل ذمه يعني
د اسلامي ملك تذکره لرونکي کافران
دي په استسقاء کي برخه نه اخلي٠

(۱۴۹) ايا په استسقاء کي مقتديان هم دوپټې يا د اوږو دستملان سرچپه اړوي ؟ يا يوازي امام ئي د خطبې په سر کي اړوي٠

## تراویح

د روژې په میاشت کې هره شپه شل رکعته تراویح سنت دي په مسجد کې ئې په جماعت سره کول او هم یو وار د قرآن شریف ختم پکښې کول بیا مستحب دي که ختم مخته وکړل سي په پاته شپو کې به هم تراویح کیږي.

تراویح د ماخستن د لمانځه وروسته دوه دوه رکعته کیږي او د څلورو رکعتو وروسته ئې استراحت کیږي په دغه

ناسته کي د هر چا خپله خوښه ده که

پټه خوله کښيني او که تسبيحات او نور

اَذکار وايي.

په روژه کي وتر د تراويحو وروسته په

جماعت سره جهري اداء کيږي ليکن

دعايي قنوت به امام او مقتديان قرار

وايي خو که د چا څخه څو رکعته

تراويح تيري سوي وي نو د هغه خپله

خوښه ده چي پاته تراويح د وترو دمخه

او که ئي وروسته اداء کوي.

## د بیري لمونځ

که مجاهدینو د دښمن د بیري په جمع
یو ځایي لمونځ نسواي کولای بیا دي
اِمام خلګ دوې ډلي کړي یوه ډله دي د
دښمن په مخ کي ودروي او بلي ډلي ته
دي یو رکعت په جماعت سره ورکړي
د سجدې وروسته دي دا ډله د دښمن
مخي ته ورشي او هغه بله ډله دي راسي
امام دي پاته رکعت ورکړي سلام دي
وګرځوي او دغه دوهمه ډله دي بیله

سلام گرځولو څخه د دښمن مخي ته

ورسي او هغه اوله دله دي راسي يو په

يو دي پاته لمونځ بيله قرائت څخه

وکړي او بيا دي د دښمن مخي ته ولاړه

سي او هغه دوهمه دله دي راسي پاته

لمونځ دي د مسبوق په طريقه اداء کړي

که لمونځ څلور رکعتيز يا دري رکعتيز

ؤ بيا دي اوله دله د دوو رکعتو وروسته

د دښمن مخي ته ورسي ۰

(۱۵۰) که داشي ئي نسواى کولاى ؟ بيا دي پر خپلو سپرليو په اشاره هر لور ته چي وي لمونځ کوي ۰

## زکندن

د چا چي د ژوند حالت خراب سي
یعني زکندن ئي رانژدې سي لیکن عقل
او فکر ئي هنوز لا هم پر ځای وي د
کلمې تلقین دې ور کړل سي او هم دې
پر راسته اړخ مخ پر قبله پریښستل سي یا
دې پښې د قبلې پر خوا ستوني ستخ
پریښستل سي که په دا ډول پریښستلو په
تکلیف کیدی بیا دې پر خپل حال
پرېښول سي .

## د كلمې تَلْقِين

مريض ته د كلمې تلقين دا دول وركول كيږي چې د حاضرو كسانو څخه يو تن د خپل ځان سره لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ په لوړ اواز ووايي څو د مريض هم كلمې ته فكر سي او د دنيا څخه ئې اخري وينا همدا كلمه سي خو داسي دي نه كوي چې مريض ته وايي . كلمه ووايه ځكه حالت د سختۍ دى داسي نسي چې ني وكړي .

## د مري غُسل

د مري سترگي دي پټي كړل سي او
زامي دي ئي وتړل سي د سپدر يا زميو
په اوبو كه دا نه وي په نيم گرمو ساده
اوبو دي غسل پدې ډول وركړل سي :
د غسل تخته دي طاق ځايونه خوش
بويه كړي بيا دي مړى پر پرېباسي كالي
دي ځني وكاږي پر عورت دي توكر
ورواچوي بيله خولې او پزي څخه دي
نور اودس ورتازه كړي بيا دي سر او

ږیره په خطمي که خطمي نه ؤ په
صابون یا شامپو ورپریولي بیا دي پر چپه
اړخ پرېباسي پر راسته طرف دي اوبه
ورواچوي بیا دي پر راسته اړخ پرېباسي
پر چپه طرف دي اوبه ورواچوي د درو
وارو پریوللو وروسته دي تر شا لاس
ورلاندي کړي راپورته دي ئي کړي پر
نس دي په نرمي لاس ورتیر کړي که
څه شی ځني راووتی یوازي هغه دي
ځني پریولي نور غسل ئي صحیح دی.

# کفن

مړی د غسل وروسته په توال وچ کیږي بیا کفن ورکول کیږي.

د نارینه کفن درې ټوکران او د ښځي دا پنځه ټوکران دي که نارینه په دوو او ښځه په درو ټوکرانو کي وپیچل سي بیا هم جواز لري.

د مړي پر سر او ږیره حنوط وهل کیږي او د سجدې پر ځایو یعني پزه، تندي ورغوو، زنګنو او پښو ئي کافور

وهل کیږي او کفن ئي هم طاق ځایونه په عطرو وهل کیږي بیا په کفن کي پیچل کیږي.

د کفن توکران د لُنگ، قمیص او لِفافې په نامه یادیږي د کفن قمیص لستوني او گریوان نه لري بلکي دوني اوږد توکر دی چي مړی د پښو څخه تر غاړي پکښي پټیږي لُنگ او لفافه بیا تر دې هم اوږده توکران دي چي مړی سر تر نوکه پکښي پټیږي.

## د کفن طریقه

مړی پدې ډول په کفن کې پیچل کیږي ، اول لفافه بیا لنګ بیا قمیص یو پر بل سربیره هواریږي بیا مړی پر پریئستل کیږي د قمیص اول چپه بیا راسته اړخ پر رااړول کیږي څو مړی د نوکانو څخه تر غاړي پکښې پټ سي بیا د لنګ اول چپه بیا راسته اړخ پر رااړول کیږي مړی سر تر نوکه پکښې پټیږي بیا لفافه اول چپه اړخ بیا راسته

ارخ پر راارول کیږي مړی سر تر نوکه

پکښې پټیږي.

ښځه هم د نارینه په شان په کفن کې

پیچل کیږي لیکن د قمیص وروسته ئې

د سر وریښتان دوې کوڅې پر سینه

رااوړي او بیا په یونیم گز پوړني ئې سر

او مخ پټیږي او د لنگ وروسته بیا د تیو

څخه تر ورنو پوري په بل توکر کې

پیچل کیږي بیا لفافه پر رااوړي.

---

(۱۵۱) د مړي سر او ږیره ږمونځول یا ئې سترگې تورول یا ئې نوکان پرې کول څنگه دي؟ صحیح نه دي.

## د جنازې لمونځ

د جنازې د لمانځه ورکولو حق اول د پاچا دی که هغه نه وُ نو بیا داده چې د مسجد امام دمخه کړل سي او بیا دا حق د مړي د دوست دی.

که څوك بیله لمانځه ښخ کړل سي نو د جنازې لمونځ ئې په درو ورځو کې پر قبر هم کیدلای سي.

د جنازې په لمانځه کې رکوع او سجده نسته بلکې څلور تکبیرونه دی.

امام د مړي د سيني پر برابري دريږي د
تحريمې تكبير وايي مقتديان هم تكبير
ورسره وايي د تحريمې په وخت كي
لاسونه غوږو ته پورته كيږي بيا تر نامه
لاندي نيول كيږي ښځي په تحريمه كي
لاسونه تر اوږو پورته كوي بيا ئي پر
سينه باندي ايږدي د جنازې په پاته درو
تكبيرو كي لاسونه غوږو او اوږو ته نه
پورته كيږي.

د تحريمې وروسته ثناء ويل كيږي:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَ تَبَارَكَ
اسْمُكَ وَ تَعَالٰى جَدُّكَ وَ لاَ اِلٰهَ غَيْرُكَ ۔

امام دوهم تكبير وايي مقتديان هم اَللّٰهُ
اَكْبَرُ ورسره وايي بيا درود ويل كيږي ۔

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ
كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ
اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ
كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلٰى اٰلِ
اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۔

بيا امام دريم اَللّٰـهُ اَكْبَرُ وايي مقتديان

هم اَللّٰـهُ اَكْبَرُ ورسره وايي وروسته د

مړي دعا ويل کيږي . اَللّٰهُمَّ اِغْفِرْ لِحَيِّنَا

وَ مَيِّتِنَا وَ شَاهِدِنَا وَ غَائِبِنَا وَ صَغِيْرِنَا وَ

كَبِيْرِنَا وَ ذَكَرِنَا وَ اُنْثَنَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهُ

مِنَّا فَاَحْيِهِ عَلَى الْاِسْلَامِ وَ مَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا

فَتَوَفَّهُ عَلَى الْاِيْمَانِ .

بيا امام څلرم تکبير وايي مقتديان هم

تکبير ورسره وايي د تکبير وروسته سلام

ګرځول کيږي .

د کوچني په لمانځه کي بيا دا دعا وايي:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّ مُشَفَّعًا.

د نجلۍ په لمانځه کي بيا دا دعا وايي:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً.

د جنازې لمونځ د پنځو وختو لمونځو په مسجد کي مکروه دی.

---

(۱۵۲) د جنازې په لمانځه کي څو صفونه درېږي؟ بنه داده چي خلگ پر درو يا پنځو يعني طاقو صفو وويشل سي.

## فصل

کوچنی چي ناتمامه نقصان سي یا مړ وزیږي هغه ته غسل او لمونځ نه ورکول کیږي بلکي په یوه ټوکره کي پیچل کیږي بیا ښخیږي ·

کوچنی چي د زیږیدني په وخت کي چغه وکړي یعني ژوندی وزیږي بیا مړ سي پر هغه نوم ایښول کیږي غسل او د جنازې لمونځ ورکول کیږي بیا د نورو مړو په شان په قبر کي ښخیږي ·

## قبر

جنازه په چتکتیا سره پر اوږو وړل کیږي قبر ته لحد ورکول کیږي خو که مځکه خامه وه بیا د قبر په مینځ کي جر کښل کیږي مړی په لحد کي د قبلې د خوا پر راسته اړخ پریښودل کیږي د کفن غوټې ئي خلاصیږي د لحد خوله په اومو خښتو پسي بندیږي بیا خاوري پر رااوړي د ماهي د ملا په شان لږ څه پورته ګول قبر پر جوړیږي.

## شهید

شهید هغه مسلمان ته وايي چي کافران ئي ووژني یا ئي مسلمانان په ناحقه سره قصدًا ووژني.

شهید ته غسل نه ورکول کیږي بلکي په وینو رنګ پخپلو کالو کي د جنازي لمونځ ورکول کیږي بیا ښخیږي.

د شهید جامې که تر کفن کمي وي مثلاً، یوازي قمیص او پرتوګ ئي پر تن ؤ بیا د لفافي د پاره بل توکر وراضافه

کیږي او که خپل پتو ورسره ؤ بیا په
هغه کي پیچل کیږي ·
د شهید ښځه تر کفن پالتو شیان لکه
قطار بوټونه او کوټ کښل کیږي ·
امام صاحب وایي ، جنوب او نابالغه
شهید ته غسل او کفن ورکول کیږي
لیکن یاران وایي : دوی دوو ته هم غسل
نه ورکول کیږي بلکي پخپلو جامو کي
په وینو رنګ ښخیږي ·

(۱۵۳) آیا هغه ته هم شهید وایي چي د جنګ په میدان کي
زخمي بدن مړ پیدا سي ؟ هو دا هم شهید دی ·

## اِرْتِثَاث

څوك چي د زخمي كيدلو وروسته اِرْتِثَاث وكړي يعني خوړنګ يا څښنګ وكړي يا دوا او معالجه وكړي يا په هوښ كي دوني ژوندى پاته سي چي د لمانځه وخت پر تير سي يا د جنګ د ميدان څخه ژوندى يوووړل سي او بيا مړ سي هغه ته غسل وركول كيږي.

څوك چي په حد او قصاص كي ووژل سي هغه ته هم غسل او لمونځ وركول

کیږي او بیا ښخیږي .

یاغیان او لاري نیونکي غله چي ووژل سي د نورو د عبرت د پاره هغوی ته غسل او لمونځ نه ورکول کیږي .

څوك چي په طاعون مړ سي یا غرق سي یا تر تعمیر لاندي سي یا د دیني علومو طالب په طالبي کي مړ سي یا ښځه د لنگون په وخت کي مړه سي دا هم شهیدان دي لیکن د نورو مړو په شان غسل او کفن ورکول کیږي .

## قضاء

لمونځ چي پخپل وخت کي دننه اداء کيږي هغه ته وختي لمونځ وايي او چي تر خپل وخت وروسته راګرځي هغه ته قضايي لمونځ وايي٠

د چا څخه چي لمونځ قضاء سي نو هر وخت چي ئي په ياد سي قضاء به ئي راګرځوي او د وختي لمانځه څخه به ئي دمخه کوي ليکن که د وختي لمانځه د قضاء کيدو بيره وه بيا به وختي لمونځ

ځني دمخه کوي او د هغه وروسته به قضايي لمونځ راګرځوي.

که د چا څخه څو لمونځونه. قضاء سي نو دا لمونځونه به پخپل ترتيب سره يو په بل پسي د وختي لمانځه دمخه راګرځوي بيا به وختي لمونځ کوي ليکن که قضايي لمونځونه تر پنځو زيات سول بيا ئي په ترتيب سره راګرځول واجب نه دي دغه دول که وختي لمونځ قضاء کيدی يا د هغه وروسته ئي په ياد سو.

مسافر به د سفر قضاء په کور کي سفريانه راګرځوي او د کور د څلورو رکعتيزو لمونځو قضاء به په سفر کي پوره څلور رکعته راګرځوي.

که د چا څخه د جمعې لمونځ تير سي بيا به ئي پر ځاى څلور رکعته د ماپښين فرض لمونځ اداء کوي.

د کوچني اختر لمونځ که اوله ورځ د عذر لکبله د خلګو څخه پاته سي نو په دوهمه ورځ ئي هم اداء کولاى سي.

د لوی اختر لمونځ که اوله او دوهمه

ورځ د عذر لکبله پاته سي په دريمه ورځ

ئي هم خلګ اداء کولای سي ۰

د چا ښځه چي د اختر لمونځ تير سي

نو د هغه قضاء باندي نسته ۰

که د چا ښځه وتر قضاء سي د سهار

د فرضو دمخه به ئي قضاء راګرځوي ۰

ځوك چي د سهار دوه رکعته فرض

اداء کړي ليکن د وخت د تنګي يا

جماعت لکبله د فرضو دمخه دوه رکعته

مؤكد سنت ځني پاته سي نو قضاء ئي نه

راګرځي او كه د سهار سنت او فرض

دواړه ځني قضاء سول كه قضاء ئي د

زوال دمخه راګرځول د سنتو قضاء به

هم راوړي خو د زوال وروسته بيا

يوازي د فرضو قضاء راوړل كيږي .

د چا څخه چي د ماپښين مخكني څلور

ركعته مؤكد سنت پاته سي د ورستنيو

دوو ركعتو مؤكدو سنتو وروسته به ئي

اداء كوي .

# زکات

زکات د اسلام دریمه بناء ده او په دوهم هجري کال کي د شوّال په میاشت کي فرض سوی دی.

پر چا چي زکات فرض وي او نه ئي ورکوي هغه ته په آخرت کي ډیر سخت عذاب ورکول کیږي.

پدې هکله د قرآني آیت ترجمه داسي ده:

هغه کسان چي سره او سپین زر ذخیره کوي او د الله په لاره کي ئي نه خرڅوي

هغوی لره د دردناك عذاب خبرتیا ورکړه
هغه ورځ چي دا سره او سپین زر به ئي د
دوږخ په اور گرمیږي او بیا به ئي تندیان
بغلونه او ملاوي په داغیږي
دا ستاسي هغه مالونه دي چي پخپله مو
د ځانو د پاره ذخیره کول . ( ۳۵ أیت سورة التوبة )
نو د هغو کسانو مالونه چي زکات ئي نه
ځني ورکوي په حقیقت کي د دوږخ د
اور سکروټي دي چي پخپله ئي د ځان د
پاره په دنیا کي راټولوي .

## د زکات فرضیت

زکات پر هر مسلمان باندي که نر وي او که ښځه وي چي د نصاب پوره خاوند وګرځي او بیا یو قمري کال باندي تیر سي فرض دی.

د کوچني او لیوني په مال کي زکات نسته ځکه چي هغوی مکلف نه دي.

(۱) د قمري کال دولس میاشتي کمي دي؟ مُحَرَّم، صَفَر، رَبِیع اول، رَبِیع ثَان، جُمادیٰ اُولیٰ، جُمادیٰ اٰخِره، رَجَب، شَعبَان، رَمَضَان، شَوَّال، ذُوالقَعدَه، ذُوالحِجَّه.

(۲) د شمسي کال دولس میاشتي کمي دي؟ حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدي، دلو، حوت.

هغه څوك چي نقدي پيسې او مالونه ولري ليكن پورونه پر باندي وي او تولي پيسې او مالونه ئي په پور كي ځي پر هغه باندي زكات نه واجبيږي ځكه چي د بل په مالو څوك نه غني كيږي ·

ليكن كه د چا پيسې او مالونه د پور څخه زياتيدل بيا به ددغو پاتو پيسو زكات وركوي پدې شرط كه دا اضافه پيسې ئي نصاب ته رسيدلي ·

# نِصاب

د زکات نصاب هغه مقدار پیسو او مالو ته وایي چي د هغه په درلودلو سړی په شریعت کي غني ګرځي پر غني باندي سرسایه او اختړی واجب دی او هم د قمري کال په تیریدو سره زکات باندي فرضیږي دغه ډول غني ته د بل چا څخه زکات اخیستل هم حرامیږي ۰

سره زر ، سپین زر ، پسونه ، غوایي او اوښان ځان ته بیل بیل نصابونه لري ۰

## د ژوندانه اړتیاوي

هغه شیان چي انسان د پخپل ژوندانه په اصلي اړتیاؤ کي ضرورت ورته لري هغه که هر څوني زیات قیمت هم ولري بیا هم په نصاب کي نه شمیرل کیږي.

د استوګني کورونه، د اغوستلو کالي، د کور سامانونه، د سپرلۍ د پاره عراده جات او حیوانان او د استعمال اسلحې د ژوندانه د اصلي اړتیاؤ څخه دي نو ځکه پدې شیانو کي زکات نه واجبیږي.

## تجارتي مالونه

هغه كورونه ، دوكانونه ، عراده جات حيوانان ، سامانونه او اسلحې چې د استوګنې او استعمال كار نه ځنې اخيستل كيږي بلكې د تجارت او ګټې د پاره رانيول شي نو بيا د ژوندانه په اصلي ارتياؤ كې نه شميرل كيږي ددغو مالو قيمت كه نصاب ته رسيدى او يا ئې د نورو مالو سره په يو ځاى كيدلو نصاب پوره كيدى زكات به ئې وركوي.

## د زکات نیت

د زکات نیت ضروري دی څوك چې یو مسکین ته پیسې یا یو شی ورکړي او د ورکولو وروسته ئې د زکات نیت وکړي نو دا پیسې او مال ئې په زکات کې نه شمیرل کیږي.

هغه پیسې او مال په زکات کې شمیرل کیږي چې سړی ئې و مسکین ته د ورکولو په وخت کې د زکات نیت وکړي او یا ئې د زکات په نیت د نورو

پیسو او مالو څخه رابیل کړي مثلاً ، یو

سړی د زکات په نیت په جلا جیب کي

پیسي واچوي دغه پیسي چي هر مسکین

ته ورکوي په زکات کي شمیرل کیږي

که څه هم و مسکین ته د ورکولو په

وخت کي د زکات نیت ورسره نه وي

ځکه هغه مخکنی نیت ئي صحیح کیږي

او نیت ئي هم یوازي د زړه معتبر دی.

---

(۳) آیا مسکین ته په خوله ویل چي دا مال په زکات کي را څخه واخله هم ضروري دی ؟ یا ځکه چي نیت د زړه ضروري دی ښه داده چي د تحفې او امداد په ډول ئي ورکړي ځکه چي ډیر مستحقین په ښکاره ډول د زکات په اخیستلو زوروړل کیږي.

# تَمْلِيك

په زكات كي بيله عوض څخه تمليك ضروري دى تمليك دې ته وايي چي سړى خپلې پيسې يا مال بل چا ته په ځان وركړي څو هغه ئي مالك وګرځي ·

د بيله عوض معنىٰ داده چي دا پيسې به مسكين ته د كار او مزدوري په بدل كي نه وركول كيږي بلكي خالص به د الله د رضا د پاره وركول كيږي ·

(۴) د زكات په پيسو ولې مدرسه مسجد او پُل نه جوړيږي ؟ ځكه چي دا د خلګو ګډ شيان دي يو خاص سړى ئي مالك نه ګرځي ·

## اِبَاحت

زکات د اِباَحت په ډول نه صحیح کیږي اِباَحت دې ته وایي چې سړی بل چا ته د خپل مال اجازه وکړي مثلاً : یو څوك و بل چا ته د خپل باغ د میوو د خوړلو اجازه وکړي هغه چې هر څوني میوه ددې باغ څخه وخوري په زکات کي نه شمیرل کیږي یا مسکینان میلمانه کړي هغوی چې هر څوني ډوډۍ وخوري هغه په زکات کي نه حسابیږي.

## د سرو زرو نِصاب

څوك چي د پور او د ژوندانه اړتياؤ څخه اضافه د شلو شرعي دينارو په اندازه سره زر ولري هغه غني بلل كيږي د قمري كال په تيريدو سره نيم دينار يعني دوه نيم فيصده زكات باندي فرضيږي.

شرعي دينار د سرور زرو و هغي سكې ته وايي چي وزن ئي يو مثقال ؤ او په مخكي وخت كي ئي رواج درلودی.

(٥) آيا د استعمال په زرو كي لكه د ښځي گوتمی بنگري او امثال كه نصاب پوره كري هم زكات فرض دی ؟ هو فرض دی.

## د سپینو زرو نصاب

څوك چي د پور او د ژوندانه ارتیاؤ څخه اضافه د دوو سوو شرعي درهمو په اندازه سپین زر ولري هغه غني بلل کیږي د زکات اخیستل ورته حرامیږي سرسایه او اختری باندي واجبیږي د قمري کال په تیریدو سره پنځه درهمه یعني دوه نیم فیصده زکات باندي فرضیږي .

شرعي درهم د سپینو زرو سکه وه د لسو درهمو وزن د اوو دینارو سره برابر ؤ .

## دینار او درهم

شرعي دینار د سرو زرو سکه وه یو دینار شل قِراطه ؤ یو قراط د پنځو میانه ؤ وربشو سره برابر ؤ چې پدې حساب یو شرعي دینار یا شرعي مثقال د سلو میانه ؤ وربشو سره برابر ؤ.

شرعي درهم د سپینو زرو سکه وه وزن ئې څوارلس قِراطه ؤ د یوه شرعي درهم وزن د اویاؤ میانه وربشو سره برابر ؤ

د سرو زرو نصاب یعنې شل دیناره ځیني

علماء د مروجه بين المللي وزن د سلو
گرامو سره برابر بولي او ځيني ئي د اوو
نيمو تولو يعني(۹۰) گرامو سره برابر بولي
ځيني ئي بيا د(۸۵) گرامو سره برابر بولي.
د سپينو زرو نصاب يعني دوه سوه درهمه
ځيني علماء د (۷۰۰) گرامو سره برابر
بولي او ځيني ئي د دوو پنځوس نيمو تولو
يعني (٦۳۰) گرامو سره برابر بولي او
ځيني ئي بيا د (۵۹۵) گرامو سره برابر
بولي د هند او پاکستان علماء کرام په

دوارو کي مینځنی قول غوره بولي.

علماؤ کرامو چي د دینار او درهم وزن په نننی مروجه وزن یعني گرام باندي بیل بیل بیان کړی دی د هغه وجه داده چي مخکنیو علماؤ کرامو د دینار او درهم وزن په قراط او د قراط وزن ئي په وربشو ښودلی دی ښکاره خبره ده چي وربشي د منطقې او تخم لکبله په وزن کي تفاوت لري نو ځکه دا مختلف قولونه ئي په مروجه وزن کي راغلي دي.

# د کال تیریدنه

څوك چي د نصاب خاوند وګرځي سمدستي زکات نه باندي فرضیږي بلکي چي یو قمري کال باندي تیر سي او د کال په پای کي هم د نصاب خاوند وي نو بیاً دوه نیم فیصده زکات باندي فرضیږي.

څوك چي د نصاب خاوند وګرځي او د کال د تیریدو دمخه ئي زکات اداء کړي دا هم صحیح کیږي.

څوك چي د نصاب خاوند نه وي او د زكات په نيت څه شی مسکین ته ورکړي او بيا وروسته د نصاب خاوند وګرځي نو مخکنی ورکړه ئي په زکات کي نه شمېرل کيږي بلکي په نفلي خيرات کي شمېرل کيږي.

څوك چي د کال په سر او پای کي د نصاب خاوند وي او د کال په مينځ کي ئي سرمايه تر نصاب کمه سي بيا به هم زكات ورکوي.

## تجارتي مالونه

تجارتي مالونه چې هر شی وي په هغه کې هم په کال کې دوه نيم فيصده زکات فرض دی پدې شرط چې دا مالونه دوني قيمت ولري چې په هغه سره اوه نيمې تولې (٩٠ گرامه) سره زر يا دوو پنځوس نيمې تولې (٦٣٠ گرامه) سپين زر رانيول سي او هم دا مالونه دده د پور او ژوندانه ارتياؤ څخه اضافه وي.

---

(٦) آيا کورونه ځمکې موټران او حيوانان چې .د تجارت او گټې د پاره ئې څوك رانيسي او بيا ئې خرڅوي هم تجارتي مالونه دي ؟ هو

# څاروی

څاروی یعني اوښان غوايي پسونه او آسان چي د نسل زيږوني او شيدو د پاره ساتل کيږي که د کال په زياته برخه کي په غرو او دښتو کي پیول کيدل دي ته سائمه وايي که خپل تاکلی نصاب پوره کړي زکات پکښي فرضيږي او که د کال نيمه برخه يا زيات پر کور وابنه ورکول کيدل بيا عَلوفه دي زکات پکښي نسته لکه د بار او کار حيوانان.

# د اوښانو زکات

د سائمه اوښانو نصاب پنځه اوښان دي چي پنځو ته ورسيږي د کال په تيريدو سره يو پسه زکات پکښي فرضيږي د پنځو څخه تر ۹ پوري همدا يو پسه دی. د لسو اوښانو څخه بيا تر ۱۴ پوري دوه پسونه د ۱۵ څخه بيا تر ۱۹ پوري دري پسونه د ۲۰ څخه بيا تر ۲۴ پوري څلور پسونه د ۲۵ څخه بيا تر ۳۵ پوري دوه کلنه جونګۍ به په زکات کي ورکوي.

## د غوایو زکات

د سائمه غواو او غویو نصاب دیرش دی
چې تعداد ئې دیرشو ته ورسیږي بیا تر
۳۹ پورې د کال په تیریدو سره یو نر یا
ماده سخوندره چې پینه ئې په دوهم کال
کې وي به په زکات کې ځنې ورکوي،
د ۴۰ څخه بیا تر ۵۹ پورې به بیا داسې
گلگې یا گلگی چې پینه ئې په دریم
کال کې وي په زکات کې ځنې ورکوي

(۷) د ۶۰ څخه ئې بیا طریقه څنگه ده؟ پر هرو ۳۰ دوهم کال ته ورداخل او پر هرو ۴۰ و دریم کال ته ورداخل نر یا ماده واجبیږي.

## د پسو زکات

د سائمه پسو او بزو نصاب څلوېښت دی د ۴۰ څخه بيا تر ۱۲۰ پوري به يو پسه يا بزه په زکات کي ځني ورکوي.

د ۱۲۱ پسو څخه بيا تر ۲۰۰ پوري به دوه پسونه په زکات کي ځني ورکوي.

د ۲۰۱ څخه بيا تر۳۹۹ پوري به دري پسونه په زکات کي ځني ورکوي په ۴۰۰ کي څلور او بيا پر هرو سلو پسو کي يو پسه اضافه کيږي.

## د آسانو زکات

سائمه آسان چي نر او ماده سره گډ وي

د کال په تیریدو سره زکات پکښي

فرضیږي د خاوند خوښه ئي ده که پر هر

آس یو دینار ورکوي او که ئي بیه کوي

د قیمت دوه نیم فیصده ئي ورکوي.

هغه غاتري او خره چي د تجارت د پاره

نه وي په هغو کي زکات نشته.

په زکات کي میانه حیوان چي نه تر ټولو

چاغ وي او نه تر ټولو ډنگر واجبیږي.

# فصل

(د کال په مینځ کي گټه کول)

څوك چي د نصاب خاوند وگرځي او د کال په مینځ کي گټه وکړي یا څاروی ئي اولاد وزیږوي د اصلي نصاب کال چي پوره سي د گټي او نوي نسل زکات به هم ورسره ورکوي.

دغه ډول که د نصاب مال ئي د کال په مینځ کي د هبې میراث یا بل درکه زیات سو هغه هم د اصلي نصاب تابع گرځي.

# عشر

باغونه او ځمکي چي هر څوني حاصل وکړي د هغه لسمه برخه به په زكات كي ځني وركوي و دغه ته عُشْر وايي.

هغه ځمكي او باغونه چي په واټرپمپ يا سلواغو اوبيږي د هغو ځمكو د حاصل نِصْف عشر يعني شلمه برخه ئي په زكات كي وركول كيږي.

هغه نلان وابنه او لرگي عشر نه لري كم چي خلگ ئي نه كري خپله راشنه كيږي

## د زکات مَصْرَف

هغه کسان چي هغوی ته د زکات ورکول صحیح کیږي هغو ته د زکات مَصْرَف وايي په قرآن کریم کي د زکات مَصْرَف لاندي اته ډلي ښودل سوي دي:

(۱) فقیران (۲) مسکینان (۳) د زکات راټولونکي (۴) مُؤَلَّفَةُ الْقُلُوْبِ (۵) مُکَاتَب غلامان (٦) پوروړي (۷) مجاهد (۸) مسافر.

په پورته اتو ډلو کي د څلرمي ډلي حکم

منسوخ دی او پنځمه ډله اوس وجود نه
لري پاته شپږو ډلو ته د زکات ورکول
صحیح کیږي ۰
فقیر هغه ته وايي چي هیڅ نه لري او
مسکین هغه ته وايي چي یو څه شی لري
خو د نصاب څاوند نه وي ۰
د زکات راټولونکو څخه مراد هغه کسان
دي چي د حکومت لخوا د زکات راټولو
د پاره ټاکل کیږي په عربي کي عامل
ورته وايي عامل که څه هم غني وي بیا

هم د زكات د پيسو څخه دده د كار په اندازه ورکول کیږي.

د مجاهد څخه مراد هغه مجاهد دی چي غني نه وي.

د مسافر څخه مراد هغه مسافر دی چي مسکين وي يا د ځان سره پیسې و نه لري که څه هم په خپل وطن کي پیسې او مالونه ولري خو هغه ته ئي لاس نه رسیږي.

(۸) آيا ددغو دلو څخه ماسيوا بل چا ته هم د زكات وركول صحيح کیږي؟ يا يوازي همدا دلي د زكات مستحقين دي.

## فصل

( هغه کسان چي د زکات مصرف نه دي )

زکات ورکونکئ خپل زکات پلار نیکه ورنیکه مور انا ورنه انا زوی لمسي کړوسي یعنې خپل اصولو او فروعو ته نسي ورکولای.

سړی خپلې ښځي ته او ښځه خپل میړه ته هم زکات نسي ورکولای لیکن یاران وایي د ښځي زکات پر خپل میړه باندي صحیح کیږي.

غني او د غني و نابالغه اولاد ته هم زكات نه وركول كيږي.

د غني بالغ اولادونه كه مسكينان وه بيا زكات اخيستلاى سي.

و سيدانو ته هم د زكات وركول نه صحيح كيږي.

كافر ته هم د زكات وركول نه صحيح كيږي ځوك چي پر چا د مسكين خيال وكړئ او زكات وركړي وروسته ورته معلوم سي چي هغه غني ؤ يا سيد ؤ يا

کافر ؤ یا په تاریکه کي ئي مسکین ته
زکات ورکړی وروسته ورته څرگند سو
چي هغه ئي خپل پلار یا زوی ؤ دوهم
ځل پر ده باندي د زکات ورکول نسته
لیکن ابو یوسف وایي ، دا په زکات کي
نه شمیرل کیږي بیا به زکات ورکوي ۰
د نصاب خاوند ته زکات ناجایزه دی
که څه هم د نصاب کال ئي پوره نه وي
د مړي کفن مسجد مدرسه پُل او داسي
نور د زکات په پیسو نه جوړیږي ۰

## سرسایه

هر مسلمان چي د پور او ژوندانه ارتیاؤ څخه اضافه د زکات د نصاب په اندازه پیسې یا مالونه ولري پر هغه باندي د خپل ځان او د خپل نابالغه اولاد سرسایه واجب ده.

پر سړي باندي د خپلي ښځي او بالغو اولادو سرسایه ورکول واجب نه ده.

سرسایه د کوچني اختر د اولي ورځي د سپیدو سره سم واجبیږي ښه داده چي د

عيدگاه د تگ د مخه ئي اداء كړي كه

څوك ئي د اختر د ورځي دمخه اداء كړي

هم صحيح كيږي.

د يوه نفر سرسايه نيمه صَاع غنم يا يوه

صَاع وربشي يا خرما كيږي.

يوه صَاع څلور مُده كيږي او هر مُد دوه

رِطْلَه كيږي يوه صَاع د (۳۸۰۰ گرامه) دري

كيلو او اته سوو گرامو سره سمون

خوري د غنمو او وربشو قيمت وركول

هم په سرسايه كي صحيح كيږي.

## روژه

روژه د اسلام ځلرمه بناء او رکن دی

حضرت سلمان رضی الله عنه وايي:

رسول الله صَلَّى اللّٰـهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ د شَعْبَان

په اخيره ورځ په خطبه کي وويل ، اې

خلګو ! پر تاسي باندي ډيره لويه مياشت

راغله دا مبارکه مياشت ده پدې مياشت

کي يوه شپه ده يعني ليلة القدر چي تر

زرو مياشتو ښه ده .

الله جَلَّ جَلاَلُهُ ددې مياشتي روژه فرض

کړي ده او د شپې ولاړه يعني تراويح ئي
نفل کړي دي۰

څوك چي پدې مياشت کي د خير کار
وکړي نو د نورو مياشتو د فرضو په
اندازه ثواب باندي ورکول کيږي۰

او څوك چي پدې مياشت کي فرض اداء
کړي نو د نورو مياشتو د اوياؤ فرضو په
اندازه ثواب باندي ورکول کيږي۰

روژه د صبر مياشت ده او د صبر ثواب
جنت دى روژه يو د بل د غم خوړلو

مياشت ده.

په روژه کي د مؤمن رزق زياتيږي په روژه کي چي څوك روژاتي ته روژه مات ورکړي نو دا روژه مات به ئي د گناهو د بخښني او د دوږخ د اور څخه د خلاصون سبب وگرځي او هم به د روژاتي د ثواب په اندازه ثواب ورکړل سي بيله دي څخه چي د روژاتي په ثواب کي دي کمي راسي.

موږ ورته وويل، اې د الله رسوله! موږ

خو هر يو دوني شی نه لرو چي روژاتي

په مور کړو د الله رسول عليه الصلوة و

السلام ووېل ، الله دغه ثواب و هغه چا ته

ورکوي چي يوه دانه خرما يا يو غړپ

اوبه يا نری شيدې و روژاتي ته په روژه

مات کې ورکړي او که څوك روژاتي په

نس مور کړي الله به ئي زما د حوض

کوثر څخه داسي اوبه کړي چي جنت ته

د ننوتلو تر وخته به بيا نه تږی کيږي .

روژه داسي مياشت ده چي اولي لس

ورځي ئې د رحمت دي مینځنی لس

ورځي ئې د بخښنې دي اٰخرنی لس ورځي

ئې د جهنم د اور څخه د اٰزادولو دي

څوك چي د روژې په میاشت کي پر

خپل غلام (نوکر) کار سپك کړي الله به

بخښنه ورته وکړي او د دوږخ د اور څخه

به ئې خلاص کړي . ( مشکاة عن البیهقي )

(۹) لیلة القدر د روژې څرومه شپه ده ؟ لیلة القدر په کال کي یوه شپه ده ددغي یوې شپې عبادت د ۸۳ کالو څخه زیات ثواب لري دا شپه معلومه نه ده لیکن د روایاتو څخه څرگندیږي چي دیر احتمال ئې په روژه کي دي په روژه کي بیا اخیري لس شپې په اخیرو لسو شپو کي بیا طاق شپې په طاقو شپو کي بیا ۲۷ شپه .

## د روژې تعريف

د روژې په نيت د سپيدو څخه بيا تر لمر وليدو پورې د خوراك چښاك او جماع څخه ځان ساتلو ته روژه وايي.

د رمضان د مياشتې د روژې نيت او د نفلي روژې نيت كه څوك د شپې و نه كړي نو د ورځې د زوال د مخه ئي هم نيت صحيح كيږي پدې شرط چې د سپيدو وروسته ئي خوراك چښاك او جماع نه وي كړي.

ليكن د روژې د مياشتې د قضايي د پاره بيا د شپې څخه نيت ضروري دی ځکه چي د سپيدو وروسته ئي بيا د قضايي نيت نه صحيح کيږي.

دغه ډول کَفَّارې او هغه نذري روژې چي ورځ ئي ټاکلې نه وي هم د شپې نيت غواړي.

د روژې د نيولو اراده کول او هم ئي فرض يا نفل ځان ته معلومول نيت دی په خوله د نيت الفاظ ويل سنت دي.

## د شعبان نویشتمه

قمري میاشتي کله دیرش ورځي او کله نه ویشت ورځي وي نو ځکه خلګو ته پکار ده چي د شعبان پر نویشتمه ورځ د روژي د میاشتي په تلاښ کي سي که میاشت ولیدل سوه سبا ورځ به روژه نیسي او که میاشت و نه لیدل سوه سبا ورځ د شعبان دیرشمه شمیرل کیږي سبا نه بل سبا روژه نیول کیږي .

---

(۱۰)د شعبان په دیرشمه ورځ که هم میاشت و نه لیدل سي سبا به څه کوي ؟ روژه به نیسي ځکه قمري میاشت تر دیرش نه زیاتیږي .

## د میاشتې لیدنه

که په أسمان کې وریځ او گرز ؤ او یوه عادل نفر نارینه یا ښځې د روژې د میاشتې پر لیدلو شاهدي اداء کړل قاضي دي ئې شاهدي قبوله کړي،

څوك چې یوازې د روژې میاشت وویني لیکن قاضي ئې شاهدي قبوله نه کړي هغه به پټپله روژه نیسي.

که په أسمان کې گرز او وریځ نه وه بلکې صاف ؤ نو بیا د یوه نفر شاهدي نه

قبلیږي بلکي قاضي هغه وخت د روژې
حکم ور کولای سي چي دوني ډیر خلګ
ئي وويني چي د هغوی په خبرتیا سري ته
د میاشتي د لیدلو علم او داد حاصل سي.
د اختر د میاشتي په لیدلو کي که اُسمان
صاف ؤ نو قاضي د روژې په شان دلته
هم د ډیرو خلګو په لیدلو سره د اختر
حکم ور کولای سي او که په اُسمان کي
ګرز او وریځ وه بیا قاضي د دوو سړیو یا
یوه سړي او دوو ښځو چي عادلان وي

په شهادت د اختر حکم ورکولای سي ·

څوك چي د اختر میاشت وويني نو هغه

یوازي اختر نسي کولای بلکي روژه به

نیسي د نورو خلگو سره به یو ځای اختر

کوي دغه ډول که څوك د روژې په اخیر

کي بل وطن ته ولاړ سي اختر به د هغه

وطن د خلگو سره یو ځای کوي که څه

هم دده روژې د خپل وطن په حساب تر

دیرشو زیاتیدلې یا کمیدلې البته که روژې

ئي ۲۸ سوې د یوې قضاء به راوړي ·

## اختلاف مَطَالِع

د مَشرق څخه تر مَغرب پوري په ټولو وطنو کي لمر او سپوږمۍ په يوه وخت کي نه راخيږي بلکي د نږدي والي او ليري والي په اندازه فرق پيدا کوي حتیٰ په يوه وطن کي لمر د راختلو په حال کي وي په بل وطن کي بيا ډ وليدلو په حال کي وي دغه ته اختلاف مطالع وايي .

د ټولو امامانو په نزد هر وطن ته خپل مَطلِع د لمانځه په وخت کي معتبر دی په

يوه وطن کي چي لمر ولويږي هلته خلګ
د ماښام لمونځ کولای سي خو د هغه بل
وطن خلګ چي هلته لا لمر نه وي
وليدلی بيا پدغه وخت کي د ماښام
لمونځ نسي کولای دغه ډول په حج او
اختري کي هم د هر وطن خپل مَطلع
معتبر دی مثلاً ، د اختر په دريمه ورځ
سږی اختری حلالولای سي که څه هم
په بل وطن کي همدا د اختر څلرمه وي٠

(۱۱) مَطالِع څه شي ته وايي ؟ مَطالِع جمع د مَطلِع ده مَطلِع د لمر او سپوږمۍ راختلو ته وايي٠

په روژه کي ځيني علماء کرام اختلاف

مطالع ته اعتبار ورکوي يعني لکه څنګه

چي په لمانځه کي د هر وطن خپل مَطلِع

معتبر دی دغه ډول په روژه کي هم د هر

وطن خپل مَطلع معتبر بولي .

او ځيني علماء کرام بيا اختلاف مطالع ته

په روژه کي اعتبار نه ورکوي وايي ، که

په مَغرب کي مياشت وليدل سي نو د

مشرق خلګ به هم روژه نيسي که څه

هم هلته مياشت نه وي ليدل سوې .

## مريض

مريض كه د روژې په نيولو د مرض د زياتيدو څخه بيريدی يا حامله ښځه يا تی ور كونكې ښځه پر خپل كوچني بيريدلې نو بيا دوی ته روا ده چي روژه وخوري خو بيا به ئې قضايي راگرځوي.

مريض كه په هماغه مريضي كي مړ سو قضاء باندي نسته او كه د جوړتيا وروسته مړ سو بيا د جوړتيا د ورځو په اندازه قضاء يعني فديه باندي لازميږي.

## مسافر

مسافر ته د روژې خوړل روا دي خو وروسته به قضايي راګرځوي.

مسافر ته كه د روژې نيول تاوان نه كوی نو بيا ئي د روژې نيول افضل دي.

څوك چي په يوه وطن كي د پنځلسو يا زياتو ورځو د اوسيدلو نيت وكړي هغه ته د روژې خوړل ناجايز دي ځكه چي په شرعيت كي مسافر نه بلل كيږي.

(۱۲) څوك چي د ورځي په سر كي مقيم وي روژه ئي نيولې وي بيا مسافر سي آيا ددغي ورځي د روژې ماتول ورته جايز دي ؟ يا

## شیخ فاني

شیخ فاني بوډا ته وایي بوډا او بوډۍ که روژه نسوای نیولای نو روژه دي خوري د هري روژې د پاره دي مسکین ته فدیه ورکوي.

د یوې روژې فدیه نیمه صاع یعني یو کیلو او نه سوه گرامه(۱۹۰۰ گرامه) غنم یا یوه صاع وربشي کیږي او یا یو مسکین به یوه ورځ په نس مړوي د یوه لمانځه فدیه هم د روژې په اندازه ده.

## د روژې نه ماتونکي

څوك چي په هيره په روژه كي خوراك
چښاك يا جماع وكړي روژه ئي نه په
ماتيږي دغه راز د وينو په كښلو د بدن په
غوړولو د سترگو په تورولو په احتلام قي
او مچي سره هم روژه نه ماتيږي ۰

څوك چي پر ځان باور نه لري هغه ته د
مچي اخيستل مكروه دي دغه ډول په ژبه
د شي څكل او بيله ضرورته كوچني ته
ډوډۍ په خوله ژوول هم مكروه دي ۰

## د روژې ماتونکي

په قصد سره خوراك چښاك او جماع كول روژه ماتوي د روژې په مياشت كې كه څوك په قصد سره خوراك چښاك او جماع وكړي يوه روژه قضاء او شپيته روژې پرله پسې د كَفَّارې باندې لازمېږي.

په قصد سره په ځان په ډكه خوله قى وهل يا خاوره ډبره مرى يا بل دا ډول شى تيرول بيله كَفّارې روژه ماتوي.

أماله كول په پزه يا غوږ كي د څاڅكو

دواء اچول او به دواء د سر او نس پر هغو

زخمو باندي اچول چي دماغ او نس ته

رسيدلي وي هم بيله كَفَّارې څخه روژه

ماتوي ٠

د پيچكارۍ په وهلو روژه نه ماتيږي خو

احتياط پدې كي دى چي د روژه مات

وروسته ئي ووهي ٠

بيله د روژې د مياشتي د روژې څخه د

نورو روژو لكه قضايي نذر او نفلي روژو

په ماتولو كَفَّاره نه لازميږي بلكي يوازي
قضاء باندي لازميږي.

څوك چي پدې خيال پيشلمی وكړي چي
سپيدې نه دي چاودلي وروسته ورته
معلومه سي چي د سپيدو وروسته ئي
پيشلمی كړی دی يا پدې خيال روژه
ماته كړي چي لمر ولیدلی دی وروسته
ورته څرگنده سي چي د وخت دمخه ئي
روژه ماته كړي ده بيله كفارې څخه به
ددغي ورځي قضاء راگرځوي.

# اِعتِکاف

د اِعتِکاف په نیت په مسجد کي دننه اوسیدلو ته شرعي اعتکاف وایي.

د نارینه اعتکاف په هغه مسجد کي صحیح کیږي چي هلته پنځه لمونځونه په جماعت سره اداء کیږي ښځه د خپل کور په هغه ځای کي اعتکاف کولای سي چي د لمانځه د پاره ئي ټاکلی وي.

نفلي اعتکاف د لږ ګړي د پاره هم صحیح کیږي لیکن واجب اعتکاف تر

يوې ورځي کم نه صحيح کيږي ځکه
چي د هغه د پاره روژه هم شرط ده که
څوك د يوې ورځي اعتکاف پر ځان نذر
کړي د اعتکاف سره به روژه هم نيسي.
د روژې د اخيرو لسو ورځو اعتکاف
کِفَايي مُؤَكَّد سنت دی يعني د محل د يوه
تن په اعتکاف کولو د نورو غاړي هم
خلاصيږي او وخت ئې د روژې پر شلمه
نيته د لمر وليدو سره سم شروع کيږي.
مُعْتَكِف خوب خوراك څښاك او سودا په

مسجد کي کولای سي خو د رانيولو او خرڅولو شی به مسجد ته نه حاضروي.

مُعْتَکِف د انساني حاجت او د جمعې د لمانځه د پاره د مسجد څخه وتلای سي خو بيرته به سمدستي مسجد ته ننوځي.

مُعْتَکِف د مريض پوښتنې ته لا هم نسي وتلای ځکه بې ضرورته يو گړی د مسجد څخه وتل اعتکاف فاسدوي.

ياران وايي : د نيمي ورځي څخه کم بې ضرورته وتل اعتکاف نه فاسدوي.

## حج

حج د اسلام ځلرمه بناء او رکن دی او په ټول عمر کښي یو وار پر هغه چا باندي فرض دی چي د کولو وسع ئي ولري. هر بالغ مسلمان چي بیت الله شریفي ته د تګ او راتګ سپرلی او سفر خرڅ ولري او دا ئي د کور او نورو ارتیاؤ او هم ئي د راتګ تر وخته پوري د عیال د خرڅ څخه اضافه وي نو پر هغه باندي حج فرض دی پدې شرط چي بدن ئي هم

جوړ وي او د حج لار په امن وي.

د ښځي د پاره په حج کي که ددې او بيت الله شريفي تر مينځ د درو ورځو پياده تګ لار وه د خپل ميړه يا مَحْرَم لکه پلار زوی وروړ وراره خورييي اکا او ماما ملګرتيا هم شرط ده.

---

(۱۳) حج پر چا باندي فرض دی؟ پر هغه مسلمان باندي چي د عيال د خرڅ څخه اضافه حج ته د تګ سپرلۍ او سفر خرڅ ولري.

(۱۴) سپرلۍ څه شي ته وايي ؟ هر شی چي حج ته پر تللای سي لکه موټر کښتۍ طياره دا که شخصي وي او که په کرايه وي.

(۱۵) څوك چي سپرلۍ او سفر خرڅ ولري ليکن مريض وي يا لار په امن نه وي يا پوليس ئي د ويزې نه درلودلو لکبله نيسي آيا پر هغه حج فرض دی ؟ هو ليکن اداء ئي ددې عذرو وروسته لازميږي.

## د حج فَضِیلَت

د رسول الله صَلَّی الله علیه و سَلَّم څخه وپوښتل سوه، کم کار تر ټولو ښه دی؟ ورته وئي ویل، پر الله او د هغه پر رسول باندي ایمان درلودل.

بیا ئې وپوښتل سوه، ددې وروسته کم کار تر ټولو ښه دی؟ ورته وئي ویل، د الله په لاره کي جهاد کول.

بیا ئې وپوښتل سوه، ددې وروسته کم کار تر ټولو ښه دی؟ ورته وئي ویل،

مَبْـرُوْر حج يعني هغه حج چي بدي خبري

فسق او جگړه نه وي پکښي سوې. (متفق عليه)

يوه عمره په بلي پسي هغه گناهونه رژوي

چي په مينځ كي ئي سوي وي او د مَبرُور

حج ثواب جنت دى جنت. (متفق عليه)

په بل روايت كي وايي: په روژه كي

عمره د حج برابر ثواب لري. (متفق عليه)

حاجيان او عمره كونكي د الله ميلمانه

دي كه دعا وكړي دعا ئي قبلوي كه

مَغْفِرَت وغواړي بخښنه ورته كوي. (ابن ماجه)

## د حج فرضونه

په حج کي لاندي دري شیان فرض دي چي بیله دغو څخه حج نه صحیح کیږي ؛

(۱) اِحْرام ترل (۲) پر عرفات دریدل

(۳) فرضي طواف کول.

## تَلْبِیَه

لَبَّیْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ ، لَبَّیْكَ لاَ شَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْكَ ، اِنَّ الْحَمْدَ وَ النِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لاَ شَرِیْكَ لَكَ.

---

(۱٦) د حج نیت په خوله څنگه ویل کیږي ؟ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ الْحَجَّ فَیَسِّرْهُ لِیْ وَ تَقَبَّلْهُ مِنِّیْ. یا الله د حج اراده مي ده ته ئي راته اسانه او راڅخه قبول کره.

## اِحْرام

څوك چي په زړه كي د حج يا عمرې نيت وكړي او وروسته ئي سمدستي تلبيه ووايي دغه ته اِحرام وايي او پدې سره حاجي او عمره كوونكئ مُحْرِم گرځي.

بيله اِحرام څخه حج او عُمْرَه نه صحيح كيږي ځكه چي اِحْرام په حج او عمره كي فرض او شرط دى.

د اِحرام په حالت كي نارينه ته د سر پټول او د گنډلو جامو لكه كميس

پرتوګ اغوستل حرام دي نو ځکه حاجي

او عمره کونکۍ د اِحرام دمخه سر لځوي

د ګندلو جامو پر ځای لونګ وهي او

دوپټه پر اوږو اچوي.

لونګ او دوپټې ته که څه هم خلګ

اِحْرام وايي خو اصلاً دا هغه کالي دي

چې مُحْرِمِ ئې اغوستلای سي لکه څنګه

چې لمونځ بیله نیت او تحریمې څخه نه

شروع کیږي دغه ډول حج او عمره بیا

بیله احرام څخه نه شروع کیږي.

# عرفات

عرفات هغه پراخ میدان ته وایي چي د کعبې شریفي جنوب ختیز خوا ته تقریباً لس کیلو متره لیري واقع دی او د هري خوا څخه ئي خپل حدود ټاکلي دي د قبلې خوا ته ئي د وادي عُرنَه مانده حد دی او دا مانده د عرفات د جمع څخه وتلی دی د مانده پر غاړه دننه په عرفات کي د نَمِرَه په نامه مسجد دی په عرفات کي د جبل الرحمه په نامه غر هم دی۰

## د عرفات وخت

د عرفات پر ميدان دريدل د حج فرض او اهم رکن دی څوك چي د عرفات پر ميدان و نه دريږي د هغه حج نه صحيح کيږي.

د عرفات ميدان خپل تاکلی وخت لري چي د هغه دمخه او وروسته هلته دريدل نه صحيح کيږي.

د عرفات وخت د ذوالحِجّې د نهم تاريخ د زَوال وروسته بيا تر لمر وليدو

پوري دى دغه وخت كه د چا خخه تير
سي د شپې لا هم دريدلاى سي شپه چي
تيره سي او صبح صادق يعني سپيدې
وچاودي د عرفات وخت ختميږي ۰
د عرفات پر ميدان دريدل دې ته وايي
چي حاجي به په دغه ټاكلي وخت كي
يو وار د عرفات ساحې ته داخليږي كه
خبر وي كه ناخبر وي كه وينس وي كه
بيده وي كه پكښي ودريږي يا كښيني يا
بيده سي يا پياده يا سپور پكښي تير سي ۰

## فرضي طواف

د طواف په نیت اوه واري پر کعبې
شریفې باندي راګرځیدلو ته طواف وايي.
په حج کي یو طواف فرض دی چي هغه
ته فرضي طواف یا طواف زیارت وايي.
فرضي طواف د لوی شیطان د ویشتلو
وروسته د اختر په اوله یا دوهمه یا دریمه
ورځ کیږي ددغو درو ورځو وروسته هم
فرضي طواف کیدلای سي.

(۱۷) د حج څو فرضونه دي ؟ درې یعني احرام پر عرفات دریدل او
طواف زیارت په دغو درو کي احرام شرط او پاته دوه رکنونه دي.

## مِیْقَات

مِیْقَات هغو ځایو ته وايي چي حاجي او عمره کونکئ به د هغو ځایو څخه بي احرامه نه تیریږي بلکي په هغو ځایو کي یا د هغو ځایو دمخه به احرام تړي.

د کعبې شریفي مسجد او شاوخوا ته حَرَم وايي حَرَم شریف هم هري خوا ته خپل تاکلي حدود لري د دغو تاکلو ځایو او د مِیقَات ځایو تر مینځ منطقې ته بیا حِل وايي.

هغه کسان چي د حَرَم په حدودو کي

دننه اوسيږي هغوی به د حج احرام د

حَرَم او د عمرې اِحرام د حِل څخه تړي،

هغه کسان چي په حِل کي اوسيږي يعني

د حَرَم د حدودو څخه دباندي بيا تر

مِيقَات ځايو پوري اوسيږي هغوی به د

حج او عمرې احرام په حِل يعني د خپلو

کورو څخه تړي.

هغه کسان چي د مِيقَات ځايو څخه

دباندي هلته په سعودي کي يا د نړۍ پر

نورو ځايو كي اوسيږي هغوی به د حج

او عمري احرام په خپلو مِيْقَات ځايو كي

يا د ميقات ځايو دمخه تړي.

د مديني منوري او د همدې خوا

ورتلونكو خلگو مِيْقَات ذوالـحُلَيْفَه ده.

د عِراق د خوا مِيْقَات ذات عِرق دی بنه

داده چي د عقيق څخه احرام وتړل سي.

د شام مصر او اَلْـمَغرب مِيقات د تَبُوْك پر

لار جُحْفَه ده جُحْفَه رابغ ته نږدې يو

ځای دی احتياط دادی چي د رابغ څخه

احرام وتړل سي.

د يمن د نجد او د حِجاز د نجد او د تِهَامه

د نجد ميقات قَرْن دی.

بيله يمني نجد څخه د نورو يمنيانو د پاره

بيا ميقات يَلَمْلَم دی.

دا ځايونه دديٰ وطنو او دهمديٰ خواؤ

څخه د ورتلونکو د پاره مِيقاتونه دي.

څوك چي د درياب يا وچي پر بله لار

ورځي دديٰ ميقاتو څخه چي د هر ميقات

برابر ته ورسيږي هغه ئي ميقات دی.

## د حج وخت او ډولونه

شَوّال ذوالْقَعْدَه او اولي لس ورځې د ذوالحِجّې د حج زماني ميقات دی ددې وخت دمخه بيله احرام څخه د حج نور عملونه نه صحيح کيږي.

حج پر درو طريقو اداء کيږي:

(۱) اِفْرَاد (۲) تَمَتُّع (۳) قِرَان.

د اِفْرَاد حج کونکي ته مُفْرِد وايي د تَمَتُّع حج کونکي ته مُتَمَتِّع وايي د قِرَان حج کونکي ته قَارِن وايي.

## اِفْرَاد

د اِفْرَاد حج پدې ډول اداء کیږي ،

(۱) د میقات یا د هغه څخه وړاندي اِحْرَام تړل کیږي مخته مو ولوستل چي اِحرَام نیت او تلبیي ته وایي .

د احرام دمخه به اودس یا غسل کوي لُونګ به وهي دوپټه به پر ځان اچوي پر بدن به عطر وهي که وخت مکروه نه ؤ په پټ سر به دوه رکعته نفل کوي د نفلو وروسته به سر لـڅوي په زړه کي به د

حج نیت کوي او په خوله به ئي هم داسي وايي:

اَللّٰهُمَّ اِنّی اُرِیْدُ الْحَجَّ فَیَسِّرْهُ لِیْ وَ تَقَبَّلْهُ مِنِّیْ. ترجمه: یا الله! ما د حج اراده کړې ده ته ئي راته اسانه کړه او ته ئي راڅخه قبول کړه.

د نیت وروسته به سمدستي په زوره تلبیه وايي: لَبَّیْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ، لَبَّیْكَ لاَ شَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْكَ، اِنَّ الْحَمْدَ وَ النِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ، لاَ شَرِیْكَ لَكَ.

اوس نو دی مُحْرِم وگرځيدی د هغو
شيانو څخه به ځان ساتي چې د اِحْرَام په
حال کې ورته ناجايزه دي لکه:
خوشبويي صابون شامپو او عطر وهل
گنډلي جامې اغوستل بوټونه په پښو کول
سر او مخ پټول نوکان او وریښتان غوڅول
کول د وحشي مرغانو او حيوانانو ښکار
کول شپږه او ملخ وژل جماع کول په
خوند مچه اخيستل بدي خبري ښکنځل
او جنگ کول او داسي نور.

محرم به تلبيه ډيره وايي ځکه چې تلبيه محرم ته تر نورو ذِکرو ښه ده نارينه به تلبيه په زوره او ښځه به ئي قراروايي .

## طواف قُدُوم

مکي شريفي ته چي ورسيږي پر بيت الله شريفي به طواف کوي و دغه اول طواف ته طواف قُدُوم وايي او دا پر اٰفاقي يعني د مکي دباندي خلگو باندي سنت دی .

پر بيت الله چي ئي نظر ولگيدی لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَکبَرُ به وايي .

## اِضْطِبَاع

د طواف د مخه به راسته اوږه لڅوي و دغه ته اِضْطِبَاع وايي اِضْطِبَاع په هغه طواف کي کيږي چي وروسته ئي د صفا او مروا سَعی کيږي.

## د طواف نيت

دغه ډول د طواف د شروع کولو دمخه به په زړه کي د طواف نيت هم کوي ځکه بيله نيت څخه که څوك پر بيت اللّٰه شريفي راوګرځي هغه ته طواف نه وايي.

## اِسْتِلاَم

د نیت وروسته به حجراسود ته مخامخ

دریږي لاسونه به د تحریمې په شان تر

غوږو یا اوږو پورته کوي طواف به د

حجر اسود په اِسْتِلاَم شروع کوي.

اِسْتِلاَم دې ته وايي چې حجر اسود مچ

کړي که د مسلمانانو د تکلیف او آزار

لامله ئې داسي نسواى کولاى بیا به لاس

یا بل شی وروړي هغه به مچ کوي که

داسي هم مسلمانان ځني زورول کیدل بیا

به د هر ځای څخه چي و کولای سي په
اشاره استلام کوي یعني د لاسو د پورته
کولو وروسته به د حجر اسود خوا ته
لاسونه پدي ډول لکه پر هغه چي ئي
ایږدي ورکښته کوي او بیا به خپل
لاسونه د ورغو لخوا مچوي.

د استلام په وخت کي به بِسْمِ اللهِ وَ اللّٰهُ
اَکْبَرُ و لِلّٰهِ الحَمْدُ وَ الصَّلوٰةُ وَ السَّلَامُ
عَلیٰ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَ سَلَّمَ هم
وایي.

د اِسْتِلام وروسته به پر بيت الله باندي اوه

واري راګرځي حَطِيْم به هم په طواف

کي راولي يو وار راګرځيدلو ته شَوْط

وايي اوه شَوْطه يو طواف کيږي.

## رَمَل

په اولو درو شوطو کي به رَمَل کوي

يعنې د پهلوانی په ډول به اوږې ښوروي

په چټکتيا سره به لنډ لنډ درانه ګامونه

اخلي او په پاته څلورو شَوطو کي به په

عادي تګ ځي رَمَل هم يوازي په هغه

طواف كي كيږي چي وروسته ئي د صفا
او مروا سعى كيږي٠
په طواف كي هر وار چي حجر اسود ته
رائحي استلام به ئي كوي او اووم شوط به
هم په استلام پای ته رسوي٠

## په طواف كي دعاوي

په طواف كي به دعاوي كوي ځكه چي
د قبليدو ځای ئي دی طواف ځان ته
تاكلي دعاوي نه لري البته نبي عليه السلام
د ركن يماني او حجر اسود تر مينځ رَبَّنَا

اٰتِنَا فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ویل په طواف کي ذکر او قرائت هم ویل کیدلای سي او په پټه خوله سره هم کیدلای سي.

## د طواف لمونځ

د هر طواف وروسته دوه رکعته لمونځ واجب دی دغه ته د طواف واجب وايي د طواف وروسته به مقام ابراهیم ته نژدې یا هر چیرې چي وکولای سي دوه رکعته د طواف واجب کوي.

## د صفا او مروا سَعْي

د طواف د دوو رکعتو واجبو وروسته به سَعي کوي د صفا او مروا تر مینځ تګ او راتګ ته سَعْي وايي د صفا څخه مروا ته تګ یو شَوْط بلل کیږي د مَرْوَا څخه بیرته و صفا ته راتګ بل شوط بلل کیږي اوو شَوطو ته سَعْي وايي سعي په حج او عمره کي واجب ده سَعي د صفا څخه شروع کیږي پر مروا باندي ختمیږي ۰

د صفا او مروا تر مینځ تګ او راتګ بیله

شنو میلانو ښځه په عادي تګ کیږي د
شنو میلانو تر مینځ به ښځه په عادي تګ
او نارینه به په چټکتیا سره ځي.

د صفا او مروا دعا

هر وار چي صفا او مروا ته پورته کیږي
مخ به کعبې شریفي ته دریږي لاسونه به
د دعا په شان پورته کوي تکبیر تحمید
تهلیل او درود به وایي د ځان او نورو
مسلمانانو د پاره به دعاوي کوي هر ډول
دعا چي ئې زړه وي هغه به کوي صفا او

مروا هم ځان ته تاکلي دعاوي نه لري .
حاجي مُفْرِد به د صفا او مروا د کولو
وروسته په مکه مکرمه کي په اِحرام کي
اوسیږي هر وخت چي ئي زړه غوښتی پر
بیت الله شریفي دي بیله اضطباع او رَمَل
ځخه نفلي طوافونه کوي .

## د اتم ورځ

د ذوالحجي اتمي ورځي ته یوم تَرْوِیَه وایي
د ترویي په ورځ د لمرختو وروسته به
ټول حاجیان و منیٰ ته ځي .

## مِنیٰ

مِنیٰ د بیت الله شریفي ختیز خوا ته تقریباً
درې کیلو متره لیرې د دوو غرو تر مینځ
دوه کیلو متره اوږده دره ده د درې په سر
کې یو ښلی دي د هغه وروسته دوهم
ښلی دی او د هغه وروسته دریم ښلی
دی دې ښلو ته شیطانان وایي اول ښلي
ته غټ شیطان یا جَمرَةُ العَقَبَه هم وایي.
دمنیٰ ساحه د قبلې د خوا ددغه غټ
شیطان څخه شروع کیږي د دریم شیطان

وروسته يو مسجد دی چي هغه ته مسجد خَيْف وايي د مِنیٰ په اخیر.کي یو مانده دی چي د مُحَسِّر په نامه یادیږي پر دغه مانده د منیٰ ساحه ختمیږي د مانده هغه خوا ته د مزدلفې ساحه شروع کیږي ۰

## عَرَفَات

د اتم په ورځ چي حاجیان منیٰ ته راسي شپه په منیٰ کي تیروي د سهار د لمانځه وروسته چي لمر راوخیږي یعني د ذوالحِجّي پر نهم تاریخ چي یَوْم عَرَفَه

ورته وايي تول حاجيان و عرفات ته ځي.

د عرفات وخت د زَوال وروسته شروع

کيږي د عرفات د پاره غسل مستحب

دی د زَوال وروسته به د لمانځه د پاره

مسجد نَمِرَه ته ځي.

خطبه

د ماپښين د اذان وروسته امام دوې

خطبې وايي د خطبې وروسته اقامت

کيږي د ماپښين لمونځ کيږي د ماپښين د

لمانځه وروسته سمدستي بيا اِقامت کيږي د

مازیگر لمونځ د ماپښین په وخت کي

اداء کیږي په دوارو لمونځو کي قرائت

قراروېل کیږي.

د لمانځه وروسته بیا تر لمر ولیدو پوري

هر سړی په دعا ذکر او عبادت اخته

کیږي او هر یو خپل رب ته ژړا او زاری

کوی په عرفات کي دعاوي قبلیږي.

اِفَاضَه

د لمر ولیدو وروسته د مزدلفي خوا ته

تګ ته اِفَاضَه وایي لمر چي ولویږي د حج

امير د عرفات څخه مزدلفې ته حركت

كوي خلگ به هم د مزدلفې په خوا

روانيږي په دغه ورځ د ماښام لمونځ په

خپل وخت كي نه اداء كيږي بلكي

مزدلفې ته چي ورسيږي هلته د ماخستن

په وخت كي اول د ماښام لمونځ اداء

كيږي بيا د ماخستن لمونځ اداء كيږي.

## مزدلفه

تول حاجيان شپه په مزدلفه كي تيروي په

مزدلفه كي شپه تيرول سنت ده مزدلفه د

عرفات او منیٰ تر مینځ ده مزدلفې ته

مَشْعَر حَرَام هم وايي هلته يو مسجد دی

چي د مَشْعَر حَرَام مسجد ورته وايي۰

## د مزدلفې دريدل

په مزدلفه کي د سهار لمونځ وختي په

تاريکه کي اداء کيږي د لمانځه وروسته

بيا چي لمر لا نه وي راختلی دا د مزدلفې

د دريدو وخت دی او دا واجب دی په

دغه وخت کي هم دعاوي کيږي ځکه

چي د قبليدو وخت او ځای ئي دی۰

## غټ شیطان

د اختر په ورځ یعني په لسم تاریخ چې لمر لا نه وي راختلی حاجیان د مزدلفې څخه د منیٰ وخوا ته حرکت کوي.

اویا میده شګې د مزدلفې یا بل ځای څخه د ځان سره اخلي.

حاجي که وکولای سي د وادي مُحَسِّر څخه دي په چټکتیا وځي.

په دغه ورځ یوازي جَمْرَةُ الْعَقَبَة یعني غټ شیطان اوه میده ډبري ویشتل کیږي.

## تلبیه ختمول

د غټ شیطان د ویشتلو سره سم تلبیه ختمیږي نوره نه ویل کیږي،

## سرخرول

حاجي مُفْرِد د غټ شیطان د ویشتلو وروسته سر څروي یا ئي کوچنی کوي او پدې سره حلالیږي یعني د احرام څخه وځي بیله ښځي څخه نور د احرام بندیزونه ځني پورته کیږي،

---

(۱۸) آیا مُتَمتِّع او قارن هم د غټ شیطان د ویشتلو وروسته سرخروي ؟ یا هغوی به اول قرباني کوي بیا به سر خروي،

# فرضي طواف

د غتې شيطان د ويشتلو وروسته چې
حاجي سر وخروي بيا به په همدغه ورځ
يا سبا يا بل سبا حرم شريف ته ځي هلته
به د فرضي طواف په نيت بيله رَمَل او
اِضْطِباع څخه د طواف قدوم په شان
طواف كوي بيا به دوه ركعته واجب
كوي پدې طواف سره د ښځې بنديزونه
هم د محرم څخه ليري كيږي او بيرته به د
شپې تير د پاره منیٰ ته ځي ٠

## د اختر دوهمه ورځ

د اختر دوهمه ورځ چې د ذوالحِجّې
یوولسم تاریخ کیږي د زَوال وروسته
درې سره شیطانان ویشتل کیږي.
اول مسجد خَیْف ته نژدې کوچنی
شیطان اوه دبري د بسم الله الله اکبر د
ویلو سره سم ویشتل کیږي د ویشتلو
وروسته به د قبلې خوا ته دریږي دعاوي
به کوي ځکه چې دا د اِجابت یعنې د
دعاؤ د قبلیدو وخت دی.

بیا مینځنی شیطان اوه دبري ویشتل کیږي
وروسته ئي دعاوي کیږي بیا غټ شیطان
اوه دبري ویشتل کیږي د غټ شیطان
وروسته هلته د دعا د پاره نه دریږي۰

د اختر دریمه ورځ

د اختر په دریمه ورځ هم د زوال وروسته
دري سره شیطانان هر شیطان اوه اوه
دبري ویشتل کیږي۰
معذورین د هري ورځي شیطانان په
راتلونکي شپه کي هم ویشتلای سي۰

د كال په نورو ورځو كي تيره شپه د نن ورځي په جمع كي شميرل كيږي ليكن په حج كي بيا راتلونكې شپه د نن ورځي په جمع كي شميرل كيږي.

د اختر په اوله ورځ غټ شيطان او په دوهمه او دريمه ورځ درې سره شيطانان ويشتل واجب دي.

## د اختر څلرمه ورځ

د اختر د څلرمي ورځي ويشتل اختياري دي كه نه ئي ويشتل په دريمه ورځ يا د

ورپسې شپې د سپيدو دمخه به د منیٰ څخه

وځي ځکه د سپيدو وروسته که په منیٰ ؤ

ددې ورځې ويشتل هم باندې واجبيږي .

په څلرمه ورځ هم د نورو ورځو په شان

پسله زواله درې سره شيطانان هر يو اوه

اوه ډبرې ويشتل کيږي او په همدې سره

د منیٰ ورځې ختميږي .

## طواف صَدَر

اوس نو پر حاجي باندې د حج د

مَنَاسِکو څخه يو طواف صَدَر يا طواف

وَداع يعني د رخصت طواف پاته دی او دا واجب دی.

حاجي صاحب هر وخت نفلي طوافونه کولای سي په اخره ورځ چي د مکې شريفي څخه ځي يو طواف به د طواف وَداع په نيت کوي که څوك بيله طواف وَداع ولاړ سي ليکن د فريضي طواف وروسته ئي نفلي طواف کړی وي هغه طواف ئي په طواف وَداع کي حسابيږي د ښځي په عذر طواف وَداع ساقطيږي.

## عمره

عمره بیله پنځو ورځو څخه نور په ټول کال کي جایز ده.

د عرفات په ورځ د لوی اختر په اوله دوهمه دریمه او څلرمه ورځ چي ټوله پنځه ورځي کیږي عمره مکروه ده.

د حَرَم، حِل او د میقات اوسیدونکو ته د حج په موسم یعني شوّال ذوالقَعْده او د ذوالحِجي په اوِلو لسو ورځو کي عمره مکروه ده که همدا کال ئي حج کوی.

## د عمرې طريقه

په عمره کې هم احرام فرض دی.

د عمرې احرام بيله نيت ښخه نور کټ

مټ د حج په شان ترل کيږي يعنې د

نظافت غسل او خوشبويي وروسته لُونګ

وهل کيږي دوپټه پر اوږو اچول کيږي.

ښځه به د حج او عمرې په احرام کې

خپل ګنډلي کالي اغوندي دغه ډول

دستکلې جرابې او موزې هم په پښو

کولای شي د ښځې سر بايد په احرام

کي پټ وي يعني داسي پوړنى ئي بايد پر
سر وي چي وريښتان ئي نه تر ليدل
کيږي د ښځي احرام يوازي په مخ کي
دى يعني مخ به نه پټوي که يو تو کر پر
مخ وځروي پدي ډول چي د مخ څخه
ئي بيل وي بيا هم پروا نه لري خو
پوړنى ئي بايد د مخ څخه ليري وي.
د دوو رکعتو نفلو وروسته په زړه کي د
عمرې نيت کيږي په خوله هم داسي
ورسره ويل کيږي : اَللّٰهُمَّ اِنِّى اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ

فَيَسِّرْهَا لِيْ وَ تَقَبَّلْهَا مِنِّي ترجمه : يا الله !
ما د عمري اراده كړې ده ته ئي راته
اسانه كړه او راڅخه قبوله ئي كړه.
د نيت وروسته سمدستي نارينه په لوړ اواز
او ښځه قرار تلبيه وايي : لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ
لَبَّيْكَ لاَ شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، اِنَّ الْحَمْدَ وَ
النِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ ، لاَ شَرِيْكَ لَكَ.
په نيت او تلبيه سره محرم ګرځي د احرام
د ممنوعاتو څخه به ځان ساتي.
مكې شريفې ته چې ورسيږي اول به پر

بیت الله شریفي یو طواف یعني اوه واري راګرځي دا طواف په عمره کي فرض دی د عمرې په طواف کي اِضْطِبَاع او رَمَل دواړه کیږي بیا به دوه رکعته د طواف واجب کوي په طواف پسي د زَمْزَم اوبه چښل مستحب دي.

بیا به سعي د صفا څخه شروع کوي په مروا به ئي ختموي سعي په عمره کي هم واجب ده د سعي وروسته د سر خریل یا ئي کوچنی کول واجب دي د سر په

خریلو عمره پای ته رسیږي د احرام

بندیزونه پورته کیږي.

ښځه به د حج او عمري د احرام څخه د

حلالیدو د پاره د ګوتي د بند په اندازه د

تول سر وریښتان کوچني کوي که د سر

د ځلرمي برخي څخه کم وریښتان

کوچني کړي د احرام څخه نه حلالیږي.

ددې وروسته دي څوني چي کولای سي

نفلي طوافونه کوي د هر طواف وروسته

دوه رکعت لمونځ واجب دی.

# تَمَتُّع

د تَمَتُّع حج دوه ډوله دی يو قسم يې دادی چې د قرباني حيوان د ځان سره بيايي او بل قسم يې دادی چې قرباني د ځان سره نه بيايي.

دلته د دوهم قسم په هکله ږغيږو مخته مو د اِفراد حج او هم د عمرې طريقه زده کړل تمتع دې ته وايي چې د حج په موسم کي اول يوازي عمره را وړل کيږي يعني حاجي چې مکې شريفي ته ځي

يوازي د عمرې په نيت احرام تړي مكې

شريفي ته چي ورسيږي اول د عمرې

طواف كيږي بيا ئي سعي كيږي وروسته

ئي سر خريل كيږي.

د سر خريلو وروسته حلاليږي هر وخت

چي وغواړي نفلي طوافونه كولاى سي د

اٰفاقي يعني غيرمكي د پاره تر نفلي لمونځو

طوافونه ډير ثواب لري.

د اتم په ورځ يا د اتم د ورځي ډمخه د

مسجد حرم يا حرم څخه د حج په نيت

احرام ترل کيږي بيا مِنیٰ ته ځي د همدې
ورځي د ماپښين مازيګر ماښام ماخستن
لمونځونه او د سبا سهار لمونځ په منیٰ
کي اداء کيږي .

پر نهم تاريخ يعني د عرفات په ورځ د لمر
ځرك وروسته د منیٰ څخه عرفات ته ځي
په عرفات کي د زَوال وروسته په مسجد
نَمِرَه کي دوې خطبې ويل کيږي بيا د
ماپښين او وروسته د مازيګر لمونځ په
جماعت سره اداء کيږي .

امام صاحب وايي، که چا يوازي لمونځ
کوی هغه به د مازيگر لمونځ په عرفات
کي د مازيگر په وخت کي اداء کوي.
د لمانځه وروسته تر لمر وليدو پوري په
عرفات کي پاته کيږي بيا مزدلفي ته ځي
د مابنام لمونځ په مزدلفه کي د ماخستن
دمخه د ماخستن په وخت اداء کيږي.
د سهار د لمانځه وروسته په مزدلفه کي
دعاوي کيږي د لمر څرک دمخه منیٰ ته
ځي په همدې ورځ يوازي لوی شيطان

اوه دبري د زَوال دمخه ويشتل کيږي.

قرباني

د لوى شيطان د ويشتلو وروسته مُتَمَتِّع د مُفْرِد په شان سمدستي سر نسي خريلاى ځکه چي پر مُتَمَتِّع باندي قرباني واجب ده د لوى شيطان د ويشتلو وروسته به قراباني کوي يعني پسه يا بزه يا د اوښ يا غوايي اومه برخه به قرباني کوي.

بيا به طواف زيارت کوي او وروسته به ئي سعي کوي په دوهمه او دريمه ورځ به

د زوال وروسته درې سره شیطانان ولي د

څلرمي ورځي د شیطانانو په ویشتلو کي

اختیار لري دغه دوې یا درې شپې په منیٰ

کي تیرول سنت دي.

بیا به مکي شریفي ته ځي په اخیره ورځ

به طواف وَداع کوي پر همدې ځای د

تمتع حج هم پای ته رسیږي.

بیا به په ډیر ادب د رسول الله صَلَّی الله

علیه و سلم زیارت ته ځي د حرمینو د

زیارت وروسته به وطن ته ستنیږي.

## قِران

زموږ په مذهب کي قِران تر تَمَتُّع افضل دی او د تمتع حج بیا تر اِفراد افضل دی.

د مکې شریفي د اوسیدونکو د پاره قِران او تمتع مکروه دي.

قِران په دې ډول اداء کیږي:

د میقات یا د میقات څخه وړاندي د حج او عمرې په نیت یو ځایي احرام تړل کیږي یعني په زړه کي د حج او عمرې نیت کیږي په خوله هم داسي ورسره ویل

کیږي . اَللّٰهُمَّ اِنِّی اُرِیْدُ الْحَجَّ وَ الْعُمْرَةَ

فَیَسِّرْهُمَا لِیْ وَ تَقَبَّلْهُمَا مِنِّیْ . ترجمه : یا الله

ما د حج او عمرې اراده کړې ده ته ئې

راته اسانه کړه او راڅخه قبول ئې کړه .

قارن چې مکې شریفې ته ورسیږي اول به

د عمرې طواف کوي بیا به د عمرې

سعې کوي د سعې وروسته به سر نه

خریي بلکې په احرام کې به پاته کیږي پر

همدې ځای ئې عمره پای ته رسیږي

وروسته به د طواف قدوم په نیت طواف

کوي طواف قدوم پر مُفْرِد او قارِن باندي سنت دی پر متمتع باندي طواف قدوم نسته د طواف وروسته دوه رکعته واجب اداء کيږي.

قارن په احرام کي پاته کيږي هر وخت چي وغواړي نفلي طوافونه کولای سي.

قارن به هم د مُفْرِد او مُتَمَتِّع په شان د اتم په ورځ منیٰ ته ځي سبا سهار به د منیٰ څخه عرفات ځي د لمر وليدو وروسته به د عرفات څخه مزدلفې ته راځي د ماښام

لمونځ به په ماخستن کي کوي سبا سهار

به د لمر ځرك دمخه بيرته منیٰ ته ځي لوی

شيطان به ولي د هغه وروسته به د متمتع

په شان قرباني کوي بيا به سر خريي بيا

به طواف زيارت کوي د طواف زيارت

وروسته به سعي کوي۰

سبا او بل سبا به درې سره شيطانان تر

زَوال وروسته ولي د ځلرمي ورځي ويشتل

دده په اختيار کي دي بيا مکې شريفي ته

ځي هر وخت چي د مکې شريفي څخه

ځي طواف صَدَر به کوي.

په حج کي يو وار د صفا او مروا سعي واجب ده او د طواف زيارت وروسته اداء کيږي خو مُفْرِد او قارن ئي د طواف قدوم وروسته هم کولای سي.

مُتمتع چي د حج احرام وتړي که سعي ئي د طواف زيارت دمخه کول نو اول به نفلي طواف کوي د هغه وروسته به د صفا او مروا سعي کوي ځکه چي سعي بيله طواف څخه نه صحيح کيږي.

## جنايات

لاندي شيان مُـحرِمِ ته حرام دي :

(۱) عطر يا خوشبويي وهل (۲) گندلي كالي اغوستل (۳) سر يا مخ پټول (۴) بوټونه يا موزې په پښو كول (۵) سر يا د بدن د يو بل ځاى وريښتان خريل (٦) نوكان اخيستل (۷) د خپلي ښځي سره جماع كول يا په شهوت او خوند سره لاس پر تيرول يا ئي مچول (۸) ښكار كول يا ئي حلالول .

## دَم

دلته د دَم څخه مراد پسه یا بزه یا د غوایي یا اوښ اومه حصه قرباني کول دي په لاندي شیانو سره دم لازمیږي:

(۱) ډیر عطر وهل یا پوره اندام خوشبویه کول (۲) پوره ورځ گنډلي کالي اغوستل (۳) پوره ورځ سر پټول (۴) پوره ورځ بوټونه یا موزې په پښو کول (۵) توله سر یا د سر څلرمه برخه خریل (٦) د لاس یا د پښي پنځه نوکان یا د پنځو څخه زیات

نوكان غيچي كول (۷) په شهوت او

خوند سره پر ښځي لاس تيرول يا ئي

مچول .

## صدقه

د لاندي شيانو په كولو صدقه يعني نيمه

صاع (۱۹۰۰ گرامه) غنم يا يوه صاع

(۳۸۰۰ گرامه) وربشي خيراتول لازميږي ؛

(۱) لږ عطر وهل يا تر يوه اندام كم

خوشبويه كول (۲) تر يوې ورځي كم

گنډلي كالي اغوستل (۳) تر يوې ورځي

کم سر یا مخ پټول (۴) تر یوې ورځې

کم بوټونه یا موزې په پښو کول (۵) د

سر د څلرمې برخې څخه کم خریل یا

ئې کوچنی کول (٦) د لاس یا د پښې یو

نوك غیچې کول که دوه یا درې یا څلور

نوکان غیچې کړي بیا پر هر نوك باندي

صدقه یعنې نیمه صَاع غنم لازمیږي ٠

د شپږې یا ملخ په وژلو کې د یوې دانې

خرما صدقه کې کفایت کوي ٠

---

(۱۹) په قصداً بیله عذره جنایت کولو څه شی لازمیږي ؟ جزا او گناه ، گناه ئې په توبه رژیږي جزا ئې په دم یا صدقه اداء کیږي ٠

## جماع كول

څوك چي د عرفات دمخه جماع وكړي د هغه حج فاسديږي ليكن هو د نورو حاجيانو په شان به د حج مناسك پر ځاى كوي بل كال به ئي قضاء راوړي.

څوك چي د عرفات وروسته جماع وكړي د هغه حج صحيح دى ليكن اوښ يا غويي به حلالوي.

د سر د خريلو وروسته د طواف زيارت دمخه د جماع په كولو پسه لازموي.

عمره کونکي که د طواف دمخه جماع

وکړي عمره ئي فاسديږي قضاء او پسه

باندي لازميږي ليکن د عمرې طواف او

سعي به کوي که څه هم فاسده ده ځکه

چي بيله مُحصَر څخه بل محرم د حج يا

عمرې د مناسکو يعني اَعمالو د پر ځاى

کوله څخه پرته د احرام څخه نه

حلاليږي د سر په خريلو محرم هغه وخت

حلاليږي چي د حج يا عمرې مناسك ئي

پر ځاى کړي وي د حج او عمرې د

مناسکو دمخه چي هر څو واري سر وخريي بيا هم دی محرم بلل کیږي.

بنکار کول

د وحشي مرغانو او وحشي حیوانانو بنکارول یا ئي بل بنکاري ته وربنول محرم ته ناجایزه دي.

محرم که وحشي مرغه یا وحشي حیوان حلال کړي نو هغه مردار دی.

محرم چي بنکار وکړي په هماغه منطقه کي یا نژدې شاوخوا کي چي ددې مرغه

يا حيوان څوني قيمت ؤ هغوني فديه پر
لازميږي که په قيمت ئي قرباني کيدل نو
بيا اختيار لري قرباني کوي او که غنم په
رانيسي نيمه نيمه صاع و مسکين ته
ورکوي.

## فصل

محرم ته د ماهيانو نيول جايز دي دغه
ډول د پسه بزې غوايي اوښ چرگي
کورنۍ هيلۍ يعني کورني مرغانو او
حيوانانو حلالول هم ورته جايز دي.

## بي اودسه طواف كول

طواف قدوم يا بل هر نفلي طواف كه څوك بي اودسه وكړي صدقه يعني دري نيمي صاع (۱۳ كيلو او ۳۰۰ گرامه) غنم باندي لازميږي او كه په جنابت كي ئي وكړي بيا يو پسه باندي لازميږي.

ليكن كه طواف بيرته د سره په اوداسه را وگرځوي بيا صدقه او پسه ځني ساقطيږي.

څوك چي طواف زيارت بي اودسه

وكړي پر هغه باندي پسه لازمېږي او كه

په جنابت كي ئي وكړي بيا اوبڼ يا

غوايي باندي لازمېږي كه طواف بيرته د

سره په اوداسه راوګرځوي بيا پسه او

اوبڼ ځني ساقطېږي ٠

څوك چي طواف صَدَر بې اودسه وكړي

درې نيمي صاع غنم باندي لازمېږي او

كه په جنابت ئي وكړي بيا پسه باندي

لازمېږي په بيرته راګرځولو سره ئي

صدقه او پسه ځني ساقطېږي ٠

## د واجبو پرینبول

بیله عذره د حج او عمرې د واجباتو څخه یو واجب پرینبول هم جنایت بلل کیږي فدیه په لازمیږي لکه:

(۱) د عرفات د میدان څخه د لمر ولیدو دمخه وتل (۲) د مزدلفې څخه د سهار د سپیدو دمخه وتل یعني د مزدلفې دریدل پرینبول (۳) په اوله ورځ لوی شیطان نه ویشتل (۴) د شیطانانو ویشتل پرینبول (۵) د صفا او مروا سعي نه کول (٦)

طواف صدَر پرېښول دا ټول جنايتونه دي

پر هر جنايت ئې پسه لازمېږي.

د اختر په ورځو کې سرخرېل او طواف

زيارت کول د امام صاحب په نزد واجب

دي که څوك د سرخرېل د اختر د درېمي

ورځې څخه وځنډوي نو پر هغه باندي

پسه لازمېږي دغه ډول که طواف زيارت

د اختر درېمي څخه وځنډوي پر هغه

باندي هم پسه لازمېږي ليکن ياران وايي

پدې دوو صورتو کې پسه نه لازمېږي.

# اِحْصَار

اِحْصَار بند پاته کیدلو ته وايي څوك چې د حج يا عمرې احرام وتړي او بيا ئې دښمن يا مرض و بيت الله شريفي ته د تګ مخه ونيسي يا ئې په پاسپورت کې مشکل پيښ سو بيت الله شريفي ته نسواى تلاى نو دا نفر مُحْصَر دى.

مُحْصَر به حرم شريف ته پسه ليږي يا به هلته بل څوك امر کوي چې دده د طرفه د حرم په حدودو کې دنته پسه حلال

کړي د پسه د حلالولو د پاره به ورځ

تاکي هغه تاکلي ورځ چي راسي بيا محرم

کولای سي چي سر وخريي ځکه چي د

قرباني وروسته د احرام څخه حلاليږي.

قارن به دوه پسونه ليږي.

ياران وايي : د حج د مُحصَر قرباني د اختر

د اولي ورځي دمخه نه صحيح کيږي.

د عمرې پر محصَر باندي د يوې عمرې

قضاء او د حج پر محصر باندي د يوې

عمرې او حج قضاء لازميږي.

## وروسته يې دوهم ټوک د نکاح د مسائلو څخه پيليږي.

د يادني وړده . چې د فقه المبتدي دوهم ټوک نکاح د څلورمې ټولګۍ او دريم ټوک معاملات يې د پنځمې ټولګۍ او څلورم ټوک قضاء او ميراث يې د شپږمې ټولګۍ د فقه د مضمون د پاره په نظر کې نيول سوي دي .

و ماتوفقي الا بالله و لاحول و لا قوة الا بالله العلي العظيم .

الحمد لله د فقه المبتدي د اول جلد تاليف د ۱۴۲۱ کال د جمادي الالي په مياشت کې ، چې د ۱۳۷۹ کال د سنبلې د مياشتې سره سمون خوري بشپړ سو .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ
وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ .

و صلي الله على نبينا و اله و اصحابه
و من تبعهم باحسان الى يوم الدين ( امين )

## د مولوي محمد عمر خطابي نور مفيد تدريسي کتابونه

- د حج ښه ملګرئ ( پښتو مناسک )
- همسفر حج ( دری مناسک )
- **معرفة الحديث في مصطلح الحديث**. ( د وړې دورې او د احاديثو د لوی دورې د طلباؤ د پاره د اصول الحديث د لنډ مهالي دورې تدريسي کتاب )
- د فضيلت پګړۍ . ( د احاديثو د دورې د نصاب د کتابونو او د هغو د مؤلفينو لنډه پېژندنه )
- تمهيدالقدوري . ( **تدريسي کتاب** )
- تمهيد الصرف . ( **تدريسي کتاب** )

# فقه المبتدي

- اول ټوک : عبادات . ( چاپ )
- دوهم ټوک : نکاح . ( چاپ )
- دريم ټوک : معاملات . ( چاپ )
- څلرم ټوک : قضاء او ميراث ( نا چاپ )


**د مدرسو او تعليمي ادارو لپاره د اول او دوهم صنف د عام مشترک نصاب کتابونه لکه :**


- تعليم القران .
- اسلاميات .
- ادبناک هلک .
- د ليک مشق .
- حساب .
- هداية الاطفال .
- تاديب الاطفال .
- د ليکني مواعظ .
- حساب .


# فقه المبتدي


فقه المبتدي په پښتو ژبه
د فقهي مسائلو د زده کړې
لپاره په څلورو جلدونو
کې ترتیب سوی تدریسي
کتاب دی .

لومړی ټوک : عبادات یې په
دریمه ټولګۍ کې ،
دوهم ټوک : نکاح یې په
څلورمه ټولګۍ کې ،
دریم ټوک : معاملات یې په
پنځمه ټولګۍ کې
او
څلورم ټوک : قضا او میراث
یې په شپږمه ټولګۍ
کې تدریسیږي.




د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا :
www.taleemulislam-radio.com